المرصاد خپروندویه اداره

ALMERSAAD

# د کتاب ځانګړنې


د کتاب نوم: فکري ارمغان

لیکوالان: بېلابېل

موضوع: د داعشي خوارجو رد ، دیني، سیاسي،

جهادي او دېته ورته نور مختلف او بېلابېل موضوعات

ژبه: پښتو

ګڼه: لومړۍ

وړاندې کوونکې: المرصاد خپرندویه اداره


ALMERSAAD

# فرامغزیان

په معاصره نړۍ په ځانګړې توګه په اسلامي هېوادونو کې د روانو سیاسي حالاتو، د مسلمانانو په وړاندې د نړۍوالو کفري او صلیبي قوتونو له لوري د پلان شویو شومو پلانونو، احتمالي پېښو، ننګوونو، رقابتونو، معاصرو فتنو، داعشي خوارجو او همداراز د نورو نویو باطلو پدیدو، افکارو او خوځښتونو په اړه

د بېلابېلو اسلامپالو لیکوالانو، جیدو دیني علماوو، محللینو او شنوونکو د مختلفو دیني، تاریخي او سیاسي څېړنو، تحقیقاتو، مقالو او آثارو

## ټولګه

لومړی ګڼه

# لیکلړ


۱ د المرصاد مهالنۍ تبصره ۱
۲ د مسکو د برید په اړه د غرب بېړنۍ ادعاوې ۱
۳ لومړی فصل ۳
۴ د امت نومیالي ۳
۵ د اتل شهید شېرعلي (صابرکوچي) تقبله الله ژوند او جهادي کارنامو ته لنډه کتنه ۴
۶ د شهید نورالرحمن (عبدالله) ژوند او جهادي کارنامو ته لنډه کتنه ۸
۷ دویم فصل ۱۰
۸ خوارج العصر ۱۰
۹ خارجي و افراطي فکر او جهادي تحریکات ۱۱
۱۰ خوارج (داعش) د تاریخ په اوږدو کې ۳۲
۱۱ د دجال لښکر به هم د بغدادي د لښکرو په شان احمقان وي ۴۸
۱۲ جعلي خلافت ۵۰
۱۳ د امت باطلې فرقې ۵۲
۱۴ درېیم فصل ۵۵
۱۵ دیني او جهادي لیکنې ۵۵
۱۶ تصوف؛ الله تعالیٰ جل جلاله ته د رسېدو لنډه لار! ۵۶
۱۷ ژمی؛ د عبادت او ایثار موسم ۵۸
۱۸ ولې مو په لمونځ کې خشوع نشته؟ ۶۰
۱۹ د یوه صحابي د واده ایمان زیاتوونکې کیسه ۶۲
۲۰ د رسول الله د تهجد لمونځ ۶۴

۲۱ شلورم فصل ۶۶
۲۲ سیاسي او ټولنيزې لیکنې ۶۶
۲۳ د ایراني ملېشو او داعشیانو ترمنځ د پټ تړون معلومات ۶۷
۲۴ په واخان ولکه، له هند سره ځمکنۍ اړیکې؛ د جان اڅکزي او خواجه آصف ماشومانه څرګندونې ! ۷۰
۲۵ د امت په ننګه ۷۲
۲۶ د داعشي تنظیم واک د عراقیانو له لاسه په وتلو دی ! ۷۴
۲۷ د سیمې امنیتي وضعیت او د پاکستان دوه مخی سیاست ۷۶
۲۸ مغلوبه فتنه ۸۰
۲۹ آیا افغانستان د پاکستان د احسان پوروړی دی؟ ۸۲
۳۰ پر تاجکستاني وجود اېښودل شوی داعشي ټوپك پردۍ‌نښه ولي ! ! ۸۴
۳۱ د غرب او نورو دښمنو کړیو ا.ا.ا ضد ABC پلانونه ! ۸۶
۳۲ القاعده، فارن پالیسي او افغانستان ۸۸
۳۳ پنځم فصل ۹۱
۳۴ بېلابېلې لیکنې ۹۱
۳۵ د مسکو یو داعشي بریدګر د جنسي ځورونې په جرم شپږ کاله بند تېر کړی ! ۹۲
۳۶ د مسکو برید خراساني خوارج د یو بل تکفیر ته اړ کړي ! ! ! ۹۴
۴۷ له فلسطین سره د داعش همدردي؟ ! ۹۶

## د المرصاد مهالنۍ تبصره

### د مسكو د بريد په اړه د غرب بېړنۍ ادعاوې

كله چې داعشيانو په كوم هېواد كې بريد پلان كړي، امريكايان يې ډېر ژر هغه هېواد ته په اړه معلومات وركوي، خو دا معلومات عمومي معلومات وي او داسې معلومات نه وي چې د بريد په خنثا كولو كې كومه كټه ترې واخيستل شي. د مسكو د بريد په اړه هم امريكايانو خپلو اتباعو ته خبرداری خپور كړی و او روسيې ته يې هم په اړه عمومي معلومات وركړي وو. مګر د بريد سره سمدستي يې ادعا وكړه چې په افغانستان كې د داعشيانو يوه ګروپ د داسې يو بريد د تنظيم په هڅه كې و. پوښتنه دا ده چې كه چېرته امريكايان دومره زيات موده دمخه په داسې يو بريد خبر وو، هماغه مهال يې دا معلومات له روسيې يا افغانستان سره ولې نه شريكول؟ بلهدا چې د دې راز په څه كې دی چې امريكايان هر وخت د داعشيانو له بريدونو څخه خبر وي؟

د څېړونكو له نظره، د نړۍ ډېر استخباراتي سازمانونه په دې آند دي چې كله په افغانستان، عراق او نورو نړۍ كې جهادي ډلې له امريكا سره په سخت مقاومت بوختې وې او د ګلابي انقلابونو په ساحو كې هم نويو جهادي ډلو ظهور وكړ، غرب وارخطا شو او امريكايانو په دې جهادي ډلو د شا لخوا ګوزار له تكتيك څخه كار واخيست او تكفيري فكر چې تل يې د اسلام د تاريخ په اوږدو كې په مسلمانانو د شا لخوا ګوزار كړی، په غير مستقيمه توګه راپورته او د جهادي ډلو په خلاف يې وكاراوه. له همدې امله، په اصطلاح اسلامي دولت يا (داعش) را وړاندې او د زياتو سيمو په ورپرېښودلو يې زمينه ورته برابره كړه چې ډراماتيكې سوبې ترلاسه كړي، ښارونه لاندې كړي او تر ۸۰ زره كيلومتره مربع پورې د تمكين ساحه خپله كړي او په دې سره يې زيات مطرح كړي.

په اصطلاح اسلامي دولت يا (داعش) واسطه يې د سوريې جهاد ناكام كړ. په ليبيا كې يې حفتر ته د برلاسي لاس وركړ او په افريقا كې يې هم جهادي حركتونه له سختو ستونزو او ننګونو سره مخ كړل. په افغانستان كې يې اسلامي امارت ته هم يو سرخوږی پيدا كړ. خرنګه چې داعشي پروژې په افغانستان كې د امريكا له خوښې سره سم نتيجه ورنكړه او امريكايان ونه توانېدل چې د اسلامي امارت د سوبو مخه ونيسي، نو بالآخره مجبور شول چې افغانستان پرېږدي هماغه و چې ګوډاګی نظام يې

رنـګ شـو؛ اوس يـې هڅـه دا ده چې اسلامـي امارت کـمـزوري وساتي او پـه منطقـه کـې يـې لـه هغـو هېوادونـو سـره چـې لـه اسلامـي امـارت سـره نسـبتاً ښـه تعامـل لـري، بـې اعتمـادي پيدا کـړي او لـه سـتونزو سـره يـې مـخ کـړي. همـدا لامـل و چـې د مسـکـو د بريـد پـه اړه يـې ډېـر ژر عجيبـې او غريبـې ادعـاوې وکـړې او ټولـې غربـي رسنـۍ تراوسـه پـه همـدې ادعـاوو شـخـوند وهـي. خـو روسـانو لـه هوښـيارتيا څخـه کـار واخيسـت او د روسـيې ولسمشـر ولاديميـر پوتين لـه بيانيـې څخـه څرګنـده شـوه، چـې روسـان دې لومـې تـه متوجـه دي او نـه غـواړي بيا ځل روسـيه پـه سيمه کـې ښـکېل کـړي.

د څېړونکـو لـه آنـده، اوس روسـان پـه دې پوهېـږي چـې د داعـش خراسـان څانګـه پـه افغانسـتان کـې ځپـل شـوې، مراکـزيـې ګاونډ تـه انتقـال شـوي، د افرادي ځـواک د تمويل او توليـد نـوی مرکـزيـې تاجکسـتان دی، مالـي تمويـل لـه اروپايـي هېوادونـو د کرېپټـو کرنسـۍ پـه توسـط ترسـره کېـږي، د بريدونـو لپـاره اهـداف د غربـي اسـتخباراتي سـازمانونو لـه لـوري ورتـه پـه ګوتـه کېـږي، لوژسـتيکي اکمـالات يـې پـه سـيمه کـې غـرب پلـوه اسـتخباراتي شـبکـې ترسـره کـوي او غربـي رسنـۍ يې پـه غيرمسـتقيم ډول پرسـوي او حمايه يـې کـوي.

لـه دې څخـه دا نتيجـه اخلـو، چـې نـور بـه د داعـش د پـروژې شـاتـه جهتونـه هغـه تمـې چې لـه دې پـروژې څخـه يـې درلودلـې، پـه آسـانه لاسـته رانـه وړي او سـيمييزه ويښـتيا بـه يـې پـر وړانـدې کلـک مقاومـت وکـړي.

# لومړی فصل

# د امت نومیالي

## د اتل شهيد شېر علي (صابر کوچي) تقبله الله ژوند او جهادي کارنامو ته لنډه کتنه

شـهيد شـېرعلي چې پـه (صابـر کـوچـي) مشـهور و، د ګل خـان زوی، د نوروزخـان لمسـی چـې اصلاً د لوګـر ولايـت د ازرې ولسـوالۍ اړونـد د ګـمـاران د کـلـي او فـعلاً د ننګـرهـار ولايـت د بټـي کـوټ ولسـوالۍ اړونـد، د فـارم چـار مخروبې د کـلـي اوسـيدونکی و، د ۱۴۱۰ هــق کـال دد وهمـې مياشـتې پـه ۲٤مـه نېټـه، د هجـرت پرمهـال، پـه يـوه کـوزه پښـتونخوا کـې، پـه يـوې ديـنـداره، جهادپالـه او مجاهـده کـورنـۍ کـې دې فانـي نـړۍ تـه سـترګې وغړولې.

لومړنـۍ دينـي زده کـړې يـې د کـلـي لـه ملا امـام څخـه وکـړې، پـه عصـري زده کـړو کـې يـې هـم تـر نهـم صنـف پـورې مـکـتـب ولوسـت، اکـثـره ناسـته پاسـته بـه يـې لـه علمـاوو سـره کوله، له همدې وجې يې په خبرو کې فصاحت او بلاغت موجود و.

نومـوړی د اوچـتـو اخلاقـو او وريـن تـنـدي څښـتن و، پـه نرمـه لهجـه بـه يـې خبـرې کولـې، هـر چاتـه بـه يـې قانـع کـوونکـی ځـواب ورکـاوه، د مقابـل جانـب خبـره بـه يـې ښـه پـه غور سـره اورېـده، پـه خبـرو کـې يـې چالاکـي نـه کولـه، مجاهدينـو سـره يـې بـې انـدازې مينـه درلـوده، خـدای تعالـی جـل جلالـه ورتـه ډېـره ځيرکتيـا پـه نصيـب کـړې وه، د جنګ پـه وخت کـې بـه يـې ملګـروتـه د ډاډ خبـرې کولـې، د صبر او اسـتقامت غـر و، پـه پرځـېدلي او اسير دښـمن بـه يـې ډېـر رحـم کـاوه، د کمـين او تعـارض لـه زياتـې تجربـې برخمـن و، ډېـر حوصله منـد و. کلـه کلـه بـه ورتـه اربکـي او داعشـي مليشـو زنګـونـه وهـل، د هغـوی د پوچـو الفاظو مقابله به يې په اصلاحي خبرو کوله، تل به يې ورته د امارت حقانيت بيانوه عجيبـه عقيـده يـې درلـوده، جنګ کـې بـه الله جـل جلالـه همېـش بـری ور نصيـب کـاوه، هغـه مهـال چـې مجاهديـن ډېـر کـم او پټ بـه ګـرځـېدل، نومـوړي اتـل ځـوان د لومړي ځـل لپاره د مهمنـدرې ولسـوالۍ اړونـد، د باسـول پـه سـاحه کـې لـه بـزدل دښـمن څخـه دوه ام بيانـې ونيولـې، پـدې کـار سـره يـې دښـمن تـه ملا ماتوونکـی ګـوزار ورکـړ او د مجاهدينـو روحيه ورسـره ډېـره قـوي شـوه. بيـا مجاهدينـو پـه ډېـر شـجاعت او مېړانـې سـره پـه دښـمن ښـکاره تندريـز بريدونـه پيـل کـړل، پـه ورتـه مهـال کـې يـې د بټـي کـوټ ولسـوالۍ د فـارم چـار د سـاحې څخـه د يـو کمـين پـه تـرڅ کـې د مـزدورې ادارې څخـه يـوه رينجـر ونيولـه، چـې پـدې سـره هـم د مجاهدينـو مـورال قـوي شـو، نومـوړي بـه د طورخـم - جلال اباد پـه عمومـي سـړک چيک

پاينټونه اچول. کله کله به يې په همدې لار د امريکا او ناټو په اکمالاتي کاروانونو کاري بريدونه کول، ټوله ساحه يې په دښمن تنور کړځولې وه، له همدې امله د دښمن ټوله توجه صابر کوچي ته وا وښتله، لومړی ځل د مومندرې ولسوالی اړوند د هزارناؤ په ساحه کې د چيك پاينټ پرمهال په لاس زخمي شو.

داعشي ملېشو سره يې زيات جنګونه وکړل، کله چې په بټي کوټ کې داعش ظهور وکړ، لومړی جنګ ورسره په ډاکی نومې ساحه کې شهيد صابر کوچي وکړ، جنګ د صابر کوچي د دوه ملګرو په شهادت پای ته ورسېد.

دا هغه مهال ؤ چې داعشي خوارجو د اسلام له نوم څخه په استفادې ځانونه د مهدي لښکر ته منسوبول، نو ځکه خو ورسره د اميرالمؤمنين لخوا د جنګ اعلان نه و شوی، له جنګ وروسته نوموړی د بټي کوټ ولسوالی باريکاب قريې اړوند د کوزې کلا لوی مسجد ته لاړ، چې هلته د کمېسيون غړي هم موجود وو، نوموړي په لاؤډ سپيکر کې اعلانونه وکړل چې د داعش ډلې رهبري خوارج کوي او ټول خوارج دي، له نوموړي سره هېڅ قسم ملاتړ چا ونکړ.

د نوموړي لخوا لومړی ځل داعشيان خوارج ونومول شول، چې بيا په حقيقت بدل شو، همدا يې هم د کرامت نښه ګڼلای شو، لومړی اتل ؤ چې بغير د نورو مجاهدينو له مرستې يې د خپلې ډلګۍ د ملګرو سره يوځای د لاچپور څخه رانېولې تر چاردهي پورې ټولې ساحې، له داعشي مليشو ونيولې د خپلې ډلګۍ د ملګرو په ملاتړ يې له داعشيانو سره لومړی خط يا د جنګ کرښه جوړه کړه له يو قوي جنګ وروسته ياده ساحه داعشيانو ونيوله، نوموړي دويم خط انبارخانه کې جوړ کړ، له يو بل قوي جنګ وروسته ياده ساحه هم د داعشيانو لاس ته ورغله، چې دغه وخت کې په صابر کوچي د خوارجو او اجيرو ملېشو لخوا ساحه تنګ شوه. نوموړی اړ شو چې د يو ملګري په توسط تکتيکي شاتګ وکړي او ياده ساحه پرېږدي، همهاغه و چې خپل پلرني ولايت لوګر ته ولاړ، هلته يې صرف دومره وخت تېر کړ چې د خوارجو خلاف ملګري منظم کړي، همدغه وخت د اميرالمؤمنين لخوا د شيوخو په مشوره د داعش ډله خوارج وبلل شول او ورسره يې د جنګ فتوی صادره کړه. شهيد صابر کوچي په ډېره ليوالتيا د نورو مجاهدينو ملګرو سره د ننګرهار په طرف روان شو. د بټي کوټ فارم دو ساحې ته راغلل، په راتګ يې په داعشيانو کې يوه وېره خپره شوه، ځکه د نوموړي انفرادي

جنګونو هم له داعشيانو وارپار خطاء کړی و، او دا ځل د نورو مجاهدينو مرسته او د امير المؤمنين لخوا فتوا هغه څه وو، چې په داعشيانو يې خوبونه حرام کړي وو، د فارم دو ساحې څخه صابر کوچی تقبله الله او ملګرو يې د لعل پورې ولسوالی د چکنوری ساحې له طرفه، حاجي صاحب امين او ملګرو يې په داعشيانو د ماښام له خوا جنګ پيل کړ. تر سهاره يې لاچپور، مشواڼي، چاردهي، غازي اباد کړی، تکيه، انبار، خانه کره، باوه باسول، هزارناؤ، غزګی، ګردی غوث او نورې ساحې ونيولې، د طورخم - جلال آباد عمومي سړک لاندې ساحې ټولې له خوارجو پاکې شوې، پدې وخت کې شهيد صابر کوچی، حاجي صيب امين جان او د ولسوالی سرپرست ستوري کماندر مجلس کاوو، چې د ساحو لپاره بېرته د امارت مسؤلين وټاکي، چې د امريکايانو د ډرون تر بريد لاندې راغلل، د الله جل جلاله په فضل او کرم مشران بچ شول، دوه مجاهدين او يو کوچنی ماشوم پکې شهيد شو. نومورې يوه شپه خوب ليدلی ؤ، چې انبارخانه کې يې داعشيان څملولي وي او دا قهرمان ورته د پاسه ناست وي، همدغه خوب يې په حقيقت بدل شو، او داعشيان يې د لوی الله جل جلاله په نصرت تس نس کړل.

تردې ولسوالی ور هاخوا يې د روداتو ولسوالی ته پلان جوړ کړ، ترڅو يې له داعشي ملېشو پاکه کړي، دا وخت نو داعشيانو بيا په بټي کوټ د عملياتو پلان درلود.

نوموړی له نورو مشرانو سره په مشورو بوخت ؤ، مجاهدين تيار د فارم چار ساحې ته راټول شوي وو، چې د سهار اذانونه وشول، پدې وخت کې د داعشي ملېشو د ترصد يو موټر، چې د سپرغي په نوم داعشي پکې سپور و، د برو څخه راغی؛ دغه موټر ته مجاهدينو د جنګي تکتيك په اساس هېڅ ونه ويل همداسې يې پرېښود، چې بټي کوټ ولسوالی ته داخل شو، هلته يې ورته مجاهدين تيار کمين کې کېنولي وو، چې ولسوالی ته په داخلېدو سره مجاهدينو ژوندي ونيول، او ورپسې دوه عرادې سراچه موټر، چې د خوارجو غټ غټ مشران پکې وو، د برو له طرف څخه راغلل چې مجاهدين ورته په فارم چار د بروك ساحه کې د صابر کوچي تقبله الله په قومنده کې ناست وو، د لمر راختلو په وخت کې راورسېدل، د يو سخت کمين لاندې راغلل او پکې ناست ټول داعشيان ووژل شول، چې د دې مشرانو په وژلو سره دغه ډله له زوال سره مخ شوه او تر لسو ورځو وروسته مجاهدينو د الله جل جلاله په ځانګړي نصرت د روداتو ولسوالی هم فتحه کړه، د څه وخت تېرېدو وروسته د مشرانو په امر شهيد صابر کوچی تقبله الله حصارك ولسوالی ته ولاړ، چې د الله جل جلاله په ځانګړي نصرت يې اته پوستې فتحه کړې، بالاخره د

رمضـان المبـارك د میاشـتې پـه وروسـتۍ لسـیزه کـې، د دې لپـاره چـې کوچنـی اختـر بـټـې کـوټ کـې لـه خپلـې کورنـۍ او ملګـرو سـره یوځـای تېـر کـړي، د راتـلـك پـه مهـال د خوګیانـو ولسـوالۍ اړونـد د هاشـم خېلـو پـه خـوږ کـې د 13/4/1395 د ماسپښـین پـه 3 بجـو د امریکایـي ډرون الوتکـې پـه برید کـې د پنځـو نـورو مجاهدینـو ملګـرو سـره یوځـای د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. نحسبه کذالك والله حسیبه

## شهادت د جنت ترټولو لنډه لار

**رسول الله ﷺ وفرمایل:**

"مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ يُحِبُّ أَنْ يَرْجِعَ إِلَى الدُّنْيَا وَلَهُ مَا عَلَى الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ، إِلَّا الشَّهِيدُ، يَتَمَنَّى أَنْ يَرْجِعَ فَيُقْتَلَ عَشْرَ مَرَّاتٍ، لِمَا يَرَى مِنَ الْكَرَامَةِ."

(بخاري، حدیث:۲۸۱۷ | مسلم، حدیث:۱۸۷۷)

**ژباړه:**

د انبیاء علیهم السلام نه وروسته د جنت ترټولو غوره خلك شهیدان دي، ځکه چې شهید د جنت په هغو لوړو درجو کې وي چې انبیاء علیهم السلام پکې دي. شهید ته داسې نعمتونه ورکول کېږي چې نورو ته نه ورکول کېږي

# د شهید نورالرحمن (عبدالله) ژوند او جهادي کارنامو ته لنډه کتنه

د ننګ، مېړانې، اخلاص او تقوا ځلانده ستوری شهید سعید نوالرحمن (عبدالله) تقبله الله د مرحوم حاجي تازه ګل زوی په ۱۹۹۸م کال د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ د سهاکو په سیمه کې په یو جهاد پاله کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې وغړولې.

شهید نوالرحمن عبدالله دیني زده کړې د جومات له ملا امام څخه پیل او په څنګ کې یې ورسره د سهاکو عالي لیسه کې هم عصري زده کړې شروع کړې.

شهید عبدالله له ماشومتوب څخه د جهاد له سپیڅلې فریضې سره بې کچې مینه درلوده، د یرغلګرو ظلمونو او د ملګرو شهادتونو ترې د درس خوند وړی و، په ډېره بې صبري یې دیني زده کړې تر اولې درجې او عصري زده کړې یې تر (۵) ټولګي پورې ترسره کړې.

وروسته یې د امریکا او د هغوی د غلامانو پر وړاندې جهادي مبارزې ته ملا وتړله، چې د جهادي مبارزې لپاره له خپلې ساحې څخه نورو ولایتونو ته لاړ، هلته یې هم له غیرت او مېړانې ډکې کارنامې په میراث پرېښودې. له څه وخت وروسته شهید نوالرحمن عبدالله بېرته خپلې ساحې ته راستون شو او په خپله ساحه زرمت کې یې د (ملا لیاقت عمر) تر مشرۍ لاندې، بیا خپل جهاد ته دوام ورکړ.

شهید عبدالله په ډېره مېړانه او شجاعت سره د دښمن په مقابل کې هر ډول قرباني ته اوږه ورکړه. د جنګ په ډګر کې یې ځانګړی نوم درلود، د غرب ډېر غلامان یې هلاک کړل.

په ملګرو کې هم په تقوا، غیرت، اخلاقو او خاکساري مشهور ځوان و، چې ملګري به زیات وخت په ده راټول وو او د ده له مجلس سره یې ځانګړې مینه درلوده.

وخت تېرېده، چې د اسلام په جامه کې، د اسلام سرسخته دښمنانو، خوارجو داعشیانو په خلاف یو بله مبارزه شروع شوه، که څه هم مجاهدین په درېیو جګړو کې قرار درلود، یو د یرغلګرو بل د هغوی د غلامانو په خلاف او درېیمه یې د خوارجو خلاف، خو د داعشو خلاف نوې جګړه وه، چې له ولایتونو څخه ورته قطعې تیارېدلې، چې نوموړي مجاهد هم په دې جګړه کې په ډېرې بې صبرۍ او خوشحالۍ برخه پکې واخیسته.

دې اتـل مجاهـد د خوارجـو پـه خلاف غـاښ ماتوونـکـې مبـارزه وکـړه، ډېـر خـوارج يـې تـر تېـغ تېـر کـړل، خوارجـو د دې اتـل لـه بريدونـو څخـه هېـڅ کـرار نـه درلـود ، خـوب يـې وربانـدې حرام کـړی و. نومـوړي مجاهـد کـه څومـره لـه جهاد سـره مينـه وه همدومـره يـې لـه شـهادت او د الله عزوجـل لـه لقـاء سـره مينـه وه، چـې هـر تعـرض او کمـين کـې يـې پـه وار- وار لـه ملګـرو څخـه د شهادت د عاګاني غوښتې

بالاخـره ځوانـي مـرګ شـهيد نوالرحمـن عبـدالله (١٤٤٠) هـق کال د رمضان المبارك مياشـتې پـه اتمـه نېټـه، د خوارجـو سـره پـه مخامـخ جګـړه کـې، د ننګرهـار ولايـت، جلال آبـاد ښـار پـه مربوطاتـو کـې د شـهادت لـوړ مقـام تـه ورسـېد ، چـې رب جـل جلالـه يـې لـه ډېـرو تکليفونو ورورسته دا آرمان پوره کړ او خپلې لقا او ديدار ته يې په وينورنګ ور وغوښت.

د نوموړي يو نېږدې ملګری د ده د شهادت کيسه داسې بيانوي:

کلـه چـې پـه خوارجـو لـه څـو برياليـو تعروضونـو وروسـته، يـو بـل تعـرض برابـر شـو، چـې ډېر برياليـ تعـرض و، نومـوړي مجاهـد څـو خـوارج پـه همـدې تعـرض کـې د جهنـم کنـدې تـه ورټېـل وهـل او بالاخـره شـهيد عبـدالله پـه داسـې حـال کـې شـهيد کېږي، چـې د دښـمن مرمـۍ يـې مخامـخ پـه ټټـر وخوړلـې، معمـول داسـې دی، چـې کلـه څـوك د دښـمن مرمـۍ مخامـخ پـه سـينه خـوري، بايـد سـری شـاته رنـګ شـي، خـو شـهيد عبـدالله پـه دې حـال کـې مخامـخ پـه ځمکـه رب جـل جلالـه تـه پـه سـجده پرېـوزي، د څـو تنـو مجاهدينـو پـه حضـور کـې شـهيد عبـدالله دا کرامـت ښـکاره کـوي، ملګـری وايـي: چـې کلـه دی د سـجدې پـه حالـت کـې و، مـا غـږ پـرې وکـړ، عبـدالله پورتـه شـه د دښـمن د ويشـتلو خورا ښـه موقـع ده، خـوده غـږ نـه وکـړ، کلـه مـې چـې ور وکتـل له عبـدالله څخـه وينـې روانـې وې او شـهيد شـوی و، بيـا د هغـه شـهيد جسـد تـر ډېـره وختـه هلتـه د مبـارزې پـه ميـدان کـې شـهيد پـروت و او د کوچنـي اختـر پـه (٢٥) ورځ خپـل پلرنـي ټاټوبـي زرمـت تـه راوړل شـو او خـاورو تـه يـې وسـپاره

روح يې ښاد او ياد يې تل تر تله

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمه الله فرمايي:

د انبياء عليهم السلام نه وروسته د جنت تر ټولو غوره خلګ شهيدان دي، ځکه چې شهيد د جنت په هغو لوړو درجو کې وي چې انبياء عليهم السلام پکې دي. شهيد ته داسې نعمتونه ورکول کېږي چې نورو ته نه ورکول کېږي.

(مجموع الفتاوى، جلد ٢٨، صفحه ٥٤٠)

# دویم فصل

# خوارج العصر

## خارجي و افراطي فکر او جهادي تحريکات

ليکوال: مولوي احمد جان

الحمد لله والصلاة والسلام على رسول الله وعلى آله وأصحابه ومن والاه، أما بعد، فأعوذ بالله من الشيطان الرجيم ﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطًا لِّتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ﴾ (البقرة: ۱۴۳) ﴿يَا أَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوا فِي دِينِكُمْ﴾ (النساء: ۱۷۱)

وقال النبي صلى الله عليه وسلم: «إياكم والغلو، فإنما أهلك الذين من قبلكم غلوهم في دينهم».

طائفه منصور اهل السنة والجماعة دی، او د دوی د امتيازاتو او ځانګړنو څخه يو هم دا دی چې ميانه روي ده، يانې نه افراط کوي او نه هم تفريط. چا چې هم په دغه امت کې د افراط يا تفريط لاره اختيار کړې ده، د صراط مستقيم څخه منحرف شوي، او بالآخره د جمهورو اهل سنتو لاره او منهج تري ورك شوی، او د شَذَّ شُذَّ مصداق ګرځېدلي دي، بالخصوص په دين کې بې ځايه تشدد او غلو مخکېني اديانو والا هم تباه کړي وو او په دغه امت کې لومړنۍ خطرناکه فتنه د تشدد او غلو له لارې راغله، او امت يې د يو لوی مشکل سره مخ کړ، چې هغه د خوارجو فتنه وه، او نبي (عليه السلام) فرمايي: كلما طلع قرن قُطع.

ژباړه: کله چې هم راښکاره شي، قطع کېږي به.

نو طائفه منصوره ځکه اهل السنت والجماعت ده چې په طول د تاريخ کې د اهل السنت والجماعت د منهج څخه منحرف شويو خارجي ډلو کله هم داسې کاميابي نده ترلاسه کړې چې د امت قيادت وکړي، ځکه خوارج ډېر بې رحمه خلك وي او دا مرحومه امت دی، الله سبحانه وتعالی داسې ظالمانو ته د دې امت قيادت نه ورکوي، وخت په وخت خارجي ډلو ظهور کړی، ليکن بيا ختمې شوې دي او دا سلسله به د قيامت تر راتلو پورې روانه وي.

نبي (عليه السلام) به په هر کار کې د نرمۍ او اسانۍ څخه کار اخيستلو، تر دې پورې چې د جمراتو د ويشتلو په وخت کې يې هم په منی کې حضرت عبد الله ابن عباس (رضي الله تعالى عنه) ته امر وکړ: ألقط لي مثل حصى الخزف، وإياكم والغلو، فإنما أهلك الذين من قبلكم غلوهم في دينهم.

**ژباړه:** ما لره واړه واړه کاني راواخله، چې جمرات ورباندې اوولم په دين کې ځان د بې ځايه سختۍ او تشدد نه بچ کړئ، ځکه ستاسو نه چې کوم مخکېني خلك تېر شوي، هغوی هم غلو في الدين تباه او هلاك کړي وو.

پدې وجه صاحب د (إياكم والغلو په ص:٤) کې فرمايي: **لا يغلو عبد إلا يخرج من الهدى الصالح في آخر الأمر.**

**ژباړه:** چې څوك هم د غلو څخه کار اخلي په دين کې، هغه بالاخره د سمې طريقې او منهج څخه وځي.

او په ص: ٨ کې فرمايي: **ولا تجد فرقة بين المسلمين إلا بسبب الغلو.** يانې ته به ونه مومې په مسلمانانو کې بېلتون، فرقه واريت، او اختلاف مګر د غلو په وجه.

شيخ الاسلام علامه ابن تيميه (رحمه الله) فرمايي: **الغلو مجاوزة الحد بأن يزاد في الشيء في حمده او ذمّه على ما يستحق ونحو ذلك.**

**ژباړه:** غلو د يو شي په باره کې د خپل حد څخه تجاوز ته وايي، يانې مدح او يا ذم کې د هغې چې څومره حق وي، سرې د هغې څخه واوړي (اقتضاء الصراط المستقيم ج ١، ص: ٢٨٩)

حافظ إبن حجر (رحمه الله) فرمايي: **الغلو بأنه المبالغة في الشيء والتشدد فيه بتجاوز الحد".**

**ژباړه:** غلو دېته وايي؛ چې د يو شي باره کې سرې دومره مبالغة او سختي وکړي، چې د صحيح حد نه پکې تجاوز وشي (فتح الباري، ج ١٣، ص: ٢٧٨)

صاحب د نضرة النعيم بيا د غلو معنى داسې بيانوي: **تجاوز الحد الشرعي في أمر من أمور الدين.**

**ژباړه:** د شرعي حد څخه د دين په يو کار کې اوړېدل

عبد الله بن مسعود (رضي الله عنه) فرمايي: **إياكم والتبدع، إياكم والتنطع، وإياكم والتعمق، وعليكم بالدين العتيق.**

**ژباړه:** ځان ساتئ، د بدعاتو نه او ځان ساتئ د تکلف او سختۍ نه په دين کې او زوړ دين را ټينګ کړئ (اعلام الموقعين، ج ٤، ص: ١٠٥)

انس بن مالك (رضي الله عنه) د نبي (عليه السلام) حديث نقل کوي، فرمايي:

**قال رسول الله (صلى الله عليه وسلم): إن هذا الدين متين، فأوغلوا فيه برفق؛ فان المنبت لا أرضا قطع ولا ظهرا بقي.**

رسـول الله (صلـی الله علیـه وسـلم) فرمايلـي: دا ديـن مضبـوط دی، پـدې کـې رسـوخ حاصلـوئ، نـو پـه نرمـی سـره يـې حاصـل کـړئ، څکـه هغـه مسـافر چـې شـپه ورځ مـزل کـوي (يانـې د ميانـه روی څخـه کار نـه اخلـي) هغـه پـه خپلـه هـم مقصد ته نشـي رسـېدلای او نه يې سورلی رسولای شي.

(لا أرضا قطع ولا ظهرا بقي) مثال دی د هغـه چا لپاره چـې ډېره سـختي کـوي، يانې نـه خپله بيا منـزل مقصـود تـه رسـېدلای شـي، څکـه خپله يـې هـم د وسـې او تـوان نـه بهـروي، او نه يې سـورلی رسـولای شـي، څکـه هغـه يـې د سـختی پـه وجـه ضائـع کـړې وي، نـو سـختي کـونکـی پخپلـه هـم منـزل مقصـود تـه رسـېدلای نشـي، او د سـختی پـه وجـه منـزل تـه رسوونکي اسباب هم يې ضائع کړي وي.

ابـن عثيميـن (رحمـه الله) د دغـه مثـال شرح داسـې کـړې ده: والمنبت الذي يمشي ليلاً ونهارًا دائمًا، هذا لا أرضًا قطع ولا ظهرًا بقي، بل يتعب ظهره وبالتالي يعجز ويتعب ويحسر ويقعد.
(شرح رياض الصالحين)

ژبـاړه: منبـت هغـه چـا تـه وايـې چـې شـپه او ورځ مسلسـل روان وي، يانـې دمـه او ميانـه روي نـه کـوي، نـو دا نـه خپلـه منـزل تـه رسـېدلای شـي او نـه يـې سـورلی باقـي پاتـې کيـدای شـي، بلکـې د مسلسـل تـګ پـه وجـه سـورلی يـې هـم لـه کار وځـي، او د اسـتفادې وړ بـه پاتـې نشـي، او دی هـم سـتړی شـي او بالاخره د تـګ څخـه عاجـزه شـي، کېنـي او منـزل مقصـود تـرې پاتې شي.

لکـه پـه معاصـر جهـاد کـې هـم پـه څينـو محاذونـو کـې داسـې وشـول، چـې د څينـو افراطي فکـر لرونکـو غـړو او وکـړو لـه طرفـه د بشـري ژونـد د مختلفـو شـعبو سـره تـړاو لرونکـو خلکـو سـره نهايـت د تشـدد او سـختی معاملـه وشـوه، چـې د هغـې پـه وجـه يـې ملکـري هـم پـه مختلـف قسـم جنګونـو کـې ښـکېل شـول، چـې پـه نتيجـه کـې يې خپـل ډېـر حاميان او همـدردان لـه لاسـه ورکـړل، چـې اوس پخپلـه هـم منـزل مقصـود تـه رسـېدلای نشـي، او دغه ټـول ممکنـه اسـباب، وسـائل او همـکاران يـې د تشـدد پـه وجـه ضائـع او لـه لاسـه ورکـړل، هغـوی هـم ورسـره همـکاري نکـوي، يـا يـې جهـاد تـه د شـك پـه نظـر ګـوري او يـا د دومـره لـوی ابـتلاء د برداشـت او زغـم څخـه څانونـه عاجـزه بولـي، پـه کومـه ابـتلاء کـې چـې د ژونـد د ډېـرو شـعبو د مربوطـو کسـانو سـره د ښـمني او اخـتلاف وي، څکـه ميانـه روي کـول او څـان تـه د ښـمنان کمـول (تقليـل الأعـداء) د نبـي کريـم (صلـی الله علیـه وسـلم) د سياست او سيرت يو اهم جانب او حصه ده.

پـدې وجـه نبـي كـريـم (صلـى الله عليـه وسـلم) درې ځلـې ارشـاد فرمايلـى دى چـې: هلـك المتنطعون، قالها ثلاثًا. (مسلم، كتاب العلم)

امـام نـووي (رحمـه الله) د دې پـه شـرح كـې داسـې ارشـاد فرمايلـى دى: هلاك دي تكلـف او غلـو كوونكـي، چـې پـه خپلـو اقوالـو او افعالـو كـې د حـد څخـه تجـاوز كـوي (شـرح النووي على المسلم)

د اهـل السـنة والجماعـة امامانـو، سـلفو، علمـاء كرامـو پـه دې وجـه چـې متعـال ذات ورتـه د ديـن پـه مـزاج بانـدې پـه اجتماعـي توګـه كامـل فهـم ورپـه برخـه كـړى دى، د تكفيـر پـه موضـوع كـې نهايـت د احتيـاط څخـه كار اخيسـتى دى، ډېـرى داسـې فرقـې چـې د هغـوى عقائـد كفـري دي، ليكـن د تاويـل پـه خاطـر يـې بيـا هـم د هغـوى تكفيـر نـه دى كـړى، پـه داسـې حال كـې چـې هغه تاويلات هم باطل دي.

لكـه علامـه شـاطبي رحمـه الله د خپـل كتـاب (الاعتصـام) د ۲ جلـد پـه ۲۱ مـه صفحـه كـې فرمايـي: وقـد اختلـف الأمـة في تكـفير هـؤلاء الفـرق أصحـاب البـدع العظمـى، ولكن الـذي يقـوي في النظر ويحسب في الأثر عدم القطع بتكفيرهم، والدليل عليه عمل السلف الصالح فيهم.

هغـه فـرق ضالـه (ګمراهـې ډلـې يـا فرقـې) چـې د غټـو بدعاتـو والا دي، يانـې بدعـات يـې مكفـره (كفـري) دي، لكـه مرجئـه، معتزلـه، روافـض، جهميـه، قدريـه او خـوارج وغيـره، د دوى د تكفيـر پـه بـاره كـې پـه امـت كـې اختلاف دى، ليكـن قـوي او مضبوطـه خبـره دا ده، چې سلفو صالحينو د دوى تكفير نه دى كړى.

پـه دې وجـه علامـه نـووي رحمـه الله پـه خپـل شـرح د مسـلم كـې فرمايـي: ولا يكفـر أهـل الهواء والبدع.

(جلد: ۱، صفحه: ۱۵۰)

يانـې دا چـې د اهـل الهـواء والبـدع تكفيـر نشـي كېـدلاى او د سـلفو پـه نـزد د اهـل البـدع نـه مـراد خـوارج، معتزلـه، قدريـه او روافـض وغيـره ګمراهـې فرقـې دي، چـې د دوى عقائـد او افكار كفريه دي، ليكن د تاويلاتو په وجه يې تكفير نه دى كړى.

ابـن مفلـح د ابـن الجـوزي الحنبلـي رحمـه الله نـه نقـل كـوي او فرمايـي چـې: رأيـت جماعـة مـن العلمـاء أقدمـوا على تكـفير المتـأولين مـن أهـل القبلـة وأقبـح حـالاً مـن هـؤلاء المكفريـن قـوم مـن المتكلمين كفروا عوام المسلمين. (الفروع لإبن المفلح، جلد: ٦، صفحه: ٤٢٨)

ژبـاړه: مـا خـود علمـاء كرامـو يـو جماعـت وليـد چـې د اهـل القبلـه نـه يـې د تاويـل كـونكـو (خوارجـو، روافضـو، معتزلـه ؤ وغيرهـم) تكفيـر كـاوو، يانـې دا جـرات يـې كـولو، خـود دې

مکفرینو څخه څه ډېر بدتره او ناکاره خلك هغه دي چې د عامة المسلمين تکفير کوي.

په دې وجه علامه ابن نجیم رحمه الله فرمايي: **وينبغي للعالم أن لا يبادر بتكفير أهل الإسلام.**

(البحر الرائق، جلد: ٥، صفحه: ١٣٤)

او هم دغه شان علامه شامي رحمه الله فرمايي: **لا ينبغي للعالم أن يبادر بتكفير أهل الإسلام.**

(حاشية إبن عابدين، جلد: ٤، صفحه: ٢٣٠)

د تکفیر په باب کې لویو علماء کرامو او اکابرینو همېش د احتیاط څخه ډېر زیات کار اخیستی دی، او کم از کم د توقف لاره یې اختیار کړې ده.

سطحي، کم عمره او غیر فقیه حضرات په دې موضوع کې اکثره د ډېرې بېړې ښکار کېږي، لکه امام قرطبي رحمه الله د خپل کتاب (المفهم) د ۲ جلد په ۱۱۱ مه صفحه کې فرمايي: **وباب التكفير باب خطير، أقدم عليه كثير من الناس فسقطوا، وتوقف فيه الفحول فسلموا، ولا يعدل بالسلامة شيئًا.**

**ژباړه:** د تکفیر باب ډېر خطرناك دی، ډېرو خلکو د تکفیر په باب کې اقدام او جرأت وکړ، نو وغورځېدل، او پوهه او جیدو علماء کرامو پکې توقف وکړ، نو هغوی بچ پاتې شول، او د بچ پاتې کېدو سره هیڅ شی برابر نه دی. ځکه خو نبي علیه السلام درې ځل ارشاد وفرمایلو چې: **هلك المتنطعون (قالها ثلاثا).**

او چې په کومو موضوعاتو باندې پوهه او جیدو علماء کرامو جرأت او اقدام نه وي کړی، په هغه باندې جرأت او اقدام کول په معاشره او ټولنه کې ډېر زیات فساد پیدا کوي، لکه ابو عثمان الحداد المالکي رحمه الله فرمايي: **تقديم من أخر الله وتأخير من قدم الله فتنة في الأرض وفساد كبير.**

(ترتیب المدارك وتقریب المسالك للقاضي عیاض رحمه الله، جلد: ٥، صفحه: ٨٢)

**ژباړه:** څوك چې الله وروسته کړي دي، هغه مخکې کول او څوك چې الله مخکې کړي دي، هغه وروسته کول، دا په ځمکه کې ډېر زیات فساد او فتنې پیدا کوي.

یانې اکابر او لوی علماء مؤخر کول او د تکفیر پشان خطرناکو او سنګینو موضوعاتو کې اصاغرو، ځوانانو، کم عمره او داسې علماء کرامو ته رجوع کول، چې هغه دې میدان کې الله وروسته کړي دي، ډېرې زیاتې فتنې او فساد پیدا کوي.

د تکفیر په موضوع کې باید داسې احتیاط وکړای شي، لکه څرنګه مزاج چې د

سـلف صالحينـو، اكابرينـو اود فقهـاوو وو، څكـه پـه تكفيـر كـې پـه جلـدي ( تلـوار ) او بيـړې كولـو سـره سـړى د ديـن څخـه وځـي. داچـې خـوارج د تكفيـر پـه موضـوع كـې جلدبـاز (تلواريـان ) دي، نـور سـول اللّه صلـى اللّه عليـه وسـلم هـم د دوى پـه اره كـې فرمايـي : **يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية.** (رواه البخاري )

پـه دې وجـه علامـه ابـن الهمـام رحمـه اللّه فرمايـي : **يقـع فـي كلام أهـل المذهـب تكفير كـثير، ولكنه ليس من كلام الفقهاء الذين هم المجتهدون، بل من غيرهم، ولا عبرة لغير الفقهاء.**

(فتح القدير، جلد: ٦ ، صفحه: ۱۰۰ )

**ژباړه:** د اهـل مذهبـو پـه كلام كـې بـه ډېـر تكفيـر واقـع كېـږي، ليكـن دغـه د فقهـاوو او مجتهدينـو كلام نـدى، بلكـې د داسـې چـا كلام دى چـې مجتهـد فقهـاء كـرام نـه دي، نـو دغـه د غيـر مجتهـدو فقهـاوو كلام او تكفيـر تـه څـه اعتبـار هـم نشـته دى. مقصـد د علامـه ابـن الهمـام رحمـه اللّه دا دى، چـې د داسـې چـا تكفيـر لـره اعتبـار دى، چـې هغـه پـه فقـه كـې مجتهد وي، د دې څخه پرته دې موضوع كې د بل چا قول لره هيڅ اعتبار نشته.

ابـن الجـزي المـالكـي رحمـه اللّه فرمايـي: كـوم الفـاظ د كفـر چې پـه نصوصـو كـې راځـي، نـو د هغـې مختلـف احـكام دي : **فمنهـا مـا هـو كفـر، ومنهـا مـا هـو دون الكفـر، ومنهـا مـا يجب في القتـل، ومنهـا مـا يجـب فيـه الأدب، ومنهـا مـا لا يجـب فيـه شيء.** (القوانيـن الفـقهيـة لابـن جـزي رح، صفحه: ۲٤۰ )

**ژباړه :** بعضـي كفـر دي، بعضـي د كفـر نـه لانـدې دي، پـه بعضـو كـې قتـل واجبېږي، پـه بعضـو كـې ادب واجبېږي، او پـه بعضـو كـې هيـڅ هـم نـه واجبېږي. او بيـا وايـي، چـې د دې پوره تفصيل قاضي عياض رحمه اللّه په شفا كې بيان كړې دى،

پـه دې وجـه علامـه ابـن القيـم رحمـه اللّه فرمايـي، چـې اهـل السـنة والجماعـة پـه مجمـل څيـز بانـدې تكفيـر نـه كـوي بلكـې تفصـيـل كـوي: **وعليـك بالتفصيـل والتبيين فال قد أفسدا هذا الوجود إطلاق والإجمال دون بيان وخبط الأذهان والأراء كل زمان.** (النونية، صفحه: ٥۲ )

**ژباړه:** د هـرې خبـرې تفصيـل او وضاحـت كـوه، څكـه خبـره چې كلـه مطلقـه او مجمله وي بغيـر د بيـان نـه، دنيـا دې خرابـه كـړه ذهنونـه او رأيـې يـې پـه هـره زمانـه كـې كـډوډ كـړي دي.

پـه دې وجـه علامـه إبـن تيميـه رحمـه اللّه فرمايـي: چـې تـر څـو يـو څـوك د اهـل قبلـه نـه ګنـاه حلالـه ونـه ګنـي، يانـې عقيـده د تحليـل ونـه لـري، پـه مطلـق ارتـكـاب يـې اهـل السـنت والجماعـت تـكفيـر نـه كـوي، هغـه وايـي : **لا يكفـرون أحدًا مـن أهـل القبلـة بذنـب.** چـې اهـل

السـنت څـوك هـم د اهـل قبلـه ؤ څخـه پـه مطلـق ارتـكاب د ذنـب (ګنـاه) سـره نـه كـافـروي.
(مجموع الفتوی، جلد: ۲۰، صفحه: ۹۰)

مقصـد دا دی چـې تـكفيـر يـوه لـه خطـر څخـه ډكـه او سـنګينه موضـوع ده، پـدې كـې تلـوار او بېـړه كـول د اهـل السـنت والجماعـت مـزاج نـه دی او د اهـل السـنت اكابرينـو همېشـه پـه دې موضـوع كـې ډېـر احتيـاط كـړی دی، څكـه خـو امـام قرطبـي رحمـه الله فرمايـي:
**وبـاب التكـفير بـاب خـطير، أقـدم عليـه كـثير مـن النـاس فسـقطوا، وتوقـف فيه الفحـول فسـلموا، ولا يعدل بالسلامة شيئا.**

**ژبـاړه:** د تـكفيـر بـاب ډېـر خطرنـاك دی، ډېـرو خلكـو پـه تـكفيـر كـې اقـدام او جـرأت وكـړ، نـو وغورځېدل، او پوهـه او جيـدو علمـاء كرامـو پـكې توقـف وكـړ، نـو هغـوی بـچ پاتې شول او د بچ پاتې كېدو سره هيڅ شی برابر نه دی.

تـكفيـري مـزاج او پـه تـكفيـر كـې جلدبـازي او تلـوار كـول الفـت، مينـه او محبـت پـه ټولنـه او معاشـره كـې ختمـوي، بغـض، عـداوت او فرقـه بـازي رامنځتـه كـوي، ګـډوډي او بـد نظمـي پيـدا كـوي، د مسـلمانانو قـوت ماتـوي، كفـار ترېنـه نـاوړه اسـتفاده كـوي، معصومـې وينـې او مالونـه مبـاح ګنـي، د خپلـو اميرانـو خلاف خـروج او بغـاوت تـه لاره هـواره وي، د سـلفو، مشـرانو او اكابـرو علمـاء كرامـو ګسـتاخي كـوي، لكـه د خوارجو يو مشـر عمـر بـن عبيـد وويـل: چـې زه د علـي، عثمـان طلحـه او زبيـر رضـي الله عنهـم ګواهـي نـه قبلووم. **ما أجزت شهادتهم.**

د الأهـم فالأهـم څخـه توجـه اړوي، پـه دې وجـه امـام بخـاري رحمـه الله بـاب ايښـی دی: بـاب تـرك قتال الخوارج.

تـكفيـر كـې جلـد بـازي (تلـوار يـا بېـړه) كـوونكـي مـاهـر فقهـاء او مسـتند متبحـر علمـاء كـرام نـه وي، بلكـې كـم عمـره او سـطحي علـم والا حضـرات وي، چـې د فايـدې پـه ځـای يې نقصـان ډېـروي، لكـه حسـن بصـري رحمـه الله فرمايـي: العامـل علـی غيـر علـم يفسـد أكثر ممـا يصلـح. يانـې څـوك چـې بغيـر د علـم نـه كـار كـوي، د هغـه نقصـان د فائـدې نـه ډېـروي، نـو **"فاطلبـوا العلـم طلبًـا لا تضـروا بالعبـادة"** نـو علـم پـه داسـې طريقـې سـره طلـب كـړئ، چـې عبـادت تـه پـرې نقصـان ونـه رسـېږي او **"واطلبـوا العبـادة طلبًـا لا تضـر بالعلـم، فـإن القـوم طلبـوا العبـادة وتركـوا العلـم حتـی خرجـوا بأسـيافهم علـی أمـة محمـد صلـی اللـه عليـه وسـلم"**. او عبـادت پـه داسـې طريقـې سـره طلـب كـړئ، چـې علـم تـه وربانـدې نقصـان ونـه رسـېږي، څكـه چې يو قـوم عبـادت طلـب كـولـو او علـم يـې پرېښـود، د هغـې وجـې نـه يـې د نبـي عليـه السـلام پـه

امت باندې توره راوویستله.
"ولو طلبوا العلم لم يدلهم على ما فعلوا" او کـه چرتـه علـم یـې طلـب کـړی وي (یانـې څـه علمـي تحقیـق یـې کـړی وي) نـو دوی تـه بـه د دې کار ښـودنه نـه وي شـوې. (مفتـاح دار السعادة، صفحه:۸۳)
کومـو خوارجـو چـې عثمـان رضـي الله عنـه شـهید کـړی و، هغـوی هـم کـم علمـه وو، ځکـه هغـوی کـې یـو کـس هـم د صحابـه کرامـو څخـه نـه و، کومـو خوارجـو چـې علـي رضي الله عنه شهید کړی و، هغه هم جاهلان وو، جید علماء کرام پکې نه وو.
پـدې وجـه امـام إبـن تیمیـه رحمـه الله د خپـل کتـاب الـرد علـی البکـري د ۲ جلـد پـه ۴۹۰ صفحـه کـې فرمایـي: چـې پـه اهـل السـنت والجماعـت کـې علـم وي، عـدل او رحمـت وي، د اهـل السـنت والجماعـت مـزاج کـې علـم وي عـدل او مهربانـي وي پـه امـت باندې، بالمقابـل خوارجو کې علم نه وي، عدل او رحم پکې په امت نه وي.
لهذا خلاصـه خبـره دا ده، چـې تکفیـر کـې جلـد بـازي او تلـوار کـول، لکـه څرنګـه چـې سـابقه ادوارو کـې امـت تـه ډېـر نقصـان رسـولی او اوس یـې چـې پـه معاصـر جهـاد کـې امـت مسلمه او مجاهدینو ته چې کوم نقصان ورساوو، زمونږ مخې ته ښه روښانه پروت دی.
د سـلفو صالحینـو (صحابـه کرامـو، تابعینو، تبـع تابعینو یانـې اهل القـرون الثلاثـة) مـزاج دا و، چـې پـه تکفیـر کـې بـه یـې نهایـت احتیـاط کاوو، ځکـه پـه دې بانـدې نهایـت خطرنـاك نتائـج مرتـب کېـږي، فِـرَقِ ضالّـه (ګمراهـې فرقـې) یانـې خـوارج، معتزلـه، جهمیـه، شـیعه ګان او داسـې نـورې اسلام تـه منسـوبې ګمـراه ډلـې چـې د اهـل السـنت څخه خارجـې دي، د سـلفو پـه وخـت کـې هـم د دغـه ګمـراه عقائدو سـره موجـودې وې، خو سـلفو پـه فِـرَقِ ضالّـه وو کـې شـمار کـړې وې، یانـې د فِـرَقِ ضالّـه وو (ګمـراه ډلـو) تعبیـریـې تـرې نـه کـړی، پـه فِـرَقِ مرتـده یـا پـه فِـرَقِ کافـره وو سـره یـې تعبیـر نـکـوي، اګرچې پـه دې کـې د بعضـو عقائـد کفـري وو او د هغـو عقائـدو پـه کفـر بانـدې اجمـاع د سـلفو وه، خـو بیـا هـم علـی الاطلاق د دغـو فرقـو یـا پـه معینـه توګـه د دغـه فرقـو د افـرادو تکفیـر سـلفو نـه کاوو، مـثلاً معتزلـه او جهمیـه دوه خطرناکـې ګمـراه ډلـې دي، چـې ډېـر عقائـد یـې کفریـه وو، لکـه معتزلـه وو عـذاب قبـر نـه منلـو، وزن د اعمالـو یـې نـه منلـو، پل صـراط یې نـه منلـو، دا یـې نـه منلـه چـې جنـت او دوزخ اوس موجـود دي او جـوړ دي، پـه آخـرت کـې د الله د رؤیـت او دیـدار څخـه منکـر وو، دغـه شـان معتزلـه وو او جهمیـه وو قـرآن کـریـم د الله تعالـی کلام نـه منلـو، بلکـې قـرآن کـریـم یـې مخلـوق ګڼلـو او حـال دا دی چـې پـه دې د سـلفو

اجماع ده، چې څوك د قرآن كريم د يو حرف باره كې هم دا عقيده ولري، چې ګواكې دا مخلوق دى، نو دا كفر دى، خو بيا هم سلفو معتزله ؤ او جهميه ؤ ته ګمراه ويل، خو كافر او مرتد يې ورته نه ويل، بلكې مأمون، واثق او معتصم د مسلمانانو درې واړه خليفه ګان اعلى معتزله وو، او د اهل السنة لوى لوى امامان او علماء كرام به يې په دې وجه بنديانول او شهيدانول چې دوى د خلق القرآن عقيده ولې نه لري او اهل السنت علماء كرام به يې د سركاري او حكومتي منصبونو څخه معزول كول او ترهغه به يې په بند كې ساتل چې ترڅو د خلق القرآن د عقيدې اقرار ونكړي، لكه شيخ الاسلام حافظ ابن تيميه رحمه الله په مجموع الفتاوى كې فرمايي: **كَمَا قَالَ السَّلَفُ مَنْ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ فَهُوَ كَافِرٌ وَمَنْ قَالَ: إنَّ اللَّهَ لَا يُرَى فِي الْآخِرَةِ فَهُوَ كَافِرٌ وَلَا يَكْفُرُ الشَّخْصُ الْمُعَيَّنُ حَتَّى تَقُومَ عَلَيْهِ الْحُجَّةُ.**

**ژباړه:** لكه څرنګه چې سلفو رحمهم الله فرمايلي دي: چې څوك قرآن كريم ته مخلوق وايي يا په آخرت كې د الله سبحانه وتعالى د دېدار نه انكار كوي، نو هغه كافر دى، خو يو معين شخص وړاندې ترهغه نه كافر كېږي، ترڅو چې وړاندې حجت نه وي تمام شوى (يانې چې ترڅو يې د شكوكو او شبهاتو ازاله نه وي شوې او د شكوكو او شبهاتو په اساس د كتاب او سنت نه خپل باطل استدلال كوي، نو د دغه باطل تاويل په اساس د دوى تكفير په معين او مشخص طور سره نشي كېدلاى، نو څكه مونږ نشو ويلاى چې معتزله من حيث الجماعة يا من حيث الفرقه كافران دي، څكه دا حكم فرد - فرد ته شامليږي او داسې تكفير د اهل السنت والجماعت د منهج او عقيدې خلاف دى، هو؛ داسې ويلاى شو چې عقيده د خلق القرآن يا عقيده د انكار د رؤيت الهى آخرت كې كفر ده).

دغه شان شيخ الاسلام حافظ ابن تيمه رحمه الله بل ځاى فرمايي: **وَعَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ الصَّادِقِ - وَهُوَ مَشْهُورٌ عَنْهُ - أَنَّهُمْ سَأَلُوهُ عَنْ الْقُرْآنِ أَخَالِقٌ هُوَ أَمْ مَخْلُوقٌ؟ فَقَالَ: لَيْسَ بِخَالِقِ وَلَا مَخْلُوقٍ وَلَكِنَّهُ كَلَامُ اللَّهِ. وَهَكَذَا رُوِيَ عَنْ الْحَسَنِ الْبَصْرِيِّ وَأَيُّوبَ السختياني وَسُلَيْمَانَ التيمي وَخَلْقٍ مِنْ التَّابِعِينَ. وَعَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَاللَّيْثِ بْنِ سَعْدٍ وَسُفْيَانَ الثَّوْرِيِّ وَابْنِ أَبِي لَيْلَى وَأَبِي حَنِيفَةَ وَالشَّافِعِيِّ وَأَحْمَد بْنِ حَنْبَلٍ وَإِسْحَاقَ بْنِ رَاهَوَيْه وَأَمْثَالِ هَؤُلَاءِ مِنْ الْأَئِمَّةِ وَكَلَامُ هَؤُلَاءِ الْأَئِمَّةِ وَأَتْبَاعِهِمْ فِي ذَلِكَ كَثِيرٌ مَشْهُورٌ بَلْ اشْتَهَرَ عَنْ أَئِمَّةِ السَّلَفِ تَكْفِيرُ مَنْ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ كَمَا ذَكَرُوا ذَلِكَ عَنْ مَالِكِ بْنِ أَنَسٍ وَغَيْرِهِ وَهَذَا الْمَأْثُورُ عَنْ أَحْمَد وَهُوَ الْمَأْثُورُ عَنْ عَامَّةِ أَئِمَّةِ السُّنَّةِ وَالْحَدِيثِ أَنَّهُمْ كَانُوا يَقُولُونَ؛**

مَنْ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ فَهُوَ كَافِرٌ وَمَنْ قَالَ: إِنَّ اللَّهَ لَا يُرَى فِي الْآخِرَةِ فَهُوَ كَافِرٌ وَنَحْوَ ذَلِك.

ژباړه: او د امام جعفر بن محمد صادق رضي الله عنه نه مشهور روایت دی چې د نومړي څخه خلکو تپوس وکړ، چې قرآن کریم خالق دی که مخلوق؟ نو هغه په جواب کې ورته وفرمایل: چې نه خالق دی او نه مخلوق، بلکې د الله کلام دی او د امام جعفر صادق رضي الله عنه په شان روایت د حسن بصري، ایوب السختیاني، سلیمان التیمیي رحمهم الله او د نورو ډېرو تابعینو رحمهم الله څخه هم نقل شوی دی او هم دغه شان روایات د امام مالك، لیث بن سعد، سفیان الثوري، ابن ابي یلی، امام ابوحنیفه، امام شافعي، امام احمد بن حنبل، اسحاق ابن راهویه رحمهم الله او د دوی په شان د نورو امامانو رحمهم الله څخه هم نقل شوي، نو په دغه موضوع کې د دغه امامانو او د دوی د اتباعو مذهب او موقف ډېر مشهور دی، بلکې د اهل السنت د امامانو او سلفونه د هغه چا تکفیر مشهور دی، هغه چې وایي، چې قرآن کریم مخلوق دی.

او دا خبره د امام احمد بن حنبل رحمه الله او د اهل السنت د نورو أئمو و رحمه الله نه هم نقل شوې ده، چې دوی فرمایي: چې څوك ووايي، چې قرآن کریم مخلوق دی یا د الله سبحانه وتعالی به په آخرت کې دیدار نشي کېدلای، نو دا سړی کافر دی.

او بل ځای کې فرمایي: وَأَمَّا أَحْمَد بْنُ حَنْبَلٍ فَكَلَامُهُ فِي مِثْلِ هَذَا مَشْهُورٌ مُتَوَاتِرٌ وَهُوَ الَّذِي اشْتَهَرَ بِمِحْنَةِ هَؤُلَاءِ الْجَهْمِيَّةِ فَإِنَّهُمْ أَظْهَرُوا الْقَوْلَ بِإِنْكَارِ صِفَاتِ اللَّهِ تَعَالَى وَحَقَائِقِ أَسْمَائِهِ وَأَنَّ الْقُرْآنَ مَخْلُوقٌ حَتَّى صَارَ حَقِيقَةُ قَوْلِهِمْ تَعْطِيلَ الْخَالِقِ سُبْحَانَهُ وَتَعَالَى وَدَعَوْا النَّاسَ إلَى ذَلِكَ وَعَاقَبُوا مَنْ لَمْ يُجِبْهُمْ إمَّا بِالْقَتْلِ وَإِمَّا بِقَطْعِ الرِّزْقِ وَإِمَّا بِالْعَزْلِ عَنْ الْوِلَايَةِ وَإِمَّا بِالْحَبْسِ أَوْ بِالضَّرْبِ وَكَفَّرُوا مَنْ خَالَفَهُمْ فَثَبَّتَ اللَّهُ تَعَالَى الْإِمَامَ أَحْمَد حَتَّى أَخْمَدَ اللَّهُ بِهِ بَاطِلَهُمْ وَنَصَرَ أَهْلَ الْإِيمَانِ وَالسُّنَّةِ عَلَيْهِمْ وَأَذَلَّهُمْ بَعْدَ الْعِزِّ وَأَخْمَلَهُمْ بَعْدَ الشُّهْرَةِ وَاشْتَهَرَ عِنْدَ خَوَاصِّ الْأُمَّةِ وَعَوَامِّهَا أَنَّ الْقُرْآنَ كَلَامُ اللَّهِ غَيْرُ مَخْلُوقٍ وَإِطْلَاقُ الْقَوْلِ أَنَّ مَنْ قَالَ إنَّهُ مَخْلُوقٌ فَقَدْ كَفَرَ وَبِذَلِكَ أَفْتَى الْأَئِمَّةُ وَالسَّلَفُ فِي مَثَلِهِ وَالَّذِي يَقُولُ الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ هُوَ فِي الْمَعْنَى مُوَافِقٌ لَهُ فَلِذَلِكَ كَفَّرَهُ السَّلَفُ.

قَالَ الْبُخَارِيُّ فِي كِتَابِ "خَلْقِ الْأَفْعَالِ" قَالَ سُفْيَانُ الثَّوْرِيُّ: مَنْ قَالَ الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ فَهُوَ كَافِرٌ.

ژباړه: او په دې اړه خو د امام احمد بن حنبل رحمه الله موقف ډېر مشهور او د تواتر حد ته رسېدلی او د جهمیه ؤ په وجه امام احمد رحمه الله د مشهوري ابتلاء سره مخ شوی و او دغه جهمیه ؤ به په ښکاره توګه د الله تعالی د صفاتو او د الله د اسماؤ د حقیقت نه انکار کاوو او په ښکاره به یې ویل چې قرآن کریم مخلوق دی، تردې چې د دې موقف حقیقت د الله سبحانه وتعالی تعطیل ګرځېدلی و او دېته به یې خلك رابلل او چې چا به

يـې دعـوت نـه منلـو، نـو سـزاګانې بـه يـې ورکـولې يـا بـه يې پـه قتـل رسـول، يا بـه يـې ورته د بيت المـال نـه سـرکاري وظيفـه (تنخـواه) بندولـه، يـا بـه يـې د منصب نـه معـزول (منفك) کاوو، يـا بـه يـې بنـدي کـاوو، يـا بـه يـې وهلـو او د هـر هغـه چـا تکفيـر بـه يـې کـاوو چې د دوی د عقيـدې مخالفـت بـه يـې کـاوو، نـو الله سـبحانه وتعالـی د دوی پـه مقابلـه کـې امـام احمـد بـن حنبـل رحمـه الله تـه استقامت ورکـړ او د دوی پـه مقابله کې کلـك ودرېد، تردې چې الله سـبحانه وتعالـی د ده پـه ذريعـې د باطـل اور مړ کـړ او د ده پـه ذريعـې الله تعالـی اهـل السـنت پـه دوی غالـب کـړل او د عـزت نـه بعـد الله تعالی جهميـه او معتزلـه ذليله کـړل او الله تعالـی د دوی شـهرت هـم ختـم کـړ او پـه عامـو او خاصـو کـې دا خبـره مشـهوره شـوه چـې قـرآن کـريـم د الله جـل جلالـه کلام دی او مخلـوق نـه دی او دا خبـره مطلقـاً مشـهوره شـوه، چې کـه څـوك ووايـي، چـې قرآن کريـم مخلـوق دی نو هغـه يقينـاً کافر دی او پـه همـدې خبـره د اهل السـنت امامانـو او سـلفو فتـوا ورکـړه، چـې څـوك قـرآن کريـم تـه مخلـوق وايـي، هغـه کافر دی.

امـام بخـاري رحمـه الله هـم پـه خپـل کتـاب (خلـق الافعـال) کـې د سـفيان الثـوري رحمـه الله فتوا رانقل کـړې، چې څوك قرآن کريم ته مخلوق وايي، نو کافر دی.

بـل ځـای فرمايـي: وَتَكْفِيرُ الْجَهْمِيَّةِ مَشْهُورٌ عَنْ السَّلَفِ وَالْأَئِمَّةِ، لَكِنْ مَا كَانَ يَكْفُرُ أَعْيَانُهُمْ فَإِنَّ الَّذِي يَدْعُو إلَى الْقَوْلِ أَعْظَمُ مِنْ الَّذِي يَقُولُ بِهِ وَالَّذِي يُعَاقِبُ مُخَالِفَهُ أَعْظَمُ مِنْ الَّذِي يَدْعُو فَقَطْ وَالَّذِي يُكَفِّرُ مُخَالِفَهُ أَعْظَمُ مِنْ الَّذِي يُعَاقِبُهُ وَمَعَ هَذَا فَالَّذِينَ كَانُوا مِنْ وُلَاةِ الْأُمُورِ يَقُولُونَ بِقَوْلِ الْجَهْمِيَّةِ، إنَّ الْقُرْآنَ مَخْلُوقٌ وَإِنَّ اللَّهَ لَا يُرَى فِي الْآخِرَةِ وَغَيْرُ ذَلِكَ. وَيَدْعُونَ النَّاسَ إلَى ذَلِكويمتحنونهم وَيُعَاقِبُونَهُمْ إذَا لَمْ يُجِيبُوهُمْ وَيُكَفِّرُونَ مَنْ لَمْ يُجِبْهُمْ. حَتَّى أَنَّهُمْ كَانُوا إذَا أَمْسَكُوا الْأَسِيرَ لَمْ يُطْلِقُوهُ حَتَّى يُقِرَّ بِقَوْلِ الْجَهْمِيَّةِ، إنَّ الْقُرْآنَ مَخْلُوقٌ وَغَيْرُ ذَلِكَ.

وَلَا يُوَلُّونَ مُتَوَلِّيًا وَلَا يُعْطُونَ رِزْقًا مِنْ بَيْتِ الْمَالِ إلَّا لِمَنْ يَقُولُ ذَلِكَ وَمَعَ هَذَا فَالْإِمَامُ أَحْمَد رَحِمَهُ اللَّهُ تَعَالَى تَرَحَّمَ عَلَيْهِمْ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمْ وَكَذَلِكَ الشَّافِعِيُّ لَمَّا قَالَ لِحَفْصِ الْفَرْدِ حِينَ قَالَ: الْقُرْآنُ مَخْلُوقٌ: كَفَرْت بِاَللَّهِ الْعَظِيمِ. بَيَّنَ لَهُ أَنَّ هَذَا الْقَوْلَ كُفْرٌ وَلَمْ يَحْكُمْ بِرِدَّةِ حَفْصٍ بِمُجَرَّدِ ذَلِكَ؛ لِأَنَّهُ لَمْ يَتَبَيَّنْ لَهُ الْحُجَّةُ الَّتِي يَكْفُرُ بِهَا وَلَوْ اعْتَقَدَ أَنَّهُ مُرْتَدٌّ لَسَعَى فِي قَتْلِهِ وَقَدْ صَرَّحَ فِي كُتُبِهِ بِقَبُولِ شَهَادَةِ أَهْلِ الْأَهْوَاءِ وَالصَّلَاةِ خَلْفَهُمْ.

ژبـاړه: او د اهـل السـنت د امامانـو او سـلفونـه د جهميـه ؤ تکفيـر مشـهور دی، البتـه معيـن تکفيـر بـه يـې د چـا نـه کـاوو، ځکـه څـوك چـې د جهميـه ؤ عقيـدې تـه دعـوت ورکـوي، هغـه غـټ جهمـي دی د هغـه کـس نـه چـې فقـط د جهميت عقيـده يـې وي او څـوك چـې د

جهمـي عقيـدې پـه مخالفـت سـزاکانې ورکـوي، هغـه غـټ جهمـي دی د هغـه کـس نـه چې هغـه فقـط دعـوت ورکـوي جهميـت تـه، او ځـوک چـې د هغـه چـا تکفيـر کـوي چـې د جهميـت د عقيـدې مخالـف وي، دا غـټ جهمـي دی د هغـه چـا نـه چـې د جهميـت مخالفينـو تـه سـزاکانې ورکـوي او پـه هغـه وخـت کـې چـې د مسـلمانانو کـوم حکمرانـان وو، د هغـوی عقيـده هـم د جهميـت وه او دا بـه يـې ويـل چـې قـرآن کريـم مخلـوق دی او د الله ديـدار پـه آخـرت کـې نشـي کېـدلای او دغـه شـان نـور د اعتـزال او جهميـت عقائـد يـې وو، او دغـه حکمرانانـو بـه خلـک دغـې باطلـې عقيـدې تـه رابلـل او د دغـه عقيـدې مخالفينـو تـه بـه يې سـزاکانې ورکولـې او چـې چـا بـه يـې دعـوت نـه قبلولـو، نـو کافـر بـه يـې ګڼلـو تـردې چې کـه يـو سـني مسـلمان بـه يـې بنـدي کـړ، نـو تـر هغـې بـه يـې نـه آزادولـو چـې ترڅـو د جهميـت او اعتـزال پـه دې موقـف او عقيـدې، چـې قـرآن مخلـوق دی او دېتـه ورتـه پـه نـورو باطلـو عقائـدو بانـدې اقـرار ونـکړي، او تـر هغـې بـه يـې يـو چـا تـه سـرکاري منصـب او عهـده نـه ورکولـه، نـه بـه يـې ورتـه د بيـت المـال څخـه وظيفـه (تنخـواه) ورکولـه چـې ترڅـو پـه دغـه عقائـدو اقـرار ونـکړي، خـو سـره د دې نـه امـام احمـد بـن حنبـل رحمـه الله بـه دوی تـه د رحـم دعـا کولـه چـې الله تعالـی دې پـه دوی رحـم وکـړي او الله تعالـی دې دوی تـه بخښـنه وکـړي، يانـې د ترحـم دعـا او اسـتغفار بـه يـې د دوی لپـاره غوښـت. همدارنګـه کلـه چـې د امـام شـافعي رحمـه الله مخـې تـه حفـص الفـرد وويـل، چـې قـرآن مخلـوق دی، نـو امـام شـافعي رحمـه الله ورتـه پـه ځـواب کـې وويـل، چـې کفـر دې وکـړ او بيـان يـې ورتـه وکـړ چـې دا موقـف کفـر دی، خـو صـرف پـه دغـه خبـره يـې د هغـه پـه ارتـداد حکـم ونـکړ، ځکـه حفـص الفـرد تـه هغـه دليـل نـه و واضـح، د کـوم دليـل پـه وجـه چـې دی کافـر کېـده او کـه چېرتـه د امـام شـافعي رحمـه الله دا عقيـده وه چـې حفـص الفـرد مرتـد شـوی دی، نـو د وژلـو کوښـښ بـه يـې ورتـه کـړی و. او د امـام شـافعي رحمـه الله پـه کتابونـو کـې د اهـل بدعـو د شـهادت پـه قبلولـو او د هغـوی پـه اقتـداء کـې پـه لمونـځ کولـو تصريـح ده، يانـې امـام شـافعي رحمـه الله خـوارج، معتزلـه، جهميـه وغيـره بدعـه فرقـې (ګمـراه ډلـې) کافـرې او مرتـدې نـدي ګڼلـي، بلکـې شـهادت يـې ورتـه هـم قبلولـو او لمونـځ يـې هـم وروسـتـې جائـز ګڼلـو، ځکـه چـې اهـل السـنت پـه دوی پسـې لمونـځ کـوي او جائـز يـې بولـي او اهـل بـدع پـه اهـل السـنت پسـې لمونځ جائز نه بولي.

شـيخ الاسلام علامـه حافـظ ابـن تيميـه رحمـه الله د يـوې مباحثـې پـه مجلـس کـې د خپلـې زمانـې يـو شـافعي عالـم تـه وفرمايـل: عِنْدِي عَقِيدَةٌ لِلشَّيْخِ أَبِي الْبَيَانِ، فِيهَا أَنَّ مَنْ قَالَ: إِنَّ حَرْفًا

مِنْ الْقُرْآنِ مَخْلُوقٌ فَقَدْ كَفَرَ وَقَدْ كَتَبْتَ عَلَيْهَا بِخَطِّك أَنَّ هَذَا مَذْهَبُ الشَّافِعِيِّ وَأَئِمَّةِ أَصْحَابِهِ.

ژباړه: چې زما سره د شيخ أبو البيان رحمه الله عقيد ده، چې په هغې کې نومورې رحمه الله فرمايي، چې څوك د قرآن کريم يو حرف ته هم مخلوق ووايي، نو هغه کفر وکړ او تا خپل خط په هغه باندې ليکلي دي چې دا د امام شافعي رحمه الله او د هغه د اصحابو مذهب دی.

مقصد د دغه ټولو عبارتونو څخه دا و، چې سلف د دې باوجود چې په اتفاق سره عقيده د خلق القرآن ته کفر وايي، خو بيا هم معتزليانو او جهميانو ته کافر نه وايي، بلکې په فِرَقِ ضاله او فِرَقِ مبتدعه ؤ کې يې شماري او نه يې مأمون الرشيد، معتصم بالله او واثق بالله ته مرتدين ويل، اګرچې دا اعلی معتزله وو او د اعتزال د عقيدې د نه قبلولو په وجه يې لوی لوی سلف علماء شهيدانول، بنديانول، د منصبونو او عهدو نه يې لرې کول او وظيفې (تنخواګانې) يې ورته د بيت المال څخه بندولې او بعضې يې تر هغې پورې په قيد او بند کې ساتل چې تر څو دغه باطله عقيده قبوله نکړي، خو بيا هم سلفو د دوی په تکفير کې ډېر زيات احتياط کاوو او د دغه خلفاوو تکفير يې نه کاوو.

لکه ابو حامد بن مرزوق رحمه الله فرمايي: لم يكفر الفقهاء ولا المحدثون المعتزلة، مع ضلالهم وانحرافهم عن نهج السواد الأعظم، ومع ضلالهم لم يكفرهم التابعون ولا أتباعهم ومع تعذيبهم للعلماء لم يكفرهم أيضا الفقهاء ولا المحدثون، وأقصى ما قاله فيهم أهل السنة جميعا، أنهم مبتدعة.

حاصل يې دا دی، چې معتزله ؤ کې ډېر نقصانونه وو، ځکه دوی ګمراه وو، د اهل السنت والجماعت نه پکې انحراف و، علماء کرامو ته يې ډېرې سزاګانې ورکړې وې، خو فقهاؤ او محدثينو د دوی تکفير نه دی کړی، زيات نه زيات ټول اهل السنت د دوی په باره کې دا خبره کوي، چې دوی بدعتيان دي.

وقد كان لهم مع انحرافهم عن نهج السواد الأعظم مواقف مشكورة في الرد على الملاحدة والزنادقة الذين كثروا، فطعنوا في صدر الخلافة العباسية في الشريعة الإسلامية بشتى الوسائل، بالمناظرات والتأليف.

لنډيز: سره د دې چې په دوی کې د اهل السنة د منهج څخه انحراف موجود و، خو د دوی بعضې ښه کارونه هم وو، لکه دوی په هغه زنديقيانو او ملحدينو رد ونه کول چې ډېر شوي وو او د عباسي خلافت په اول وخت کې هغوی په مختلفو طريقو سره يانې په مناظرو او رسالو سره په اسلامي شريعت باندې تنقيدونه کول.

دغه شان ملا علي قاري رحمه الله د ابن حجر رحمه الله څخه نقل کوي، هغه فرمايي:
**الصواب عند الأكثرين من علماء السلف والخلف أن لا نكفر أهل البدع والأهواء إلا إذا أتوا بكفر صريح لا استلزامي، لأن الأصح أن لازم المذهب ليس بمذهب، ومن ثم لا يزال المسلمون يعاملونهم معاملة المسلمين في نكاحهم وإنكاحهم والصلاة على موتاهم، ودفنهم في مقابرهم، لأنهم وإن كانوا مخطئين غير معذورين حقت عليهم كلمة الفسق والضلالة إلا أنهم لم يقصدوا بما قالوه اختيار الكفر.**

ژباړه: حقه خبره په نيزد اکثر مخکينيو او وروستنيو علماء کرامو داده، چې مونږ د بدعتيانو تکفير نه کوو، مګر کله چې ښکاره کفر وکړي، نه التزامي کفر، ځکه ډېر صحيح مذهب دا دی چې لازم د مذهب مذهب نه وي، له همدې وجې، همېشه مسلمانانو د بدعتيانو سره د مسلمانانو معامله کړې په نکاحونو کې، په جنازو کې، په ښخولو کې، ځکه دوی اګر که خطاء شوي دي او معذور نه دي، فاسق شوي، ګمراه شوي، خو دوی مقصد کفر نه و.

شهاب خفاجي رحمه الله هم فرمايي: **ذهب الأشعري إلى عدم تكفير أهل الهوى والمذاهب المردودة، وعلى ذلك أكثر العلماء من الحنفية والشافعية.**

ژباړه: ذهاب (ميلان او ورتګ) کړی ابو الحسن الاشعري رحمه الله عدم تکفير د بدعتيانو ته، او عدم تکفير د هغه مذهبونو ته چې هغه مردود دي، او دا رايه د اکثرو علماء کرامو ده، په احنافو او شوافعو کې

دا خبره هم د يادولو وړ ده، چې هر قسم بدعت سړی د سُنيّت يانې اهل السنت و الجماعت څخه نه اوباسي، په بدعاتو کې خپل مراتب او قسمونه دي، الاعتصام کې امام شاطبي رحمه الله وربانديې ښه خوندور بحث کړی، پخواني مبتدعين لکه معتزله، جهميه، قدريه، خوارج اهل تشيع دوی ټول د عقائدو، اصولو او کلياتو مبتدعين وو، يانې بدعات کليه ؤ کې اخته وو، نو هغوی د اهل السنت څخه خارج دي او که څوک عقيدوي، اصولي او کلي بدعاتو کې نه وي اخته، بلکې يو جزئي او فرعي بدعت کې اخته وي، نو په دې سره د سنيت (اهل السنت والجاعت) څخه نه خارجېږي، او بعضې خو اختلافي وي په مابين د اهل السنت کې، نو د هغه خو بدعت هم اتفاقي نه وي، نو څوک وربانديې د استحباب قول کوي او څوک د بدعت، لکه د **(معالم فی الوسطية والاعتدال)** په دوه ويشتمه صفحه کې د بدعاتو د مراتبو په اړه ليکلي دي:

**تفاوت مراتبا لبدع، فمنها ما يخرج منا لسنة، ومنها ما دون ذلك، كما في كلاما لشاطبي في**

"الاعتصـام" وتقسـيمها لبدعـة إلى كليـة وجزئيـة، وأن الجزئيـة لا تُخـرج مـن السـنة إلا إذا كثرت حتى تقوم مقام البدعة الكلية، القائمة على أصل مخالف للكتاب والسنة.

## دبدعـــــاتو د مرتبو فـــرق :

ژبـاړه: بعضـې د دې ډلـه هغـه دي چـې سـرې د اهـل السـنت ډلـه اوباسـي او بعضـې دې مرتبـې والانـه دي، بلکـې د دې ډلـه د کمـې مرتبـې والا دي، يانـې سـړی ورباندې د سنيت ډله نه اوځـي، لکـه دا خبـره چـې امـام شـاطبي رحمـه الله پـه اعتصـام کـې کـړې ده او بدعـت يـې تقسـيم کـړې دی کلـي او جزئـي تـه، او فرمايـي چـې جزئـي بدعـات سـړی د اهل السـنت ډله نـه اوباسـي، مګـر پـه هغـه صـورت کـې چـې بېخـي ډېـر شـي تـردې چـې د کلـي بدعاتـو مقام ته ورسېږي، چې هغه د قرآن او سنت په مخالف اصل او قاعده باندې ولاړ دي.
شيخ الاسلام علامـه ابـن تيميـه رحمـه الله هـم فرمايـي: چـې ډېـر اهـل السـنت و الجماعـت پـه بعضـې بدعاتـو کـې اختـه وي خـو پـدې سـره هغـه د اهـل السـنت والجماعـت ډلـه نـه خارجېږي.
علامه شاطبی رحمه الله په خپل کتاب (الاعتصام) کې فرمايي:
ثُـمَّ إِنَّ الْبِـدَعَ عَلَـى ضَرْبَيْنِ: كليَّـة وجزئيَّـة، فأمَّـا الكليَّـة: فَهِـيَ السَّـارِيَةُ فِـيمَا لَا يَنْـحَصِرُ مِـنْ فُـرُوعِ الشَّرِيعَةِ، وَمِثَالُهَا بِدَعُ الْفِرَقِ الثَّلَاثِ وَالسَّبْعِينَ فإنَّها مُخْتَصَّةٌ بِالْكُلِّيَّاتِ مِنْهَا دُونَ الْجُزْئِيَّاتِ.
وأمَّـا الْجُزْئِيَّـةُ: فَهِـيَ الْوَاقِعَـةُ فِي الْفُـرُوعِ الْجُزْئِيَّـةِ، وَلَا يَتَحَقَّـقُ دُخُـولُ هَـذَا الضَّـرْبِ مِـنَ الْبِـدَعِ تَحْـتَ الْوَعِيـدِ بِالنَّـارِ، وَإِنْ دَخَلَـتْ تَحْـتَ الْوَصْـفِ بالضـلال، فَعَلَـى هَـذَا إِذَا اجْتَمَـعَ فِي الْبِدْعَـةِ وَصْفَـان، كَوْنُهَا جُزْئِيَّةً وَكَوْنُهَا بِالتَّأْوِيلِ، صَحَّ أَنْ تَكُونَ صغيرة والله أعلم.
ژبـاړه: بدعـت پـه دوه قسـمه دی، بدعـات کليـه او بدعـات جزئيـه، هرچې بدعات کليـه دي، نـو هغـه د شـريعت پـه بـې شـمېره جزياتـو او فروعاتـو کـې سـرايت کـوي (يانـې د دغـه بدعاتـو پـه وجـه د ديـن بـې شـمېره فرعـي او جزئـي احکامـو صـورت متغيـر کېږي، لکـه د شيعه ګانـو، معتزلـه ؤ، جهميـه ؤ، خوارجـو وغيـره بدعـات) د هغـه مثـال لکـه د (۷۳) درې اويـا ګمراهـو ډلـو او فرقـو بدعـات چـې دا فـرق مختـص دی پـه کلـي بدعاتـو پـورې، نـه پـه جزئياتـو پـورې، او هرچـې جزئـي بدعـات دي نـو هغـه پـه جزئـي فروعـو کـې واقـع کېږي او تر هغـه جزئـي مسـئلې پـورې محـدود وي او بس. او دا قسـم بدعـات د هغـه بدعاتـو ډلـه نـه دي، د کومـو بدعاتـو پـه بـاره کـې چـې د جهنـم پـه اور د سـزا ورکولـو وعيـد (خبـرداری) ورکـړای شـوی، اګـرکـه دا هـم پـه ضلالـت او ګمراهـي کـې راځـي، نـو کلـه چـې پـه يـو بدعـت

کې دوه صفات راشي، یو دا چې بدعت جزئي وي، دویم دا چې په تاویل سره وي، نو دغه بدعت وړوکی بدعت دی.

نو علامه شاطبي رحمه الله په دې ځای کې د بدعاتو د حکم په حوالې سره خوندور بحث کړی دی، نو د بدعاتو موضوع هم نن سبا په څه جهتونو کې د افراط ښکار ده، او په جزئي او اشتباهي او اختلافي بدعاتو یو بل د اهل السنت څخه د ویستل کېدو فتواګانې جاري کېږي، او په یو بل پسې لمونځ کول مکروه تحریمي یا ناجائز بولي، چې دا قسم تشدد هم اسلامي او جهادي تحریکاتو ته ناقابل تلافي نقصان رسوي، ځکه دغه شان افراطي کسانو ته په جهادي تحریکاتو کې ژوند ډېر ګران وي، ځکه جهادي تحریکات د ټول امت نمائندګي کوي، او کوښښ کوي چې د اسلامي امت ټول طبقات د کفري نظامونو په خلاف او د اسلامي نړۍ د آزادۍ لپاره د ځان سره راپورته کړي، او دغه شان عناصر کله د لوی اختلاف او افتراق سبب ګرځي، پداسې حال کې چې اسلافو په جهادي اعمالو کې د کفر خلاف د عقیدوي مبتدعینو یانې فِرَقِ ضالّه ؤ (ګمراهو ډلو) معتزله وغیره ؤ سره هم په ګډه او یو صف کې کار کړی دی.

نو د اهل السنت والجماعت د اصولو څخه یو مهم اصل دا هم دی، چې په تکفیر کې ډېر احتیاط پکار دی او په دې خبره د اهل السنت ټول فقهاء کرام او امامان متفق دي.

❶ امام ابوالحسن الاشعري رحمه الله: امام ذهبي رحمه الله فرمايي، چې د ابو الحسن الاشعري رحمه الله یوه خبره زما ډېره زیاته خوښه شوې ده او هغه دا چې کله وفات کېده، نو زاهر بن احمد السرخسي رحمه الله ته یې وویل: **اشهد على انى لا اكفر احدا من اهل القبلة لان الكل يشيرون الى معبود واحد.**

پدې خبره ګواه (شاهد) شه، چې زه یو کس ته هم کافر نه وایم، چې د اهل قبله ؤ څخه وي، ځکه دا ټول یو معبود ته اشاره کوي.

❷ امام ذهبي رحمه الله فرمايي: **قلت وبنحو هذا ادين، وكذا كان شيخنا ابن تيمية في اواخر ايامه يقول انا لا اكفر احد من الامة.**

ژباړه: زما هم دغه دین او طریقه ده چې چا ته کافر نه وایم، او زمونږ شیخ او استاد علامه ابن تیمیة رحمه الله به هم په آخري عمر کې دا خبره کوله چې زه په امت کې د هیچا تکفیر نه کووم

(سیر اعلام النبلاء للذهبي، جلد: ۱۵، صفحه: ۸۸)

۳ امـام غزالـي رحمـه الله فرمايـي: **انـه لايسـارع الـی التکفيـر الا الجهلـة وينبغـي الاحتراز مـن التکفيـر مـا وجـد الانسـان الـی ذالـک سـبيلا فـان اسـتباحة الدمـاء والامـوال مـن المصليـن الـی القبلـة المصرحيـن بقـول لا الـه الا اللـه محمـد رسـول اللـه خطأ والخطأ فـی تـرک الف کافـر اهـون مـن الخطاء فی سفک محجمة من دم مسلم .** (الاقتصاد في الاعتقاد للغزالي، صفحه: ۱۴۳)

**ژباړه:** شـان دادی چـې جلـدي (بېـړه او تلـوار) نـه کـوي تـکفيـر تـه، مګـر جـاهلان او پـکار دی احتـراز د تـکفيـر څخـه، ترڅـو چـې دېتـه انسـان لار بيـا مومـي، ځکـه مبـاح ګـرځـول د وينـو او مالونـو د لمونځ کـونکـو څخـه قبلـې تـه، چـې هغـوی تصريح کـوي پـه لا الـه الا الله محمـد رسـول الله، خطـاء ده، او خطـاء پـه پرېښـودلو د زرو کافرانـو کـې ډېـره اسـانه ده، د خطاء څخه په تويولو د معمولي وينې د مسلمان کې.

۴ علامـة ابـن نجيـم رحمـه الله فرمايـي: **وينبغـي للعـالم ان لايبـادر بتکفير اهـل الاسلام. عالم ته پکار ده چې په تکفير کې تلوار ونه کړي، واذا کان في المسئلة وجوه توجب التکفير ووجـه يمنع التکفير.**

**ژبـاړه:** او چـې کلـه پـه مسـئله کـې د تـکفيـر ډېـر وجوهـات وي او يـوه وجـه د تـکفيـر څخـه مانـع وي، نـو مفتـي تـه پـه کـار ده چـې هغـې وجـې تـه مـيلان وکـړي چـې د تـکفيـر څخـه مانع وي، ځکـه چې په مسلمان ښه ګمان پکـار دی (البحر الرائق: ۱۳۴/۵)

نـن سـبا بعضـي خلـک چـې تـکفيـري او خـارجي مـزاج لـري، پـه معمولـي احتمـال سـړی کـافر کـوي، او کـوښښ کـوي چـې د خپلـو مخالفينـو تـکفيـر تـه لاره پيـدا کـړي، اګـرکـه پـه کـمـزورو دلايلـو هـم وي، او حـال دا دی چـې د تـکفيـر موضـوع ډېـره خطرنـاکـه ده، پداسـې حـال کـې چـې سـلف صـالحينـو د تـکفيـر پـه موضـوع کـې ډېـر احتيـاط کـړی او حتـی الوسع کـوښښ بـه يـې کـاوو، چـې د يـو مسـلمان تـکفيـر ونشـي، اګـرکـه د عـدم تـکفيـر دليـل او وجـه ضعيفـه هـم وي، بلکـې کـه د عـدم تـکفيـر فقـط احتمـال وي، بيا هم هغه ته ترجيح ورکوي. (د دې خبرې مدلّل او مفصل وضاحت وروسته را روان دی).

معاصـر جهـاد تـه د تـکفيـري عناصـرو پـه وجـه نـاقابـل تلافـي (نـه جبرانېدونکـی) نقصـان ورسـېد، د جهـاد او مجاهدينـو پـه نـوم د عامـه مسـلمانانو، علمـاء کـرامـو او مجاهدينـو پـاکـې او سـپېڅلې وينـې تـوی شـوې، د مجاهدينـو صفونـه د افتـراق او انتشـار ښـکـار شـول، او داسـې غيـر شـرعي يـا مشـکـوکـې کـړنـې او پېښـې مخـې تـه راغلـې چـې جهـادي دعـوت او خوځښـتونو تـه يـې نـاقابـل تلافـي نقصـان ورسـاوو، د مجاهدينـو دعـوت او حيثيـت يـې پـه مسـلمانو اولسـونو او قومونـو کـې مشـکـوک کـړ، او د جهـادي تحريکـاتـو مخالفينـو او

طواغيتـو تـه يـې د داسـې پراپېګنـډو (پروپاګنـد او منفـي تبليغاتو) موقع او دلائـل په لاس ورکـړل، چـې اوس يـې هيـڅ تـدارك نـه کېږي، د دې هرڅـه ترشـا تـکـفيـري عناصـر او د هغـوی باطـل او غيـر سـني فکـر و، چـې د جهـادي تحريکاتـو مخـې تـه رکـاوټ (خنـډ) او مانـع و، چـې پـه خپـل محـاذ بانـدې مناسـب شـرعي جهـادي سياسـت او پاليسـي تشـکيل کـړي، او بـل دا چـې د دې پـه نتيجـه کـې پـه بعضـي محاذونـو بانـدې ګـټلـی جنـګ پـه شکسـت بـدل شـو، او بعضـي محاذونـه د نهايـت ضعـف سـره مـخ شـول، او ډېـره لويـه او تاريخـي قربانـي پـه دنيـوي اعتبـار سـره ضائـع شـوه، او د امـت کافـي تعـداد ځوانـان چـې د ابـتلاء او قربانـی ميـدان تـه راوتلـي وو، د خارجـي او تـکـفيـري عناصـرو پـه لاس يرغمـل شـول او پـه عالمـي (نړيـوال) جهـاد کـې د خوارجـو يـوه لويـه جبهـه وجـود تـه راغلـه، چـې پـه ټولـو جهـادي محاذونـو بانـدې يـې هـم د مجاهدينـو خلاف او هـم د علمـاء کرامـو او عامـه مسـلمانانو خلاف سـنګـر ونيـو، او پرتـه لـه کـوم توپيـر يـې د دې ټولـو خلاف د جهـاد پـه نـوم بانـدې عمليـات روان کـړل، چـې لا تـر اوسـه يـې دغـه باطلـه او وحشـي لـړۍ روانـه ده، او پـه عامـو مسـلمانانو اولسـونو او قومونـو کـې جهـادي دعـوت او تحريکاتـو تـه ډېـر زيـات معنـوي، مالي او ځانـي نقصـان رسـوي، د دې بنيـادي وجـه همـدا وه چـې د يولسـم سـتمبر د عملياتـو څخـه وروسـته پـه جهـادي ادبياتـو، ابلاغـي مـوادو او نشـراتو کـې د ولاء او بـراء، مظاهـرة علـی المسـلمين، موالاتـو او يـا نـورو موضوعاتـو پـه حوالـې سـره د نيمګـړو تـکـفيـري عناصـرو او ملايانـو مقالـې، ليکنـې او رسـائل نشـر کېـدل، چـې بالاخـره يوه مسـتقله تـکـفيـري جبهه ترېنـه وجـود تـه راغلـه، اوس هـم پـه جهـادي صفونـو کـې شـاملو علمـاء کرامـو او مشـائخ عظامـو تـه پـکـار ده، چـې د اهـل السـنت و الجماعـت د امامانـو او د سـلفو صالحينـو د منهج، مشـرب او مـزاج تـه پـه کـتـو د دغـه موضوعاتـو ښـه تحقيـق وکـړي، او مجاهديـن او جهـادي تحريـکـات د دغـه افـکـارو او عناصـرو څخـه بـچ کـړي، ځکـه د الله تعالـی د نصـرت وعده د اهـل السـنت والجماعـت سـره ده، کلـه چـې هـم د اهـل السـنت والجماعـت د مسـلك، مشـرب او مـزاج څخـه انحـراف راغلـی، نـو ناقابـل تلافـي (نـه جبرانېدونکـی) نقصـان او زيـان منځتـه راغلـی، بلکـې قوي قوي تحريکات د دې په وجه ختم شوي دي.

علامة شامي رحمه الله فرمايي: **لاينبغي للعالم ان يبادر بتكفير اهل الاسلام.**

**ژباړه:** عالم لره په کار نه دي، چې د مسلمانانو تکفير ته تلوار وکړي.

(حاشية ابن عابدين، جلد: ٦، صفحه: ٢٣٠)

علامـه ابـن همـام رحمـه الله فرمايـي: **يقـع في كلام اهـل المذهـب تكـفير كـثير ولكنـه ليـس من**

**كلام الفقهاء الذين هم المجتهدون بل من غيرهم ولا عبره بغير الفقهاء.**

ژباړه: د ډېرو احنافو په کلام کې تکفير ډېر واقع کېږي، ليکن دا د فقهاوو کلام نه دی ځکه هغوی مجتهدين دي او د فقهاوو نه علاوه د بل چا خبرو ته اعتبار نشته. (فتح القدير، جلد:٦، صفحه:١٠٠)

ابن الجزي المالکي رحمه الله فرمايي: د کفر کوم الفاظ چې په نصوصو کې راځي، نو د هغو مختلف احکام دي، فرمايي چې: **فمنها ماهو كفر ومنها ماهو دون الكفر ومنها مايجب فيه القتل ومنها مايجب فيه الادب ومنها مالايجب فيه شئ.**

ژباړه: بعضې کفر وي، بعضې د کفر څخه لاندې وي، په بعضو کې قتل واجبېږي، په بعضو کې ادب واجبېږي او په بعضو کې هيڅ هم نه واجبېږي او بيا وايي چې د دې پوره تفصيل قاضي عياض رحمه الله په الشفاء کې بيان کړی دی. (القوانين الفقهية لابن الجزي رحمه الله، صفحه:٢٤٠)

دغه شان شيعه ګان هم د دغه موجوده باطلو عقائدو سره د سلفو په دور کې وجود ته راغلي وو، خود شيعه ګانو هم سلفو على الاطلاق تکفير نه دی کړی، بلکې په عقائدو يې فتواګانې لګولې دي.

دغه شان خوارج چې د ټولو نه اوله ګمراه فرقه وجود ته راغله او ځان يې اسلام ته منسوبولو، او په هغه وخت کې د موجودو ټولو صحابه کرامو رضي الله تعالى عنهم (يانې د علي رضی الله عنه او د هغه د ملګرو او د معاويه رضي الله عنه او د هغه د ملګرو) تکفير يې وکړ، او حال دا دی چې دې کې بعضي هغه صحابه کرام هم موجود وو، چې په عشره مبشره ؤ کې شامل وو، يانې نبي عليه السلام ورته په ژوند کې د جنت زيري ورکړي وو، خو بدبختانه خوارجو بيا هم د دغه نفوس قدسيه ؤ تکفير وکړ، خو سلفو (صحابه کرامو او بيا وروستنيو تابعينو او تبع تابعينو) د دغه خوارجو تکفير نه دی کړی، البته ګمراه يې ورته ويلي دي، په دې وجه علامه شاطبي رحمه الله د خپل کتاب (الاعتصام) د ٢ جلد په ٢١مه صفحه کې فرمايي:

وقد اختلف الأمة في تكفير هؤلاء الفرق أصحاب البدع العظمى، ولكن الذي يقوي في **النظر ويحسب في الأثر عدم القطع بتكفيرهم، والدليل عليه عمل السلف الصالح فيهم.**

ژباړه: هغه فِرقِ ضاله (ګمراهې ډلې) چې د غټو بدعاتو والا دي (يعنې بدعات يې مُکَفّره دي) لکه مرجئه، معتزله، روافض، جهميه، قدريه او خوارج وغيره) د دوی د تکفير په باره کې په امت کې اختلاف دی، ليکن قوي خبره دا ده، چې سلف

صالحينو د دوی تکفير نه دی کړی.
په دې وجه علامه نووي رحمه الله په خپله شرح د مسلم کې فرمايي:
ولا يكفر أهل الهواء والبدع. (جلد: ۱، صفحه: ۱۵۰)
ژباړه: د اهـل الهـواء والبـدع (د خوهاشـاتو او بدعاتـو د څښـتنانو) تـکفيـر نشـي کېـدای، او مـراد د اهـل البـدع نـه د سـلفو پـه نيـز خـوارج، معتزلـه، قدريـه، روافـض او نـورې فرقـې دي، چـې د دوی عقائد کفريه دي، ليکن د تاويلاتو په وجه يې د دوی تکفير نه دی کړی.
دغـه شـان دا د اهـل السـنت والجماعـت د اصولـو څخـه دا هـم دي، چـې کلـه پـه فعـل محتمـل کـې احتمـال د عـدم تـکفيـر اولـی ګڼـي او فـرق ضالـه کلـه کلـه سـرې پـه شـکوکو شبهاتو او احتمالاتو او تاويلات او ظنياتو سره کافر کوي.
د امـام بخـاري رحمـه الله قـول: امـام بخـاري رحمـه الله فرمايـي: بـاب مـن صلـى قدامه تنور او نـار او شئ مما يعبد فارادا بها الله.
يانـې چـې يـو سـړی لمونـځ کـوي او مخـې تـه يـې اور، بُـت، قبـر او يـا بـل څـه وي، نـو لمونځ يې کېږي او پـه دې نـه کافـر کېـږي، تـر هغـه چـې لـه نومـوړي څخـه د دې معلومـات نـه وي شـوي چې د ده مقصد لمونځ د الله جل جلاله لپاره دی او که نه د دغه مخلوق عبادت.
الـصلاة جائـزة إلى كل شىء إذا لم يقصـد الـصلاة إليـه وقصـد بهـا اللـه تعـالى، والسـجود لوجهـه خالصًـا، ولا يضره اسـتقبال شىء مـن المعبـودات وغيرهـا كما لم يضر الرسـول مـا رآه فى قبلتـه مـن النار. (شرح صحيح البخاري لابن بطال المتوفي: ٤٤٩)
يانـې هـر شـي تـه لمونـځ جائـز دی، کلـه چـې مقصـد دغـه شـي تـه لمونـځ نـه وي، بلکـې مقصـد الله وي، يانـې مقصـد الله تـه لمونـځ وي، يانـې د مقصـد د الله جـل جلالـه عبـادت وي، او سـجده خالـص د الله جـل جلالـه لپـاره وي، کـه هـدف همـدا وي، نـو کـه چېرتـه پـه لمانځـه کـې نـورو باطلـو معبودانـو تـه مـخ شـي، دا لمونـځ کوونکـي تـه زيـان او تـاوان نـه رسـوي، لکـه څنګـه چـې رسـول الله صلـى الله عليـه وسـلم تـه ضـرر نـه وو رسـولی، هغـه اور چـې د نبی عليه السلام د لمانځه په وخت کې به د نبي عليه السلام نه د قبلې لوري ته و.
د امـام مالـك رحمـه الله قـول: امـام مالـك رحمـه الله د خپـل کتـاب (فقه السنة) د دوهـم جلد پـه ۲۴۳ مـه صفحـه کـې فرمايـي: متـى يكـون المسلم مرتـدا، ان المسـلم لايعـتبر خارجا عـن الاسلام ولا يحكـم عليـه بـا لـردة الا اذا انشرح صـدره باالكفـر واطمأن قلبـه بـه و دخـل فيـه باالفعـل لقـول اللـه تعالٰـى ولكـن مـن شرح باالكفـر صـدرا ويقـول الرسـول ﷺ انمـا الا عمال باالنيـات وانمـا لـكل امـرئ مانـوى، ولما كان مـا فـى القلـب غيبـا مـن الغيـوب التـى لايعلمهـا الا اللـه كان لابـد مـن صـدور مايدل

على كفره دلالة قطعية لاتحتمل التاويل، حتى نسب الى الامام مالكؒ انه قال من صدرعنه ما يحتمل الكفر من تسعة وتسعين وجها ويحتمل وجها ويحتمل الايمان من وجه حمل امره على الايمان.

ژباړه: مسلمان کله مرتد کېږي؟ يقيناً مسلمان د اسلام څخه نه خارجېږي او د ارتداد حکم پرې نه کېږي، مګر کله يې چې سينې ته کفر ښکته شي، او زړه يې په کفر مطمئن شي، او په کفر کښې عملاً داخل وي، څکه الله تعالى فرمايي: ليکن هغه څوك چې خلاصه کړي سينه کفر ته، او رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي چې د ټولو اعمالو دار او مدار په نيت دی او يقيناً د هر سړي لپاره هغه څه دي چې نيت يې کړی وي.

داچې د زړه خبرې له غيبو او پټو امورو څخه دي چې د الله تعالى نه ماسېوا نور څوك پرې نه پوهېږي، نو بيا ضروري او لازمي ده چې له ده څخه داسې څه صادر شي چې هغه د ده په کفر قطعي دلالت کوي او د تاويل احتمال پکې موجود نه وي. تردې چې امام مالك رحمه الله ته دا خبره منسوبه ده، چې له چا څخه داسې څه صادر شي چې په هغه کې د کفر احتمال وي په يو کم سل طريقو، او د ايمان احتمال پکې وي په يوه طريقه، نو دا به په ايمان حملولای شي.

## خارجي او افراطي فکر د امت لپاره تباهي

خارجي او افراطي فکر د اسلام له حقيقي منهج څخه انحراف دی، چې د بې ځايه تکفير، د مسلمانانو د وينې تويولو او همدارازد امت د يووالي د ماتولو او تفرقې لامل ګرځي. دا فتنه د رسول اللهﷺ په وخت کې پيل شوه، چې له هغه وروسته يې د امت پر ضد جګړه پيل کړه چې ترننه ورځې پورې يې د تاريخ په اوږدو کې په مختلفو دورونو کې سرراپورته کړی دی.

# خوارج (داعش) د تاريخ په اوږدو کې

**ليکوال: بهاند ايمن**

ألحمد لله الذي أمرنا بالسمع والطاعة، وهدانا الى طريقة اهل السنة والجماعة، وصاننا من طُرُق البدعة والضلالة، والصلوة والسلام على من اوضح لنا سيمات الفرقة الضالة، وعلى اله واصحابه الذين قاتلوا اهل البدع بالسيف والرماحة.

اما بعد! قال الله تعالى: قل هل ننبئكم بالأخسرين أعمالا الذين ضل سعيهم في الحياة الدنيا وهم يحسبون أنهم يحسنون صنعا.

أولئك الذين كفروا بآيات ربهم ولقائه فحبطت أعمالهم فلا نقيم لهم يوم القيامة وزنا.

قال البخاري : ثنا أبو اليمان، ثنا شعيب عن الزهري، قال: أخبرني أبو سلمة بن عبد الرحمن إن أبا سعيد الخدري قال: بينما نحن عند رسول الله صلى الله عليه وسلم وهو يقسم قسما، أتاه ذو الخويصرة- وهو رجل من بني تميم- فقال: يا رسول الله اعدل، فقال: ويلك، ومن يعدل؟ قد خبت وخسرت إن لم أكن أعدل، فقال عمر: يا رسول الله ائذن لي فيه فأضرب عنقه، فقال: دعه فإن له أصحابا يحقر أحدكم صلاته مع صلاتهم وصيامه مع صيامهم، يقرءون القرآن لا يجاوز تراقيهم، يمرقون من الدين كما يمرق السهم من الرمية .

اسلام د يووالي او اتحاد دين دی، ټول يې مسلمانان هڅولي تر څو د الله تعالی په رسۍ کلك لاسونه ونيسي، د اتحاد او اتفاق له ښېګڼو يې خبر کړي، له اختلاف او تفرقې څخه يې منعه کړي، او د هغو بد عواقب يې ورته په ډاګه کړي.

الله ﷻ فرمايي: وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّهِ جَمِيعًا وَلَا تَفَرَّقُوا وَاذْكُرُوا نِعْمَتَ اللَّهِ عَلَيْكُمْ إِذْ كُنْتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُوبِكُمْ فَأَصْبَحْتُمْ بِنِعْمَتِهِ إِخْوَانًا وَكُنْتُمْ عَلَىٰ شَفَا حُفْرَةٍ مِنَ النَّارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ.

وَأَطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَا تَنَازَعُوا فَتَفْشَلُوا وَتَذْهَبَ رِيحُكُمْ وَاصْبِرُوا إِنَّ اللَّهَ مَعَ الصَّابِرِينَ.

دا چې موږ په ماضي کې يو مهذب او متمدن امت وو، دا مو د يووالي او اتحاد برکت و.

موږ چې يو وخت په نړۍ کې ځواکمن او نه ماتېدونکي وو، دا ځکه چې موږ خپلمنځي اختلافات نه پېژندل.

زموږ اسلافو چې يو وخت د ځمکې په ګُرې په پېړيو پېړيو واکمني کړې وه، دليل يې دا و چې د يووالي په ذوق او خوند پوه وو.

دا چې نن ورځ مسلمه امت ولې په يوه داسې ګرداب کې راګېر دی، چې د تاريخ په

اوږدو کې يې سارى نه ترسترګو کيږي، د بېلګې په ډول ويلاى شو، چې ولې نن مونږ اتحاد او يووالى له لاسه ورکړی؟

واحد زعامت ولې شتون نه لري؟

په ډلو ټپلو ولې وېشل شوي يوو؟

ترفقر، مهاجرت او د کفر تر واکمنۍ لاندې ولې ژوند کوو؟

دښمن مو ولې زړور او ځواکمن دی؟

ولې مادي او عصري پرمختګ نلرو؟

نو يو ځيرک انسان دا درک او ځواب کولای شي، چې دا ځکه چې د رب ﷻ د دې پورتنۍ پرېکړې په عملي مفهوم او معنا مونږ پوهېدلي نه يوو او نه يې هم د پوهېدو لامل نفساني او مادي غوښتنې دي.

نو په دې اساس ويلاى شو، چې د دې دوه غوښتنو ښکار تر ټولو زيات هغه منحرفې او لار ورکې ډلې دي، چې اسلامي امت يې له پېله ترنن ورځې پورې له ستونزو سره مخ کړی. د دې ټولو منحرفو ډلو په سر کې خوارج يا د اوسني وخت داعش قرار لري.

دا چې کومې ستونزې دې منحرفې ډلې اوس او يا د تاريخ په اوږدو کې رامنځته کړې، دا به په څو برخو کې وړاندې کړو.

د (خارجي) فکر پيدايښت:

کله چې رسول الله ﷺ په (۸هـ ق) کې د حنين له غزا فارغ شو، نو يې د غنيمتونو په وېش او تقسيم پيل وکړ، د خلکو له منځه يو کس چې ذوالخويصرة التميمي نومېد، ږغ وکړ: اې محمده ﷺ عدل وکړه

رسول الله ﷺ ورته وويل: هلاک شې ! چې زه عدل ونه کړم، بل به څوک عدل کوي؟.

عمر رضي الله تعالی عنه وويل: د الله رسوله ! اجازه راکړه چې غاړه يې ووهم،

رسول الله ﷺ ورته وويل: مه يې کوه، ځکه دا سې ملګري لري، چې کله يې تاسو ووينئ چې لمونځونه کوي او روژې نيسي، تاسو ته به خپل لمونځونه او روژې ډېر کم او کمزوري ښکاري. دوی به قران هم لولي، خو زړونو ته به يې نه وي ښکته شوی. له دين څخه به په ډېرې چټکۍ او تېزی سره ووځي.

ټول علماء په دې خبره په يوه خوله دي، چې دا ذوالخويصرة التميمي د خوارجو بنسټګر او مؤسس دی.

بلخوا، که دې پېښې او د رسول الله ﷺ حديث ته قوي فکر وکړو، لاندې موارد راته ښه

په ډاګه کېږي.

۱: د رسول الله ﷺ په امانتداری، عدل او ښو اخلاقو د مکې مشرکینو تردې چې ابوجهل هم اعتراف کاوو، خو خوراجو رسول الله ﷺ په ظلم او بې انصافی متهم کړ، (العیاذ بالله) چې په دې سره له کفر څخه هم یو ګام په سرکشی کې وړاندې واوښتل.

۲: د دې حدیث نه دا څرګندیږي، چې دوی به په وژلو او مرګ سره نه ختمیږي، او د تل لپاره به د مسلمانانو په منځ کې فتنې او مشکلات ایجادوي، څکه خوېې رسول الله ﷺ عمر (رضی الله عنه) ته د قتل اجازه ورنه کړه.

۳: خوراج به د اسلام په دائره کې د یوې لحظې لپاره پاته وي او آخرنی هدف به یې کفر او خاتمه به یې خرابه وي، څکه چې د لغت له لحاظه رمق هغه آخرنی لحظې ته وایي چې نور د روح خروج او وتل شروع کېږي.

د دې فکر یادونه په قرآن کې:

مخکې تردې چې د خوراجو په عملي کړنو او تاریخي تېروتنو رڼا واچوو، لومړی راځو دېته چې الله ﷻ په خپل کلام کې د دوی د اخرني انجام په اړه څه وایي !؟

الله ﷻ فرمایي: قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُمْ بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا.

ژباړه: ووایه (اې محمد ﷺ ! دوی ته) آیا خبر کړو تاسې په هغو کسانو چې عمل یې ډېر بد دی، هغه کسان چې په ژوند د دنیا کې یې عمل ورك شوی او دوی ګمان کوي، چې دوي ښه کار کوي (حال دا چې داسې نه ده).

امام طبري رحمه الله په خپل تفسیر کې یوه واقعه رانقل کړې، چې ابن الکواء (د خوارجو مهم غړی) حضرت علي رضی الله عنه ته وویل: دا کسان څوك دي؟

ده مبارك ورته وویل: ته او ستا ملګري.

بل ځای الله ﷻ فرمایي: هُوَ الَّذِي أَنْزَلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ مِنْهُ آيَاتٌ مُحْكَمَاتٌ هُنَّ أُمُّ الْكِتَابِ وَأُخَرُ مُتَشَابِهَاتٌ فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ

ژباړه: الله ﷻ هغه ذات دی، چې نازل کړی یې دی پر تا قرآن، چې ځیني آیتونه یې محکم او معنا یې واضحه ده، دا اصل د کتاب دي او د ځینو یې معنا پټه او نامعلومه ده هغه کسان چې په زړونو کې یې له حق څخه د باطل طرف ته میلان وي، غواړي د داسې آیتونو لپاره معنا پیدا کړي، دا څکه چې خلك په فتنه کې واچوي او طلب د معنا وکړي.

حافظ ابـن کـثيـر رحمـه الله پـه خپـل تفسـير کـې د امـام احمد رحمـه الله پـه حواله يـو حديث رانقـل کـړی او ليکـي، وقـال الإمـام أحمـد: حدثنـا أبـو كامـل، حدثنـا حماد، عـن أبي غالـب قـال: سـمعت أبـا أمامـة يحـدث، عـن النبـي صلى اللـه عليـه وسـلم في قولـه: فأمـا الذيـن في قلوبهـم زيـغ فيتبعون ما تشابه منه قال: هم الخوارج.

ژبـاړه: ابـو امامـة (رضـي اللّه) لـه رسـول الله ﷺ څخـه روايـت کـوي، چـې هغـه کسـان چـې د متشـابه آيتونـو پـه معنـا پسـې لټـون کـوي او غـواړي فتنـه خپـره کـړي، رسـول اللّه ﷺ وايـي دا خوارج دي.

دا چـې د خوارجـو لومړنـی فتنـه د مادياتـو او مـال تـر لاسـه کولـو لپـاره رامنځتـه شـوه، چـې ذوالخويصـرة يـې د غنيمـت پـه وېش کـې غوښـتنه وکـړه، نـو لـه دې آيتونـو او احاديثـو نـه ښـه څرګنديږي چـې د دوی تولـې کړنـې بـه پـه راتلونکـي کـې هـم، چـې د ديـن او خلافت پـه نومونـو يـې سـر تـه رسـوي، د مادياتـو او مـال ترلاسـه کولـو لپـاره وي. پـه دې اړه نـور هـم څـو آيتونـه نـازل شـوي، چـې اکثـره مفسـرينو پـه خپلـو معتمـدو کتابونـو کـې خـوارج ځينـې اخيستي دي.

لکـه څنګـه چـې د (يَـوْمَ تَبْيَـضُّ وُجُـوهٌ وَتَسْـوَدُّ وُجُـوهٌ) آيـت تفسـير ابـن عبـاس (رض) پـه خوارجو سره کړی.

## د خوارجو ډلې:

خـوراج لـه ابتـداء څخـه تـر نـن ورځـې پـورې پـه مختلفـو بڼـو او ډلـو را څرګنـد شـوي، د تولـو موخـې او اهـداف کـډ دي، چـې د مسـلمانانو تکفيـرول او بـې اتفاقـي تـه هڅـول يـې د نمونـې پـه شکل يادولای شو.

البتـه د دوی پـه عقيـده او اشـخاصو کـې د زمانـې پـه تېرېـدو سـره بدلـون راغلـی، چـې بيـا پـه څوډلو وېشل شوي.

له پيله دوه څانګې لري، چې قعديه او شراة دي.

قعديــه: د خوارجـو هغـه ډلـه ده، چـې لـه يـوې غيـرې مسـتقيمې لارې خلـك د شـرعي اميـر او خليفه بغاوت ته هڅوي، او خپله په بغاوت کې مسلح کډون نه کوي.

نـو ځکـه د خوارجـو د نـورو ډلـو لخـوا دا ډلـه هـم د تکفيـر تـر بريـد لانـدې راغلـې او ارتـداد تـه يـې منسـوبوي، ځکـه د خوارجـو پـه منهـج او ديـن کـې خلك مکلـف دي، چـې د اميـر پر ضد مسـلح پاڅـون وکـړي، کـه يـې څـوك نـه کـوي مرتکـب د لويـې ګنـاه دی او د لويـې

ګناه کوونکی د خوارجو په نزد کافر دی.
شراة: هغه ډله ده چې د شرعي امیر او خلیفه په ضد مستقیماً په جګړه بوخت وي، دې ډلې د خپل قوي مورال په توسط اسلامي امت په تېرو زمانو کې او آن اوس هم له سختو ننګونو سره مخ کړی.
بل خوا امام شهرستاني په الملل والنحل کې د دوی اته قسمه ډلې ذکر کړې، چې هره یوه یې یو کس ته منسوب او د همدې کس تقلید یې ذمه واري ده.

❶ : محکمه
❷ : زارقـــه
❸ : عـاذریـــه
❹ : بهیسیـــه
❺ : عجـــاردة
❻ : ثعـالـبـــه
❼ : ابـاضیـــه
❽ : صفریـــه

په (۳۵هـ ق) کې د قعدیه ډلې خوارجو خپل فعالیتونه په داسې حال کې پیل کړه، چې د مصر د والي عمرو ابن العاص رضی الله عنه تر سخت څار لاندې او بندیزونه یې پرې لګولي وو.
عمرو ابن العاص رضی الله عنه د امنیت د تأمین په خاطر هم دې کار ته دوام ورکړ او نه یې غوښتل چې څوک د خلیفه او والي پر ضد څه ووايي.
خو خوارجو بیا په بار بار له دار الخلافة غوښتنه کوله او هم یې خلك هڅول تر څو لومړی د عمرو ابن العاص رضی الله عنه او وروسته د عثمان رضی الله عنه په ضد پاڅون وکړي، خو عثمان رضی الله عنه مخکې تر دې چې خبره پاڅون ته ورسیږي، غوښتنه یې ومنله او د عمرو ابن العاص رضی الله عنه په ځای یې عبد الله ابن ابي سرح رضی الله عنه د جنك او باج امیر او د دیني امورو امیر یې خپله عمرو ابن العاص رضی الله عنه وټاکل.
خو خوراجو تل هڅه کوله چې د عمرو ابن العاص رضی الله عنه او عبد الله ابن ابي سرح رضی الله عنه اړیکې خرابې کړي، نو یې د نمامة (شیطانت) حربه په کار واچوله او په دې سره د دواړو امیرانو اړیکې دومره خرابې شوې، چې یو بل ته یې سخت الفاظ

وكارول.

عثمـان رضی‌اللّه‌عنه چې كلـه خبـر شـو، نـو يـې عمـرو ابـن العـاص رضی‌اللّه‌عنـه تـه احـوال ولېږل،

چې مدينـې منـورې تـه راشـه ! ځكـه هغـه ولايـت او مقـام كـې خيـر نشـته چې خلـك بـد درڅخه وړي.

عمـرو ابـن العـاص رضی‌اللّه‌عنـه مدينـې منـورې تـه ولاړ او د ولايـت ټـول كارونـه يـې عبـد اللّه ابن ابي سرح رضی‌اللّه‌عنه ته وسپارل شول.

كلـه چـې د مصـر والـك عبـد اللّه بـن ابـي سـرح رضی‌اللّه‌عنـه تـه وسـپارل شـو، خوارجـو وغوښـتل چـې د نومـوړي پـه مقابـل كـې هـم خلـك پاڅـون تـه وهڅـوي، خـود خوارجـو دا هڅـه هلتـه ناكامـه شـوه، كلـه چـې عبـد اللّه رضی‌اللّه‌عنـه د افريقـا د فتحـه كـولو پـه نيـت ووت، ځكـه د افريقـا د فتحـې پـه اړه تـردې لـه مخـه عمـر رضـی‌اللّه‌عنـه لـه عمـرو بـن العـاص رضی‌اللّه‌عنه څخه غوښتنه كړې وه، چې له طرابلس څخه اخوا ته مه ځه.

كلـه چـې د خوارجـو هڅـه د عبـد اللّه رضـی‌اللّه‌عنـه پـه وړانـدې ناكامـه شـوه، نـو دا ځـل يـې د عثمـان رضی‌اللّه‌عنـه پـه مقابـل كـې خلـك راوپـارول، او د مصـر خلكـو تـه يـې د نومـوړي رضی‌اللّه‌عنه د شخصيت په اړه شبهات پيدا كړل او هغه دا چې دوی به ويل:

عثمـان رضی‌اللّه‌عنـه د قـرآن نسـخې وسـوځولې، پـه دنـدو او لـوړو څوكيـو يـې خپـل قريبـان مقـرر كـړي، پـه مكـه مكرمـه كـې يـې د پـوره لمونـځ حكـم صـادر كـړی او داسـې نور...

دا ځينـې فرعـي مسـئلې خوراجـو پـه هـر مجلـس كـې دومـره پـه زور او زيـر سـره بيانولـې، چـې د لويـو لويـو صحابـه كرامـو رضی‌اللّه‌عنـه زامـن يـې هـم تـر تاثيـر لانـدې راغلـل او پـه دې سـره د مصـر خلكـو اراده وكـړه تـر څـو مدينـې منـورې تـه لاړ شـي او عثمـان رضی‌اللّه‌عنـه لـه خلافته عزل كړي.

د مصـر خلكـو شـپږ سـوه كسـيزه ډلـه تيـاره او د عمـره كوونكـو پـه صفـت يـې د مدينـې منـورې پـه لـور حركـت پيـل كـړ، كلـه چـې هلتـه ورسـېدل، عثمـان رضی‌اللّه‌عنـه ورتـه حضـرت علـي رضی‌اللّه‌عنـه مخكـې ورولېـږه، ځكـه عثمـان رضی‌اللّه‌عنـه تـه عبـد اللّه رضی‌اللّه‌عنه احوال ليږلی وو، چې مصريان درغلل او ارادې يې سمې نه دي.

علـي رضی‌اللّه‌عنـه د دوی پوښـتنې ځـواب او بيرتـه يـې د مصـر پـه لـور رخصـت كـړل، خـو پـه لار كې خوارجو د دوهم ځل لپاره نوې هڅه پيل كړه او په دروغو يې دا وويل:

طواغیتو ته یې د داسې پراپېګنډو (پروپاګند او منفي تبلیغاتو) موقع او دلائل په لاس ورکړل، چې اوس یې هیڅ تدارك نه کېږي، د دې هرڅه ترشا تکفیري عناصر او د هغوی باطل او غیر سني فکر و، چې د جهادي تحریکاتو مخې ته رکاوټ (خنډ) او مانع و، چې په خپل محاذ باندې مناسب شرعي جهادي سیاست او پالیسي تشکیل کړي، او بل دا چې د دې په نتیجه کې په بعضي محاذونو باندې کټلی جنګ په شکست بدل شو، او بعضي محاذونه د نهایت ضعف سره مخ شول، او ډېره لویه او تاریخي قرباني په دنیوي اعتبار سره ضائع شوه، او د امت کافي تعداد ځوانان چې د ابتلاء او قرباني میدان ته راوتلي وو، د خارجي او تکفیري عناصرو په لاس یرغمل شول او په عالمي (نړېوال) جهاد کې د خوارجو یوه لویه جبهه وجود ته راغله، چې په ټولو جهادي محاذونو باندې یې هم د مجاهدینو خلاف او هم د علماء کرامو او عامه مسلمانانو خلاف سنګر ونیو، او پرته له کوم توپیر یې د دې ټولو خلاف د جهاد په نوم باندې عملیات روان کړل، چې لا تر اوسه یې دغه باطله او وحشي لړۍ روانه ده، او په عامو مسلمانانو اولسونو او قومونو کې جهادي دعوت او تحریکاتو ته ډېر زیات معنوي، مالي او ځاني نقصان رسوي، د دې بنیادي وجه همدا وه چې د یولسم ستمبر د عملیاتو څخه وروسته په جهادي ادبیاتو، ابلاغي موادو او نشراتو کې د ولاء او براء، مظاهرة علی المسلمین، موالاتو او یا نورو موضوعاتو په حوالې سره د نیمګړو تکفیري عناصرو او ملایانو مقالې، لیکنې او رسائل نشر کېدل، چې بالاخره یوه مستقله تکفیري جبهه ترېنه وجود ته راغله، اوس هم په جهادي صفونو کې شاملو علماء کرامو او مشائخ عظامو ته پکار ده، چې د اهل السنت و الجماعت د امامانو او د سلفو صالحینو د منهج، مشرب او مزاج ته په کتو د دغه موضوعاتو ښه تحقیق وکړي، او مجاهدین او جهادي تحریکات د دغه افکارو او عناصرو څخه بچ کړي، ځکه د الله تعالی د نصرت وعده د اهل السنت والجماعت سره ده، کله چې هم د اهل السنت والجماعت د مسلك، مشرب او مزاج څخه انحراف راغلی، نو ناقابل تلافي (نه جبرانېدونکی) نقصان او زیان منځته راغلی، بلکې قوي قوي تحریکات د دې په وجه ختم شوي دي.

علامة شامي رحمه الله فرمایي: **لاینبغي للعالم ان یبادر بتکفیر اهل الاسلام.**

**ژباړه:** عالم لره په کار نه دي، چې د مسلمانانو تکفیر ته تلوار وکړي.

(حاشیة ابن عابدین، جلد: ٦، صفحه: ۲۳۰)

علامه ابن همام رحمه الله فرمایي: **یقع في کلام اهل المذهب تکفیر کثیر ولکنه لیس من**

خوارجو فوراً حضرت علي رضي الله عنه ته ګواښ وکړ چې د شاميانو غوښتنه ومنه، کنه ستا سره به هغه څه وکړو، کوم څه چې مو له حضرت عثمان رضي الله عنه سره کړي وو.

حضرت علي رضي الله عنه يې د مصلحت په بنا غوښتنه ومنله.

کله چې دا بهانه هم د دوی له کوتو څخه ووته بيا د تحکيم (پرېکړې) مسئله مخته راغله او عمرو بن العاص رضی الله عنه او ابو موسیٰ الاشعري رضی الله عنه د پرېکړې کوونکو په حيث وټاکل شول.

خوارجو له موقع څخه په استفادې غبرګونه کړ چې "الحکم لله" پرېکړه يوازې له الله جل جلاله سره ده، څنګه تاسو په انسانانو پرېکړه کوئ؟

خوارجو په دې سره په حضرت علي، معاويه او نورو سترو صحابه رضوان الله تعالیٰ عليهم په وړاندې د کُفر فتوا صادره او دوی يې واجب القتل وبلل (العياذ بالله).

دو لس زره کسان د حضرت علي رضی الله عنه له صف نه جلا او په يو داسې نازک پړاو کې يې د هغه له اطاعت څخه خروج وکړ چې ډېری مسلمانان په دې جګړه کې په شهادت رسېدلي وو او آن خلکو به دا ويل: چې د سرحداتو د ساتني او جهاد لپاره به اوس کسان له کومه کوو؟

او همدا ډله چې دې پرېکړې ته يې غاړه نه کېښوده او د الحُکم لله شعار يې د دې لپاره بدرګه کاوو، تر څو د شر او فساد لمن ښه پراخه کړي او د حضرت علي رضي الله عنه په وړاندې د خلکو کرکه لا ښه را وپاروي.

څکه هم حضرت علي رضي الله عنه ويلي: شعار ښه شعار دی ليکن دوی سبب د فساد کرځولی.

حافظ ابن کثير رحمه الله په البداية والنهاية کې په بېلا بېلو سندونو او طُرُق سره يو حديث رانقل کړی، چې رسول الله ﷺ د دې ډلې (کومه چې د علي رضی الله عنه له صف نه جلا او د نوموړي له اطاعت نه يې سرغړونه وکړه) په اړه وړاندوينه کړې ده.

د حديث مفهوم په لاندې ډول دی:

زما د امت د بې اتفاقي پر مهال به يوه ډله له دين څخه ووزي، او دا ډله به د هغو خلکو په لاسو له منځه ولاړه شي، چې په حقه وي او په خپلې سيالي ډلې به بهتري لري.

د محدثينو علماؤ په اتفاق سره دا د خوارجو ډله ده، څکه چې دوی هغه مهال خروج وکړ، چې د صفين واقعه منځ ته راغله او اسلامي امت تر دې واقعې د مخه له يووالي او

پوره قوت ښخه برخمن و.
او دا د له بيا د علي رضي الله عنه په لاس له منځه ولاړه او ډيرى كسان يې ووژل شول
او خبره خو معلومه ده چې علي رضي الله په معاويه رضي الله عنه بهتر او غوره دى.
حديث ته په كتو سره ځرګندېږي چې د خوارجو دا كړنه چې دوى ځنګه د امت د بې
اتفاقي پر مهال ناوړه كته پورته كړه، كېداى شي تر هغه وخته محدوده نه وي.
په راتلونكي كې به همدا د خوارجو يو عادت پاتې شي چې د امت سر لاري او مخلص
ورونه د يووالي او واحد زعامت په لټه كې وي، دوى به يې په مخ كې خنډ او نه به
غواړي چې امت يو واحد قيادت ولري.
چې دا تولې كړنې يې هغه ده اوس زموږ او تاسو له ستركو تېرېږي او وينو چې د دې
عصر دا عناصر اوس هم د خپلو پلرونو لاره تعقيبوي.
د مسلمانانو د قوت پر ځاى د دوى كمزوتيا ته لومړيتوب وركوي، يووالي يې په بېلوالي
بدلوي،
او د امت په ځورولو سره خپل شوق او ذوق پوره كوي
او آن كه داسي ووايو چې د داسي فعاليتونو كچه او فيصدي په دې دله كې په نسبت
سره زموږ اصلي دښمنانو ته لوړه ده، هم به خطا نه يو.
د خوارجو دوولس زره كسيزه ډله چې كله د علي رضي الله عنه له صف ښخه بېله
شوه، نو د كوفې ښار حروراء په سيمه كې ځاى پر ځاى شوه (په دې بناء د خوارجو يو
نوم حروريه هم دى )
وروسته علي رضي الله عنه حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه وروليږه تر څو يې
بېرته سمې لاري ته رهبري كړي.
عبدالله ابن عباس د دوى پوښتنو او شبهو ته خورا مدلل ځوابونه وويل: په دې سره څلور زره
كسان د ابن الكواء الخارجي په مشرى له خپلې سركشى نه لاس پر سر او له علي
رضي الله عنه سره يې بيعت وكړ.
خو دا چې د وعدې او بيعت ماتول د خوارجو يو اصل ګڼل كېږي، نو د دوهم ځل لپاره
يې ډيرى كسانو دا بيعت مات او د خوارجو ټول غړي چې شمېر يې زركونه وو، په
نهروان كې راټول او د يوې سختې جګړې لپاره يې ځانونه اماده كړل.
زرعه بن البرج الطائي، حرقوص بن زهير السعدي، حمزه بن السنان، شريح بن اوفى
العبسي، او عبدالله بن وهب الراسبي د دوى مهم مشران وو، چې هر يوه يې دا دنده درلوده

چې د لښـکر پـه منځ کـې پـه ډېـر فصيح او بليغ انـداز داسـې ويـنـاوې وکړي چې لښـکر د عقيدې په اساس قوي او په هيڅ صورت د اسلحې ايښوودو او تسليمېدو ته تيار نشي.
برسېره پر دې د غـو خلکـو دا دنـده هـم درلـوده، چـې د هغـه چا شـك او شبهې تـه ځـواب ووايي چې د علي رضی الله عنه په اړه به ورسره پېدا کېده.
علـي رضـی الله عنـه ځـو ځلـه لـه نومـوړو مشـرانو سـره ناسـتې تـر سـره کـړې او ويـې هڅـول تر څو له خپلو کړنو لاس واخلي.
او دا يې هـم ورتـه وويـل: چـې تاسـو بـه نـه لـه مسـاجدو او نـه د غنيمـت لـه مـال څخـه منع کـړم او تر هغې به په تاسې بريد ونه وکړم تر څو چې تاسې بريد نه وي پيل کړی.
علي رضی الله عنه آخرنی هڅه هم وکړه، تر څو خوارج له بې لاريتوب څخه وژغوري.
دا ځـل يـې ليـك ورتـه وليـږل، او دا يـې ورتـه وويـل: راتلونکـې دوشـنبه زمـوږ پلان دی، چـې لښـکر منظـم او د اصلـي دښـمن د لمنځـه وړلـو لپـاره جهـاد تـه ادامـه ورکـړو، تاسـو راسـره کډون وکړئ.
ليکن دا ځل هم د خوارجو ځواب د تېر په څېر ډېر له ګستاخي او بې ادبي سره مل وو.
داسـې يـې ورتـه ليکلـي وو: کـه تـه پـه تېـرو کړنـو خپـل ځـان کافـر بولـې (العيـاذ باللّه) او رب ﷻ تـه توبـه کاږې نـو مـوږ سـتا تـر څنـګ جهـاد کولـو تـه ادامـه ورکـوو، او کـه دا نـه منې بيا پوه شه چې الله ﷻ فرمايي (ان الله لايحب الخائنين).
د علـي رضـی الله عنـه نـور پـه دې بـاور شـو چـې دا خلـك د اصلاح وړ نـه دي، نـو يـې تـکل وکـړ، چـې دوی پرېـږدي او خپـل کار او خپـل تـول فکـر يـې د اصلي دښـمن پـه لـور واړاوه، تر څو خپلو فتوحاتو ته دوام ورکړي او د اسلامي خلافت لمن پراخه کړي.
خـو کلـه چـې يـې لـه کوفـې څخـه سـره لـه خپلـه لښـکره د وتلـو نيـت وکـړ، ناڅاپـه خبـر راغـی چـې خوارجـو عبـد الله بـن خبـاب رضـی الله او ورسـره مېرمـن چـې اميـدواره هـم وه، پـه شـهادت رسـولي، او خوارجـو پـه هـر لـور پـه لـوړه کچـه فسـاد شـروع کـړی، چـې نـه د خلکـو مال خوندي دی او نه يې سر او ناموس په امن دي.
پـه دې سـره خلکـو علـي رضـی الله تـه مشـوره ورکـړه، چـې کـه مـوږ د کفـارو سـره مقابلـې تـه ولاړ شـوو، دلتـه مـو هـر څـه فتنـه ګـرو تـه پاتـې کيـږي، نـو ژر تـر ژره اقدام وکړه علـي رضـی الله عنـه حـرب بـن مـرة العبـدي د خوارجـو پـه لـور وليـږل، تـر څـو د دوی لـه غوښـتنو دا ځل هم ځان خبر کړي.
خو خوراجو نوموړی په شهادت ورساوه او په دې سره يې د جنګ اعلان وکړ.

علـي رضـی الله عنـه خپلـه هغـه اراده چـې د شـام پـه لـور یـې کـړې وه، څـو لـه کفـارو سـره جهاد وکړي، شاته پرېښووده په دې که به د الله ﷻ ستر حکمت وو.
د نهروان د جګړې له پای ته رسېدو سره سم علي رضی الله عنه وویل:
تاسـو پلټنـه وکـړي چـې مخـدج/ذو الثدیـة (د داسـې لاس خاونـد چـې پسـته غوښـه وي او هډوکی ونه لري) کس په وژل شویو کسانو کې شته کنه؟
کـه چېرتـه دا کـس پـه دې کسـانو کـې نـه وي، نـو مـوږ تر ټولـو بهترین کسـان وژلـي، او که وي نو بیا موږ له بدو څخه هم بد خلك وژلي دي دا خبره رسول الله ﷺ کړې
خلکو دوه ځل پلټنه وکړه خو دا شخص پیدا نشو.
علـي رضـی اللّه عنـه پرېشـانه شـو او خفـګـان دومـره غلبـه ورباندې وکـړه، چـې لـه دې مخکې هېڅکله دومره نه وه خفه شوی.
علي رضي الله عنه پوښتنه وکړه: د دې ځای نوم څه دی؟
خلکو وویل: نهروان !
علي رضی الله عنه وویل، ولاړ شئ، پلټنه وکړئ، د الله ﷻ رسول رښتیا ویلي دي.
کلـه چـې دا ځـل بـه پلټنـه وشـوه، نـو دا د پورتـه نښـو (مخـدج) کـس د خوارجـو پـه مړو کې وموندل شو، علي رضی الله او ور سره ملګري یې په سجده پرېوتل !
یـو کـس علـي رضـی الله عنـه تـه وویـل: حمـد او ثنـاء ده، هغـه ذات لـره چـې د دې کسـانو بنیاد یې له بیخه وایست.
علـي رضـی الله عنـه وویـل: تـه چـې کـوم فکـر کـوې دغـه ډول نـه ده دوی اوس هـم د خپلـو پلرونو په شا او مېندو په رحمونو کې دي.
خوارجـو د امت پـه منځ کـې پـه نفـاق اچولـو او لـه علـي رضـی الله عنـه نـه پـه سـر غړونـه هـم بسنه ونه کړه
بلکـې پـه دې ټولـو سـر بېـره یـې د صحابـه کرامـو رضـی الله عنهـم پـه شـهادت رسـول د ځان لپاره سعادت بلل.
دوی کې شیطاني صفات زور وو، عجب او غرور په سر اخیستي وو.
د رسول الله ﷺ ملګرو ته درناوی او احترام د دوی له زړونو وتلی وو.
د الله ﷻ رضا یې د دوی په شهادت کې لټوله.
د دوی یو فرد هم د ادب په نوم څه نه پېژندل.
تر دې چې د دوی په خپل منځ کې هم د درناوي او ادب په نامه څه نه وو.

ډېر ځله به يې يو بل ته په وړه غونډې خبره بد القاب کارول او د کفر نسبتونه به يې ورته کول.
دې سطحي اختلاف بيا دوی په خپلو کې وويشل.
ډېری خوارج بيا د جنسي غوښتنو او اړيکو د ومره ښکار شوي وو، چې د يو بهتر صحابي په شهادت رسول يې د دې اړيکو په بدل کې ترسره کول.
په کال **40** هـ ق کې دريو تنو خوارجو، هر يو ابن ملجم حِمْيَري، برك بن عبدالله او عمرو بن بکر د دريو تنو صحابه کرامو علي، معاويه او عمرو بن العاص رضی الله عنهم، د شهادت پلان جوړ کړ.
هغه داسې چې ابن ملجم ته د علي رضی الله عنه د شهادت مسؤوليت وسپارل شو. برك ته د معاويه رضی الله عنه او ابن بکر ته د عمرو بن العاص رضی الله عنه.
دوی د رمضان المبارك ۲۷م تاريخ د خپل جوړ شوي پلان د تطبيق ورځ مالومه کړه.
ابن ملجم چې په حسن او ښايست کې مشهور و، او د ډېرو سجدو او عبادت له امله يې تندي کې اثرات معلوميده، ځان يې د کوفې تر ښاره پورې، چېرته چې علي رضی الله ژوند کاوه ورساوه. يوه ورځ چې د خپلو ملګرو سره په مجلس بوخت و، او د نهروان د جګړې په وژل شويو خوارجو يې وير او غم کاوه؛ ناڅاپه يوه ښځه ( قطام بنت شجنه ) چې په جمال او ښايست کې لا مثاله وه، مجلس ته د کډون لپاره راغله، ځکه چې د بنت شجنه پلار او ورور د نهروان په جګړه کې د خوارجو په صف کې وژل شوي وو.
د ابن ملجم چې په بنت شجنه سترګې ولګېدې عقل ځينې ولاړ او د کوم کار لپاره چې راغلی و، هغه هم ترې هېر شو.
ابن ملجم فوراً له بنت شجنه سره د نکاح او اړيکو تينګولو غوښتنه وکړه خو هغې درې شرطونه ورته وړاندې کړل.
درې زره درهم مهر، يو خادم، او د پلار او ورور په بدل کې د علي رضی الله عنه وژل.
په تېره برخه کې مو وويل: چې قطام بنت شجنه ابن ملجم ته د مهر ترڅنګ دا شرط هم وړاندې کړ، چې علي رضی الله عنه به وژني.
ابن ملجم يې شرط ومنل، او له نکاح ترلو وروسته بنت شجنه د خپل قوم يو بل کس دوردان په نوم هم وهڅول، تر څو يې له خاوند سره د علي رضی الله په وژنه کې کډون وکړي.
بلخوا ابن ملجم له ځان سره شبيب بن نجدة هم ملګری کړ.

شـبیب کـه څـه هـم په لومړي سـر کـې دې کار ته امـاده نـه و، خـود ابـن ملجـم د جادوګرې ژبـې تـر تاثیـر لانـدې راغـی او ځـان یـې دې تـه تیـار کـړ، تـر څـو علـي رضـی الله عنـه پـه شهادت ورسوي.

دریـو وارو کسـانو پـه ټاکلـي تاریـخ د جمعـې پـه شـپه د کـوفې پـه مسـجد کـې کمیـن ونیو. سهار یې د علي رضی الله د راتلو انتظار کاوه.

علـي رضـی الله عنـه مسـجد تـه راغـی او د امامـت لپـاره مختـه شـو، خـو همهاله ورسـره شـبیب د توري وار وکړ، د شبیب د توري وار بې ځایه او علي رضی الله عنه بچ شو.

خـو فوراً د ابـن ملجـم د تـورې وار بیـا د علـي رضـی الله عنـه پـه سـر ولګېـد، او دا کلمـات لـه خولې راووتل: (لاحکم الا لله، لیس لک ولا اصحابک یا علي)

وریسـې یې دا ایت وویل: وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْرِي نَفْسَهُ ابْتِغَاءَ مَرْضَاتِ اللَّهِ وَاللَّهُ رَءُوفٌ بِالْعِبَادِ.

ابـن ملجـم او ملګـرو یـې چـې کلـه پـه علـي رضـی الله عنـه د تـورو وارونـه وکـړل، هر یـو د دوی د ځـان ژغورلـو او تېښـتې هڅـه وکـړه خـو وردان الخارجـي د یـوه یمنـي ځـوان له لخـوا ووژل شو.

شبیب بیا په خپله هڅه کې بریالی او وتښتېد.

ابـن ملجـم ژونـدی ونیـول شـو او علـي رضـي الله عنـه تـه راوسـتل شـو. علـي رضـی الله لـه هغـو خوارجـو سـره چـې د نهـروان پـه جګـړه کـې یـې ژونـدي نیولـي وو، نـه دا چـې دا خـوارج یـې ژونـدي پرېښـودل، بلکـې د تـداوي تـر څنـګ یـې نـورې هـم ډېرې ښـېګڼې ورسـره کـړې وې. یـو لـه هغـو څخـه ابـن ملجـم هـم و؛ نـو څـکه علـي رضـی الله عنـه ورتـه پـه زخمـي حالـت کـې وویل: ای د الله ﷻ دښمنه!

ایا ما له تاسره نېکي نه وه کړې چې دا کار دې وکړ؟

ابـن ملجـم وویـل: چـې څلوېښـت ورځـې مـې همـدا تـوره تېرولـه او الله ﷻ تـه مـې زاری کولـې تـر څو پرې تر ټولو بد بخته کس ووژل شي.

علـي رضـی الله عنـه ورتـه وویـل: پـه همـدې تـوره بـه وژل کېـږې، ځـکه چـې تـه تـر ټولـو بدبخته کس یې.

چې بیا د علي رضی الله عنه له شهادت وروسته په همدې توره ووژل شو.

د خوارجـو د پلان شـوې برید پـه نتیجـه کـې، چـې د رسـول الله ﷺ د دریـو تنـو مشـهورو ملګـرو د شهادت په پاره یې جوړ کړی وو، یوازې ابن ملجم خپل هدف تر لاسه کړ.

ځـکه بـرك التمیمـي چـې د معاویـه رضـی الله عنـه د وژلـو مسـؤولیت یې منلـی و، هغـه وخت

يـې پـه معاويـه رضـی الله عنـه بريـد تـر سـره کـړ، چـې هغـه د سـهار د لمانځـه لپاره مسجد ته پـه لاره و خـود بـرك د تـوري وار د معاويـه رضـی الله عنـه پـه پښـه ولګېـد، چـې سـطحي ټپـي شـو او د دوهـم بريـد وخـت پـه لاس ورنغـی، ځکـه چـې د معاويـه رضـی الله عنـه د ساتونکو لخوا ونيول شو.

برك التميمي معاويه رضی الله عنه ته وويل: د يوه زيري په بدل کې ما پرېږده!

او هغه دا چې نن علي رضی الله عنه ووژل شو.

معاويه رضی الله عنه ورته وويل: ستا ملګری به هم له ناکامي سره مخ شوی وي.

برك وويل: نه، علی رضی الله عنه کوم ساتونکي نه لري.

سره له دې هم برك ووژل شو.

او پاتـه شـو د عمرو بـن العـاص رضـی الله عنـه د وژلـو مسـؤول کـس، چې عمـرو التميمـي و. د نومـوړي خارجـي خپـل هـدف هلتـه لـه لاسـه ووت، چـې پـه همـدې شپه عمـرو بـن العـاص رضـی الله عنه ته سخت مرض پېښ شو. سهار يې لمونځ په کور ادا کړ.

دا چـې د امامـت لمونـځ پـه همـدې سـهار د خارجـه بـن ابـي حبيبـه رضـی الله عنـه پـه غـاړه شـو، نـو عمـرو التميمـي ګومـان وکـړ چـې همـدا عمـرو بـن العـاص دی، نـو يـې بريـد پـرې وکـړ او خارجه رضی الله عنه يې په شهادت ورساوه.

وروسته عمرو بن العاص رضی الله عنه امر وکړ!

د دې خارجي سر هم له تنې جلا او ووژل شو.

د علـي رضـی الله عنـه لـه شـهادت وروسـته د عـرب جزيـرې او نـورو ښـارونو لپـاره معاويـه رضـی الله عنه خپل واليان وټاکل او د واك ساحه يې ورځ تر بلې په پراخېدو وه.

هغـه ګواښـونه چـې دده حکومـت تـه متوجـې وو، پـه پرلـه پسـې توګـه يـې لـه منځـه وړل چې يو له هغه ګواښونو څخه په کال ۴۲-۴۳هـ ق کې د خوارجو يو خوځښت و.

دا د هغـو خوارجـو ډلـه وه، چـې د نهـروان پـه جګـړه کـې علـي رضـی الله عنـه ورتـه ځکـه عفـوه اعلان کـړې وه، چـې دوی يـا زخميـان او يايـې ژمنـه کـړې وه چـې نـور بـه لـه خپلـې عقيدې لاس پر سر کيږي.

خـو کلـه چـې دوی تـه د علـي رضـی الله د شـهادت خبـر ورسـېد، او تـر څنـګ يـې د خپـل مخکښ مشـر ابـن ملجـم لـه مـرګ نـه هـم خبـر شـول، نـو يـې اراده وکـړه چـې هـر ځـای بـه خپلو تحرکاتو ته ادامه ورکوي او خلك به د دوی په نزد د الله ﷻ دين ته رابولي.

دا ځل د دوی شـمېر ۳۰۰ تنـه وو او د کوفـې ښـار پـه يـو څنـډه کـې راغونـډ او د فسـاد لـړۍ يـې

پېل کړه چې مشري يې د مستورد بن علقمه خارجي په غاړه وه.
دې وخت کې د کوفې والي مغيره بن شعبه رضی الله عنه و. د معقل بن قيس رضی الله عنه په مشری يې ۳۰۰۰ کسيز لښکر تيار او له خوارجو سره يې مقابلې ته ولېږل.
دې جګړه کې هم خوراج له سختې ماتې سره مخ شول، څه کسان يې ووژل شول او څه نور يې د دجلې له سيند نه تېر او ځانونه يې د مدائن ښار ته ورسول چې هلته د شريك بن عبيد رضی الله عنه له لوري چې دا مهال د مدائن امير و، ورته د پای ټکی کېښودل شو.
د معقل بن قيس رضی الله عنه له جګړې وروسته، خوارج تر پنځلسو کلونو را ښکاره نه شول، چې دوه لوی عوامل يې وو: لومړی دا چې ګڼ شمېر مشران او د کار خلك يې په جګړو کې له منځه ولاړل، بله دا چې معاويه رضی الله عنه په خپل ټول توان سره هڅه کوله؛ چې هغه ننګونې له منځه يوسي، چې د ده حکومتولی ته يې ګواښ کاوه، چې د دې هڅو په نتېجه کې؛ د خوارجو د دعوت او جلب و جذب لړی هم ورو شوه.
خو په ۵۸ هـ ق کال کې، خوارجو يو ځل بيا سر راپورته کړ او د مسلمانانو پر ضد يې خپل تحرکات پيل او جاري وساتل.
دا چې عراق د هر وخت په څېر د داسې فتنو د ظهور مرکز ګرځېدلی؛ دا ځل هم د خوارجو ظهور د عراق د بصرې په ښاو خوا کې و؛ چې دا مهال معاويه رضی الله عنه د دې ښار والي عبيد الله بن زياد رضی الله عنه ټاکلی و.
عبيد الله بن زياد له خوارجو سره په همدې کال سخت جنګونه وکړل، چې په پای کې خوارج له بدې ماتې سره مخ شول، څه کسان يې ووژل شول او پاته نور يې اسېران شول او وروسته د عراق په بېلا بېلو زندانونو کې وغورځول شول.
په کال ۶۵ هـ ق کې خوارجو د عراق د بصرې د ښار په شاوخوا کې يو دولت تأسيس کړ، چې مشري يې د نافع بن الارزق په غاړه وه.
دا وخت د عراق په شمول د ډېری سيمې لکه؛ حجاز او خراسان د عبد الله بن زبير رضی الله عنه تر واکمنی لاندې وې، عبد الله بن زبير رضی الله مهلب بن ابي صفره رحمه الله د خراسان والي وټاکه.
مهلب بن ابي صفرة چې يو پياوړی قوماندان او د جنګي مهارتونو خاوند و؛ نو څکه کله چې د بصرې ښار ته ورسېد، د بصرې اوسېدونکو غوښتنه ورڅخه وکړل، تر څو د خوارجو مخه ډب او د دوی جوړ کړی دولت ونړوي.

خـو مهلـب رحمـه الله وويـل: چـې زه د اميـر المؤمنيـن لـه امـر څخـه سـر غړونـه نـه شـم کولای، غوارم خراسان ته ځان ورسوم.
خو دا چې د بصرې خلك د خوارجو له فساد او جنايتونو سخت په تنګ شوي و؛ د خپل والي حارث بن عبد الله بن ابی ربيعه رضی الله په مشوره او خوښه يې؛ د عبد الله بن زبير رضی الله په نوم يو ليك وليکئ، چې پکښې يې له مهلب رحمه الله څخه غوښتنه شوې وه، چې د خراسان پر ځای بصرې ته ولاړ شه او د خوارجو مخه ونيسه.
مهلب رحمه الله د بصرې اوسېدونکو ته وويل: د خوارجو په وړاندې به زما پوره مالي او پوځي ملاتړ کوئ، تر څو خوارج شه وځپل شي، د بصرې خلکو يې غوښتنه ومنله او دومره لوړ شمېر امکانات يې ورته تيار کړل؛ چې له دې څخه وړاندې يې ساری نه و ليدل شوی.
دواړه ډلې دسل وسل په نوم ميدان کې د جنګ لپاره اماده شوې، چې د دواړو ډلو شمېر تقريبا دېرش زره وه.

## خوارج د تاريخ په اوږدو کې

خوارج د اسلامي تاريخ هغه ډله ده چې د سختدريځی، تکفير، او د مسلمانانو پر وړاندې د ظلم له امله بدنامه شوې ده. دوی د حضرت علي رضی الله عنه په خلاف د نهروان په جګړه کې راښکاره شول، چې د دوی د سرغړونې او سختدريځی پيل و.
د خوارجو تر ټولو لويه ستونزه دا وه چې دوی د قرآن او حديثو مفهوم په سطحی توګه اخيسته، د خپل فهم پر اساس يې فيصلې کولې، او هر هغه څوك چې له دوی سره موافق نه و، کافر بلل. دوی د اسلام د نرمښت، رحمت، او عدالت اصول له پامه غورځولي وو، چې له کبله يې د مسلمانانو تر منځ فتنه، وينه تويونه، او ويش رامنځته شو.

## د دجال لښکر به هم د بغدادي د لښکرو په شان احمقان وي.

لیکوال: کریم بریال

الله جـل جلالـه دنیـا د امتحـان لپـاره پیـدا کـړې ده او انسـانان یـې پـکـې خـود مختـاره کـرځولـي، چـې نېکـي کـوي او کـه بـدي، یـا پـه بلـه اصـطلاح د حـق د لښـکرو ملاتړ کـوي او کـه د باطـل. پـه دنیـا کـې د ادم علیـه و علـی نبینـا صلاة والسـلام لـه زمانـې څخه نیولې، بیا ترنن ورځې پورې حق او باطل دواړه کـډ را روان دي.

کـه یـو طـرف د حـق لښـکرې قربانـی ورکـوي او تـکـلیفونـه ګـالـي، بـل طرف بیـا باطلې لښکرې هم کله سُپر او کله صفر ته راښکته شي.

هېـڅ کلـه هـم باطلـو لښـکرو د خپلـو ځانونـو د بـطلان خبـره نـه ده منلـې، بلکـې هغـوی هـم همېـش ځانونـه پـر حـق بللـي او د خپلـې ګمراهـی لپـاره یـې بـې شـمېره غیـر معقـول دلایل تراشلي دي.

کـه یـو طـرف رسـول الله صلـی الله علیـه وسـلم او صحابـه کرامـو د خپـل دیـن د حقانیـت نـارې وهلـې، همـدا رنګـه مقابـل کـې یـې ابوجهـل، ابولهـب وغیـره مشـرکینو ځانونـه پرحـق بلـل او پـه دوی یـې مختلـف تهمتونـه لګـول. دواړه ډلـې لاړې او د خـدای جـل جلالـه حضـور تـه ورغللې.

خـو زمونـږ دا عقیـده ده، چـې مسـلمانان رښـتیني او پرحقـه وو، جنـت تـه بـه ځي او مشـرکین او باطلـې فرقـې کـه هغـوی هرڅومـره دلایـل د ځـان د سـپینولو لپـاره لکـه د نـن زمانـې د کمونستانو او سیکولرانو په شان ووایي، هغوی بیا هم باطل دي او جهنم ته به ځي.

راځود نن زمانې د حق او باطل لښکرو ته !

کـوم دیـن او عقیـده چـې مونـږ پـرې د څوارلـس سـوه کلونـو راهیسـې روان یـوو او د صحابـه کرامـو لـه دورې بیـا د تابعینـو او بیـا لـه هغـه را وروسـته د اجمـاع الامـت چـې لـه پېړیـو پېړیـو راهسـې ټـول امـت مسـلمه وربانـدې روان دی، دا د همغـه حـق دیـن علامـه ده چـې د قیامـت تـر ورځې پورې به موجود وي.

خـوارج چـې پـه لومړیـو کـې لـه صحابـه کرامـو جلا شـول، بیـا تـر نـن ورځـې پـورې د حـق د لښـکرو خلاف روان دي او تـر نـن ورځـې پـورې یـې د حـق لښـکرو سـره مقابلـې کـړې دي. د دوی بطلان او ګمراهي خو اظهر من الشمس ده.

د دوی اهداف له اولې ورځې معلوم دي، عقیده او مفکوره یې معلومه ده، چې د دوی کار صرف له دې سره دی، چې څنګه اسلامي حکمراني ونړوي؟ څنګه مسلمان قتل عام کړي؟ څنګه د شریعت محمدي صلی الله علیه وسلم پرځای د خپل فکر موافق یو داسې قوانین جوړ کړي، چې هغه له حقیقي اسلام سره په پوره معنا په ټکر کې وي او دوی یې د اسلام په نوم په وچ زور او وحشت سره په خلکو عملي کړي؟

تاسو څه فکر کوئ !؟

چې د دې زمانې مسلمانان، مجاهدین، علماء تور سرې او ماشومان ټول دومره زیات له اسلام څخه لېرې شوي دي، چې دوی یې لومړی تکفیر کوي، بیا یې قتل عام واجب او منکوحې یې ځانونو ته حلالې بولي؟

هیڅکله هم داسې نه ده ! مسلمان هر وخت او په هره زمانه کې مسلمان دی او تر قیامته پورې به همدا ولسونه مسلمانان وي.

اصلاً خبره د خوارجو له لوري خرابه ده. دوی یوه داسې ګمراه طبقه ده، چې کفار یې پرې اینبي خو ټول امت مسلمه نعوذ بالله ورته ګمراهان ښکاري او پر وړاندې یې دومره سخت دریځ نیسي لکه د خاصو کفارو یا مشرکینو خلاف چې راپورته شوي وي.

مونږ په ښکاره وایو، چې دا د مسلمانانو پر خلاف یوه ګمراه او داسې باطله او جهنمي ډله ده لکه د صحابه ؤ مقابل کې چې کفار پر باطله روان وو. د لږ دنیایي متاع لپاره د خپلو اسلافو لار او عقیده پرېښودل او په نورو باطلو او خواهش پرستو ډلو لکه (داعشي خوارجو) پسې تلل، ګمراهي ده او د ګمراهي انجام جهنم ده.

دا دې څوک نه وایي چې که داعش خوارج پر حق نه وای دومره پرمختګ به یې نه لره؟

کله چې اخره زمانه کې دجال راووځي، نو په هغه پسې به هم همداسې بدبختان پسې وي لکه نن چې ځیني ګمراهان او احمقان د عصر دجال ابوبکر بغدادي پسې روان دي. لکه څرنګه چې د دجال لښکرې په ډېروالي کې حق نشي ګڼل کېدلای، همداسې د خوارجو ډلې هم دي.

که هر څومره پرمختګ وکړي، جاهلان یې تر شا ودرېږي او دفاع یې وکړي، بیا هم خوارج، خوارج او ګمراه دي.

❖❖❖

# جعلـي خلافت

ليکوال: محب الرحمن مخلص

پـه اسلامـي خلافت کـې مسـلمانان آزاد وي، د آمـن او خپلواکـي تـر سـيوري لانـدې خپـل ژونـد تېـروي، د مسـلمانانو معـزز خلـك (جهـادي مشـران، علمـاء کـرام، محدثين، مدرسـين، واعظيـن) او د مسـلمانانو مالونـه، اولادونـه، ښـارونه عبـادت ګـاوې (مسـاجد، مـدارس) يـې خونـدي وي، يـو مسـلمان د بـل مسـلمان نـه مـال غصـب کـولای شـي او نـه ورتـه ضرر رسـولای شـي، د اسلامـي خلافت هـدف دا وي، چـې ټولـې کـړنـې بـه يـې د مسـلمانانو پـه ګټـه او د کفـارو پـه نقـص کـې وي؛ مګـر دلتـه د مسـتعار خلافت دعـوه داران (داعشـيان) پـه خپلـه د دې ذکـر شـويو کړنو خلاف کارونه کـوي

بحث نـور نـه اږدوم! نـن راځـو د خوارجـو لـه لـوري اعلان شـوي اسلامـي خلافت تـه ځـواب وايـو، چې آيا موجوده خلافت، خلافت دی؟ او کـه د غـرب د سيسـه ده؟ او حکم يې څه دی؟

پوښـتنه دا ده، کـه د بعضـي مشـرانو مجاهدينـو او علمـاء کرامـو لخـوا د دفاعـي يـا اقدامـي جهـاد پـه حالـت کـې د خلافـت اعلان وشـي، پـه داسـې حـال کـې چـې خليفـه يـې پـه يـوه سـتره آزاده علاقـه کـې اوسـېږي، واك هـم ورسـره وي، د داسـې خليفـه اطاعـت واجـب، مسـتحب، مبـاح او کـه ناروا دی؟ او کـه اطاعـت يـې نـاروا وي، جګـړه ورسـره څـه حکـم لـري؟ خصوصـا د دفاعـي جهاد پـه حالـت کـې (چـې د مسـلمانانو د کمزورتيـا حالـت وي) د خلافت اعلان او خليفه درول روا دي که نه؟

د پوښـتنې پـه ځـواب کـې بايـد ووايـو، چـې د خلافـت د حکـم د پېژندلـو پـه خاطـر دا ضـروري نـه ده، چـې جهـاد اقدامـي دی او کـه دفاعـي، بلکـې اهمـه خبـره دا ده چـې خلافـت، د خلافـت شـرايط، او همـدارازد خليفـه ذمـه واري او مسـؤليتونه وپېژنـو، خلافـت يـواځـې نـوم، دعـوه او إعلان نـه دی، بلکـې دا يـوه دېـره لويـه واقعـي وجيبـه ده او إقامـت يـې جائـزنـه بلکـې اهمـه فريضه ده

خليفـه بـه د ټـول امـت دينـي او دنيـوي چـارو د سـمبالولو وړتيـا لـري، د مسـلمانانو أکثريـت، علمـاء کـرام او د جهـادي لښـکرو مشـرانو بـه د خپلـو چـارو د واګـو سـپارلو بيعـت ورسـره کـړی وي، يـا بـه مخکينـي خليفـه د خلافـت وصيـت ورتـه کـړی وي، او يـا بـه يـې د خپـل خلافـت پـه علاقـه کـې پـه زور واك تـر لاسـه کـړی وي، پـه دې دريـو وارو صورتونـو کـې پـه

دې شـرط خليفـه بلـل کـېږي، چې په خلکـو بـه پـوره تسـلط لـري، حکـومت بـه وربانـدې چلولای شي.

کـوم خلافـت چـې دا وخـت د خلکـو پـه ذهـن کـې راځـي (خـوارج، داعـش يـا دولـة الاسلامية) هغه په يود همدغو شرطونو هم ندی برابر.

اول: دومـره زور او قـوت ورسـره نشـته چې پـه ټولـه اسلامـي نـړۍ بلکـې يـوازې د خپـل خلافـت په علاقه کې مسلط حکومت جوړ کړي.

دوهـم: تېـر (مخکينـي) خليفـه ورتـه د خلافـت وصيـت نـه دی کـړی، لکـه سـلطه چې يې د اسلامـي نـړۍ پـه ډېـره کمـه برخـه راغلـي وي. دا رنګـه د ټولـې اسلامـي نـړۍ لـه علمـاوو، مخـورو او جهـادي مشـرانو څخـه يواځـې څـو محـدودو کسـانو ورسـره بيعـت کـړی، نـو دا بـه څنګه د ټولو مسلمانانو اسلامي خلافت وګرځي؟

داسـې واك تـه خلافـت ويـل، لـه خپـل اسلامـي تاريـخ نـه، د پـوره نـا خبـري دليـل او ورپـورې مسخرې کول دي.

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِذَا قَالَ الرَّجُلُ: هَلَكَ النَّاسُ فَهُوَ أَهْلَكُهُمْ. رَوَاهُ مُسْلِمٌ [رقم الحديث: ٦٨٥٠]

ژبـاړه: لـه ابـو هريـره (رضـی الله عنـه) څخـه روايـت دی، وايـي: رسـول الله (صلـی الله عليـه وسـلم) فرمايلـي دي، کـه څـوك ووايـي، چې ټول خلك هلاك شـول، دغـه ويونکـی تـر ټولو په اوله درجه کې هلاك دی.

مطلب: له ځانه پرته پر ټولو خلکو د هلاکت حکم کول په خپله ګمراهي ده.

# د امت باطلې فرقې

**ليکوال: موسى مهاجر**

ابوهريره رضی الله عنه ويلي: نبی عليه السلام وويل، چې يهود په يو اويا فرقو يا په دوه اويا فرقو وېشل شوي، همدا راز نصاری په همدومره ډلو ټپلو متفرق شوي او زما امت به په درې اويا (۷۳) ډلو وووېشل شي.

که پوښتنه وشي، د دې امت دا ګمراه فرقې چې په حديث کې يې يادونه شوې، تاسو يې پېژنئ؟

امام عبدالرحمن ابن الجوزي رحمه الله يې ځواب داسې کړی، چې دومره خبره خو قطعي راته څرګنده ده، چې صحابه رضی الله عنهم چې په کوم اتفاق او جماعت وو، لومړی خوارجو دا اتفاق مات او بې اتفاقي يې په امت کې راوټوکوله، وروسته د معتزله ؤ او روافضو دا جماعت پرېښود، خپلې ډلې يې بېلې کړې، دا موږ وليدل چې له جماعت څخه بې اتفاقه شول او موږ د دې بېلو شويو فرقو اصل هم پېژنو، بلکې په دې هم وپوهېدو چې هره فرقه له جماعت څخه بېله شوه، هغه په خپل منځ کې سره ووېشل شوه، که څه هم موږ ته د هغوی نومونه او دا ګمراه مذهبونه بېل–بېل څرګند نه دي، د بدعتي فرقو له اصولو څخه دا لاندې فرقې راته معلومې دي، حروريه، قدريه، جهميه، مرجيه، رافضه او جبريه (دا شپږ ښکاره دي) ځينو عالمانو ويلي: د بدعت او ضلالت رېښې او اصل همدا شپږ فرقې دي، د هرې ډلې دولس ښاخونه دي، ټول دوه اويا ښاخونه شول، چې له جماعت څخه بې اتفاقه او فرقه–فرقه شول.

امام ابن الجوزي رحمه الله وايي، چې په دې دين د الله تعالی عجيب قدرت او رحمت دا دی، چې ګمراه فرقې دومره ډېرې دي او د جماعت يوه ډله ده، ليکن په هره زمانه کې له اوله نيولې تر اوسه اهل السنت والجماعت په کثرت سره زياتېږي، تر دې چې که د جماعت ډله لس کروړه وګڼو، دا دوه اويا فرقې يو کروړ هم نه دي، بلکې نيم کروړ لا نه دي، ښايي لس لکه وي، چې تر څو د الله تعالی حق دين هميشه د توحيد په خاوندانو کې په متواتره توګه پاته شي، څنګه چې د اهل السنت والجماعت ډله دومره ډېره ده، دوه درې صدۍ وروسته به د بدعتيانو فرقې ختمې شي (دا خبره امام جوزي رحمه الله خپلې زمانې ته په کتلو سره کړې ده او دا يقيني ده، چې په ياد و شويو فرقو

کې ځيني اوس وجود نه لري، خو نورې نوې ګمراه فرقې را پيدا شوي دي ).
امام ابن الجوزي رحمه الله دلته له يادو شويو شپږو فرقو څخه د هرې ګمراه فرقې د ۱۲ خاښونو يادونه کړې ده، د حرويه فرقې دولس څانګې دي، (د هرې خارجي فرقې عجيب مختلف ګمراه اعتقادونه دي ) څنګه چې اول ښاخ ازرقيه دي (د دې باني ابو راشد نافع بن ازرق خارجي و ) دا فرقه په دې ګمان وه، چې له هغه کسانو پرته، چې د دوی د فرقې غړي دي، نور ټول مؤمنان نه ورته ښکاريدل، هغوی اهل قبله کافران وبلل، په هغه زمانه کې د ډېرو صحابه وو او اکابرو تابعينو په وجود کې دوی د اسې ګمراه خبرې کولې، ( په اوس وخت کې که په دغه نامه کومه ډله شهرت نه لري، اما دا اعتقاد په ځينو ډلو کې شتون لري، چې له ځان پرته نور مسلمانان نه ګڼي او په اهل قبله وو د کفر حکم کوي ).
دوهمه څانګه يې اباضيه ده، ( د دې باني عبدالله بن اباض و ) دوی به دا ويل، چې که څوك زموږ په فرقه کې وي، هغه مؤمن دی او څوك چې زموږ څخه وتلی وي، هغه منافق دی (نه مؤمن او نه کافر دی ).
دريم ښاخ يې ثعلبيه دی، (د دې باني ثعلبه بن مشکان و ) د دې ګمراه ډلې دا اعتقاد و، چې الله تعالی نه څه جاري کړي او نه يې څه په تقدير کې مقدر کړي دي.
خارجي فرقې حضرت اميرالمؤمنين علی کرم الله وجهه او د هغه ملګريو، چې مهاجرين، انصار، اهل بدر او د بيعة الرضوان ډېر کسان پکې شامل وو، ټولو ته يې کافران ويل، دې فرقې ته وويل شول چې، د نبی عليه السلام له وفات څخه څلوېښت کاله لا نه دي تېر شوي او د حضرت ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په څېر حضرت عثمان، علي او د اصحابه رضی الله عنهم د نبی عليه السلام له مقربو صحابه وو څخه دي، دا ټول متواتره زمانه پېژني، آيا تاسو انکار کولای شئ؟
خوارجو وويل: بې له شکه په دې خبره ټول پوهېږي او دا خبره چې د لمر په څېر روښانه وي، له هغو څخه انکار نه شي کېدلای.
وروسته ورته وويل شول، الله تعالی چې په قرآن کريم کې صحابه کرامو رضی الله عنهم ته مؤمنين، صادقين، مؤمنون حقا او مفلحون ويلي، په دې صف کې لومړی دا کبار صحابه رضی الله عنهم داخل نه وو؟
خوارجو وويل: بې له شکه هغه مهال دوی په دې صف کې داخل شوي وو، له هغه وروسته ابوبکر او عمر رضی الله عنهما په همدې طريقه پاته شول، ليکن عثمان او

علـي رضـی الله عنهمـا زمـوږ پـه رايـه هغـه طريقـه بدلـه کـړه او لـه دې صـف څخـه ووتـل او نبـي عليـه الـسلام چـې د هغـه وخـت مطابـق هغـوی تـه جنتيـان ويلـي وو، کلـه چې هغـوی پـه مخکېنـي حال پاتـه نـه شـول، نو ټولـې خبرې هـم ولاړې.
وروسـته خوارجـو تـه ځـواب ورکـړل شـو، چـې دا ستاسـو غټـه غلطـي ده، ځکـه کلـه چـې الله تعالـی پـه تقديـر کـې هغـوی جنتيـان مقـدر کـړي وو، د مقـدر قضـاء پـوره شـوه او س پـه دې کـې تغير ممکـن دی؟

خوارجـو وويـل: مـوږ پوهېـږو، چـې دا خلـك کافـران شـوي، مـوږ دا نـه منـو، چـې الله تعالـی څـه مقـدر کـړي وو، بلکـې هيـڅ تقديـر نـه منـو، ليکـن څـوك چـې څنګـه کـوي هماغسـې کېـږي، د تقديـر پـه مسـئله مـوږ نـه پوهېـږو، ژبـاړن وايـي: دې بدبختـي فرقـې متواتـر اعتقـاد پرېښـود او د کفـر لاريـې غـوره کـړه او هغـه دښـمني چـې لـه اکابـرو صحابـه وو رضـی الله عنهم سـره يـې د هغوی پـه زړه کـې ځای نيولـی و، نـه پرېښـوده، نعوذ بالله من الضلال

### باطلې فرقې د امت د تفرقې وسيله

باطلې فرقې تل د اسلام له اصلي منهج څخه اوښتي او د امت د وېش، فتنو او کمزورۍ لامل شوي دي. د خوارجو، رافضيانو، او نورو منحرفو ډلو تاريخ ښيي چې دوی د اسلام پر ځای د خپلو باطلو نظرياتو پيروي کړې، د مسلمانانو پر ضد يې وسله پورته کړې، او امت يې د دښمنانو ښکار کړځولی.

# درېيم فصل

# ديني او جهادي ليکنې

## تصوف؛ الله تعالی جل جلاله ته د رسېدو لنډه لار

لیکوال: قلب الاسد الافغاني

داچې مسلمانانو بالخصوص افغانانو ته ډېر شمېر مغرضو کړیو او کم فهمه خلکو په نظر کې ور اچولي چې ګواکې تصوف بدعت او په اسلام کې یو نوښت (نوی) پیدا شی دی؛ نو د همدې لپاره یوه لیکنه ضرور بولو تر څو موشکونه ختم شي.

لومړی راځو د تصوف تعریف ته:

شیخ زروق په قواعد التصوف دوهمه صفحه کې وایي: د تصوف لپاره له دوو زرو هم زیات تعریفونه او تفسیرونه راغلي.

مګر مونږ به یې دلته یو تعریف را واخلو، ترڅو لیکنه مو اوږده نه شي.

قَالَ القَاضِي شَيْخُ الإِسْلَامِ زَكَرِيَّا الأَنْصَارِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى: (التَّصَوُّفُ عِلْمٌ تُعْرَفُ بِهِ أَحْوَالُ تَزْكِيَةِ النُّفُوسِ، وَتَصْفِيَةُ الأَخْلَاقِ وَتَعْمِيرُ الظَّاهِرِ وَالبَاطِنِ لِنَيْلِ السَّعَادَةِ الأَبَدِيَّةِ)

"الرسالة القشيرية" ص7.

یانې تصوف هغه علم دی چې په هغه سره د نفسونو تزکیه، د اخلاقو تصفیه، د ظاهر او باطن جوړښت پېژندل کېږي ترڅو انسان ته ابدي نېکبختي ورپه برخه شي.

اوس راځو دوهم اعتراض ته، ځینې خلک دا هم وایي چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې ولې تصوف نه و؟

ځواب: هلته که د تصوف نوم نه و، مګر بالفعل تصوف موجود و، ځکه زمونږ له تصوف څخه مراد اقتداء د نبي کریم صلی الله علیه وسلم ده، نو تاسو به هېڅ کله داسې راته ونه ښایاست چې صحابه کرامو رض دې په نبي کریم صلی الله علیه وسلم پسې اقتدا نه وي کړې.

د صحابوو داسې مثال و لکه یو عرب چې په عربي ژبه پوهېږي نو هغه ته به کله د صرف او نحوې ضرورت وي؟ او زمونږ مثال داسې دی، لکه یو عجم چې عربي لولي، نو خامخا به صرف او نحوه زده کوي ترڅو هره کلمه په خپل ځای او په صحیح اعراب ولولي.

اوس به د تصوف تاریخ ته کتنه وکړو، د تصوف تاریخ په دې ډول دی: امام الحافظ السید

محمـد صديـق الغمـاوي د تصـوف پـه هـكلـه وايـي: تصـوف د الله تعالـی لـه لـوري پـه آسـماني وحـي سـره منځتـه راغلـی دی، كـلـه چـې نبـي كـريـم صلـی الله عليـه السـلام تـه جبرايـل عليـه السـلام راغـی او د اسلام، ايمـان او احسـان بيـان يـې ورتـه وكـړ، نـو دلتـه يـې لـه احسـان څخـه مـراد علـم التصـوف و، ځـكـه خـويـې د احسـان پـه بـاب كـې وويـل: "ان تعبدالله كانک تـراه" يانـې احسـان دا ده، چـې د الله تعالـی جـل جلالـه داسـې عبـادت وكـړې لكـه تـه چـې الله تعالـی جـل جلالـه وينـې، او دانـده، مـكـر تصـوف دی. (أخرجـه الإمـام مسـلم فـي صحيحـه فـي كـتاب الإيمان عن عمر بن الخطاب رَضِيَ اللُّه عَنْهُ)

او همداشـان بيـا ورسـره وايـي: تصـوف د ديـن لـه دريـو اركـانـو څخـه يـو ركـن دی، نـو هـرهغـه څـوك چـې لـه تصوفـه لېـرې دی، ديـن يـې ناقـص دی، ځـكـه د ديـن يـو ركـن يـې نـه دی پـوره كـړی.

(الانتصار لطريق الصوفية، ص:٦ ، للمحدث محمد صديق الغماري)

او همداسې ډېر نور اقوال هم موجود دي.

او بلـه خبـره بـه د تصـوف پـه اهميـت كـې وكـړو، د تصـوف د اهميـت پـه بـاره كـې هـم ډېـر اقوال شتون لري.

لومـړی قـول: قَـالَ الإِمَـامُ جَلَالُ الدِّيـنِ السُّـيُوطِيُّ رَحِمَـهُ اللهُ تَعَـالَى: (أَمَّـا عِلْـمُ القَلْـبِ وَمَعْرِفَـةُ أَمْرَاضِهِ مِنَ الحَسَدِ وَالعُجْبِ وَالرِّيَاءِ وَنَحْوِهَا، فَقَالَ الغَزَالِيُّ رَحِمَهُ اللهُ تَعَالَى: إِنَّهَا فَرْضُ عَيْنٍ)

(الأشباه والنظائر، للسيوطي، ص:٥٠٤)

ژبـاړه: امـام جلال الديـن السـيوطي رحمـه الله وايـي: زړه او د هغـه مرضونـه لكـه حسـد، ريـاء، عجـب او همداسـې نـور پېژنـدل نـو پـه دې هـكلـه امـام غزالـي رحمـه الله وايـي: چـې دا فـرض عين دي.

دوهـم قـول: قَـالَ حُجَّـةُ الإِسْلَامِ الإِمَـامُ الغَـزَالِيُّ: (الدُّخُـولُ مَـعَ الصُّـوفِيَّـةِ فَـرْضُ عَيْنٍ، إِذْ لَا يَخْلُـو أَحَـدٌ مِنْ عَيْبٍ إِلَّا الأَنْبِيَاءُ عَلَيْهِمُ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ)

(النصرة النبوية، على هامش شرح الرائية، للفاسي، ص:٢٦)

ژبـاړه: لـه صوفيانـو سـره پـه تصـوف كـې داخلېـدل فـرض عيـن دي، ځـكـه د انبيـاوو عليهـم السلام څخه پرته هيڅوك هم له عيب څخه نه وي خالي.

همداسـې نـور زيـات شـمېر اقـوال، احاديـث او آيتونـه موجـود دي، چـې د تصـوف اهميـت تـرې معلومېږي، مـګـر مونږ به په همدې اكتفاء وكړو.

# ژمی؛ د عبادت او ایثار موسم

لیکوال: حسان مجاهد

رسول الله ﷺ فرمایلي: په ژمي کې روژه نیول سوړ غنیمت دی. [احمد او ترمذي]

سوړ په دې مانا چې تنده، ګرمي او تکلیف نه لري. سلف صالحین به د ژمي موسم ته ډېر خوشحاله وو او په دې موسم کې به یې په عبادت زیات حرص کاوو.

حضرت عمر رض وایي: ژمی د عبادت ګذارو خلکو لپاره غوره غنیمت دی.

حضرت عبد الله ابن مسعود رض وایي: ژمي ته ښه راغلاست وایو، په دې موسم کې برکتونه نازلېږي، شپه په کې د عبادت لپاره ښه اوږده وي او ورځ په کې د روژې لپاره ښه لنډه وي.

حضرت معاذ ابن جبل رض د زنکندن پر مهال ژاړي او وایي، د ژمي په اوږدو شپو پسې ژاړم.

حضرت عبید بن عمیر رح وایي: ای د قرآن خاوندانو! په ژمي کې شپه د قرات لپاره اوږده شوه نو قرآن کریم تلاوت کړئ او ورځ د روژې لپاره لنډه ده نو روژې ونیسئ!

په ژمي کې باید د عباداتو له جملې څخه د دغه شیانو ته پاملرنه وشي.

۱: د شپې لمونځ ۲: د ورځې روژه ۳: د سهار لمونځ په جماعت سره ٤: په یخو اوبو اودس کول ٥: په یخه هوا او توره شپه کې مسجد ته تلل ٦: د الله تعالی نعمتونه ور یادول لکه د لباس او پوښاك نعمت، د ګرمو خونو نعمت، د باران او واورې نعمت. ۷: د الله تعالی په قدرتونو کې فکر کول لکه سړه هوا، برېښنا، تندر او... ځکه د دغه کارونو ډېر فضیلت بیان شوی دی.

د بې وزله کسانو سره همکاري کول:

الله تعالی په قرآن کریم کې «إیثار» د مؤمنانو صفت یاد کړی دی، ایثار دې ته وایي چې تر ځان بل څوك غوره وګڼې او مرسته ورسره وکړې. ایثار د صحابه کرامو ځانګړی صفت و، مهاجرین صحابه مدینې منورې ته په داسې حال کې را ورسېدل چې هیڅ دنیوي متاع ورسره نه وو، خو انصارو په خپلو کورونو کې ځای ورکړ او تر اوسه تېره همکاري یې ورسره وکړه په ژوند څه، چې د مرګ په حال کې یې هم خپل ملګري له یاده نه ویستل. حضرت حارث، عکرمه او عیاش (رضی الله عنهم) په یوه پېښه کې درې واړه زخمیان پراته دي او د سختې تندې له امله یې اوبه طلب کړې،

ساقي چې اوبه راوړې، نو لومړی يې حارث ته ونيولې، خو هغه چې د عکرمه تنده وليده، نو عکرمه ته يې د اوبو ورکولو امر وکړ، عکرمه چې د عياش تنده وليده، نو يې عياش ته د اوبو ورکولو امر وکړ، عياش په دې حال کې شهيد شوی دی، ساقي چې بېرته راګرځي عکرمه او حارث هم دواړه شهيدان شوي دي.

(انا لله وانا اليه راجعون)

د ژمي په موسم کې ډېر بې وزله کسان له ستونزو سره مخ وي، نو د دوی بايد ډېره حال پوښتنه او همکاري وشي، خوراکي مواد، د تودوخې اسباب او نور د ژوند ضروريات يې تکميل شي، ځکه اسلام مؤمن ته داسې سپارښتنه کوي، شوروا ته اوبه ور زياتې کړئ، تر څو د خپل همسايه هم درسره ګذاره وشي [الحديث]

نو يوازې ځانونه مه پټوئ تر څنګ مو د يخ نيولو خوارانو خيال هم وساتئ!

## ژمی د مؤمن لپاره غنيمت دی!

قال الإمام ابن رجب الحنبلي رحمه الله:

"الشتاءُ ربيعُ المؤمنِ، قَصُرَ نهارُهُ فصامهُ، وطال ليلُهُ فقامهُ."

(لطائف المعارف، ص٢٧٦)

ژباړه: ژمی د مؤمن لپاره د عبادت لپاره يو ځانګړی فرصت دی.

د لنډو ورځو له امله روژه نيول اسانه وي، او د اوږدو شپو له امله تهجد کول آسانه وي. ځکه نو علماوو ژمي ته د مؤمن لپاره د "ربيع" (پسرلي) موسم ويلی، ځکه چې پسرلی د نباتاتو د ودې موسم دی، همداسې ژمی د مؤمن د عبادت د ودې موسم ګڼل کېږي.

# ولې مو په لمونځ کې خشوع نشته؟

ليکنه: الياس عمر

د ټولنې اکثريت وګړي مونږ وينو، چې په لمونځ او نورو عباداتو کې يې د خشوع څرك نه وي، ولې؟

ځکه عام دليل دا دی چې استقامت نلرو. هرڅه په استقامت سرته رسيږي، کوم عمل کې چې استقامت نه وي، هغه به ضرور نيمګړی پاتې کيږي.

همدا وجه ده، چې زمونږ ځينې مسلمانان لومړی ښه په خشوع او خضوع سره لمونځ پيل کړي، د ځينو استقامت خو دومره وي چې فقط يو يا دوه رکعته وکړي، نور په تنګ شي. خو ځينې نور بيا لږ ترلږه يوه يا دوه ورځې استقامت کوي او تر هغه روسته بيا بېرته په پخوانی شکل لمونځ کول پيل کړي.

راځئ! تر څو په لنډو توريو څو هغه اسباب وليکو چې په لمانځه کې د خشوع سبب کيږي.

❶ په اودس کې خشوع:

په اودس کولو کې د لمانځه په پار خشوع او آماده ګي کول هم يو هغه سبب دی چې په لمونځ کې خشوع ته لاره هواره وي. که چېرته مونږ اودس ناقص ترسره کړو، نو طبعي ده چې لمونځ ته به موتوجه را ټوله نشي.

❷ داسې ملګرو سره کيناستل چې په لمونځ کې خشوع لري:

دا چې انسانان يو د بل په رنګ باندې رنګ اخلي، نو د لمونځ د خشوع لپاره يو موثر سبب دا دی چې د هغو ملګرو د لمانځه په وخت کې حاضر اوسو، چې هغوی په ارامۍ او اطمنان سره لمونځ ادا کوي، نو که په يوه ورځ نشي په دوهمه ورځ دې خامخا د هغه خوی او عاداتو ته ميلان پيدا کيږي. او کوم کسان چې په لمونځ کې يو د بله سره ضد کوي، د هغوی تاثير به خامخا په مونږ هم لويږي.

❸ د لمونځ معنا ته فکر کول:

دا هم يو موثر سبب دی، چې مونږ سره مرسته کوي تر څو لمونځ کې مو خشوع را پيدا شي، تر هغه چې مونږ د لمونځ معنا ته متوجه نشو، نو خشوع به له څه وکړو؟ څنګه به پوه شو چې مونږ دلته اوس د وعد ذکر وکړ که د وعيد؟ آيا دلته د

الله عـز وجـل د رحمـت د ذکـر پـه وجـه رجـاء وکـړو او کـه د هغـه د عـذاب د ذکـر پـه وجـه وېره وکړو؟

**۴ په ورځني ژوند کې د نفس اصلاح:**

کـه چېرتـه مونـږ فکـر وکـړو، هـر هغـه عمـل چـې مونـږ يـې د ورځـې پـه لـړ کـې ترسـره کـوو، هغـه زمونـږ پـه عبـاداتـو خاصتـاً پـه لمونـځ ژور تاثيـر کـوي، او طبعـي ده چـې يـو څوك ټولـه ورځ ګنـاه وکـړي، نـو انسـاني نفـس بيـا دانـه قبلـوي چـې عبـادت دې پـر کاملـه توجـه ترسره شي.

**۲ حياء:**

کـه مونـږ فکـر وکـړو، چـې الله عـز وجـل لـه دومـره لـوی عظمـت سـره هـم مونـږ خپلـو خبرو او کـلام تـه درووي، او مونـږ د الله عـز وجـل پـه حضـور کـې هـم د دنيـا فکرونـو پسـې اخيسـتي يـو، نـو واقعـا سـالم نفـس تـه حيـاء درېـږي او کوښـښ بـه کـوي چـې توجـه او فکـر يې پر لمانځه راجمعه شي.

**امام غزالي رحمه الله**

**په لمانځه کې د خشوع په اړه داسې فرمايي:**

"الخشوع هو حضور القلب، فيكون في ذلك تعظيم الله تعالى وتواضع العبد فيبدي هذا التواضع في جوارحه، فيكون العبد خاشعاً بقلبه وجوارحه، فيسمو بذلك في عباداته. "

(احياء علوم الدين)

ژباړه: "خشوع د زړه حضور دی، چې په هغه کې د الله سبحانه وتعالی عظمت او درناوی وي، او ټول بدن د دې عظمت سره مطابقت وکړي. کله چې انسان د خپل رب په وړاندې د فزيکي او روحاني دواړو سره خاضع شي، نو د هغه لمونځ په حقيقت کې کامل او ښکلی کړي. "

# د یوه صحابي د واده ایمان زیاتوونکې کیسه

لیکوال: ایمان وردګ

حضرت سهل بن سعد (رضي الله تعالی عنه) فرمایي: رسوالله صلی الله علیه وسلم ته یوه میرمن راغله او عرض یې وکړ: یا رسول الله ! زه خپل ځان تاته سپارم، هره فیصله چې زما په اړه کوې ماته منظوره ده او منم یې. رسول الله صلی الله علیه وسلم سر ښکته واچاو او میرمن هلته کښیناسته، یو صحابي راپورته شو او عرض یې وکړ، یا رسول الله ! که تاسو ته څه ضرورت نه وي، نو د دې میرمنې نکاح له ما سره وکړه، رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې ورته وفرمایل: آیا ستا سره دې میرمنې ته د مهر ورکولو لپاره څه شته؟ هغه وویل، اې د الله رسوله ! د الله په پاک ذات قسم خورم چې له ما سره د مهر ورکولو لپاره هیڅ هم نشته. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: ورشه له خپلو عزیزانو او خپلوانو مرسته وغواړه، ګوندې یو څه لاس ته راوړې. هغه صحابي ولاړ، کله چې بېرته راستون شو، عرض یې وکړ یا رسول الله ! په الله قسم چې هیڅ مې هم ونه موندل. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: لاړ شه ! که دې کومه د اوسپنې ګوته (ګوتمۍ) ومونده، هم سمه ده، سړی ولاړ، کله چې راستون شو، نو ویې ویل: یا رسول الله ! د اوسپنې ګوتمۍ خو مې هم ونه مونده، خو دغې یوې لنګۍ (لنګ) ته حاضر یم چې نیمه یې کړم، نیمه هغې ته په مهر کې ورکړم او نیمه به زما شي، البته څادر یې هم نه و.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په ځواب کې ورته وفرمایل: په دې لنګۍ به څه وشي، که یې ته واغوندې، بیا دې میرمنې ته څه نه پاتې کېږي، او که یې هغه واغوندي بیا تاته څه نه پاتې کېږي.

د دې خبرې په اورېدو سره مسکین صحابي مایوس شو، تر ډېره غلی کښیناست، او له هغه وروسته روان شو، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ولید چې دې مسکین صحابي مخ واړاو او روان شو، نو ویې فرمایل: ورشئ او هغه بېرته راولئ ! کله چې سړی بېرته حاضر شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ترې وپوښتل: تا ته د قرآن کوم سورتونه یاد دي؟ هغه عرض وکړ، فلانی او فلانی، همداسې لګیا

شـو، د یـوه یـوه سـورت نـوم یـې ورتـه یـاداوو، رسـول الله صلـی الله علیـه وسـلم پـه ځـواب کـې ورتـه وفرمایـل: ځـه ! د همدغـه قـرآن پـه بـدل کـې مـې دغـه مېرمـن تاتـه پـه نکاح درکړه، لاړ شه ! او دې مېرمنې ته هم قرآن ورزده کړه.

قال الإمام ابن القيم رحمه الله

"كلما كان المهر أقل وكان الزوج أعظم ديناً وأخلاقاً كان أنفع للمرأة وأبرك عليها."

(زاد المعاد، ج ٥، ص ١٧٨)

ژباړه:

امام ابن القیم رحمه الله وایي:

"څومره چې مهر کم وي او خاوند دیندار او د ښه اخلاقو څښتن وي، نو دا د ښځې لپاره ډېر ګټور او بابرکته وي. "

## د رسول الله د تهجد لمونځ

ليکوال: حامد افغان

حذيفه بن اليمان رضي الله عنهما وايي: يوه شپه مې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د تهجد لمونځ وکړ، هغه په لمانځه کې د بقره سورت پیل کړ، له ځان سره مې ويل چې سل آيتونه پوره کړي، نو رکوع ته به ځي، خو هغه سل آيتونه وويل او نور يې هم ويلې او روان و، ما ويل دا ټول سورت به په يوه رکات کې ووايي خو هغه روان و، ټول يې وويلې، ما ويل اوس به رکوع کوي، خو هغه روان و او د النساء سورت يې پیل کړ، هغه يې ختم کړ، له هغه وروسته يې د آل عمران سورت پیل کړ، هغه يې هم ختم کړ، تلاوت يې هم ورو ورو کاوه، په کوم آيت کې به چې د تسبيح خبره وه، هلته به يې تسبيح ويله، که د سوال خبره به وه، هلته به يې سوال کاوه، کوم ځای به چې د تعوذ او پناه غوښتلو خبره وه، هلته به يې پناه غوښتله، له هغه وروسته رکوع ته ولاړ، په رکوع کې يې ويل: سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ، رکوع يې هم تقريباً دومره وه لکه قيام، بيا يې وويل: سمع الله لِمَنْ حَمِدَهُ، بيا تر ډېرو ولاړ و تقريباً د رکوع هومره، بيا يې سجده وکړه او په سجده کې يې وويل: سُبْحَانَ رَبِّيَ الأعلى، او سجده يې هم تقريباً د قيام غوندې اوږده وه.

قال حُذَيْفَةُ بن اليمان رضي الله عنهما: "صَلَّيْتُ مع النبي - صلى الله عليه وسلم - ذَاتَ لَيْلَةٍ فَافْتَتَحَ البَقَرَةَ، فقلت: يَرْكَعُ عِنْدَ المِائَةِ، ثُمَّ مَضَى، فقلت: يُصَلِّي بها في رَكْعَةٍ، فَمَضَى، فقلت: يَرْكَعُ بها، ثُمَّ افْتَتَحَ النِّسَاءَ فَقَرَأَهَا، ثُمَّ افْتَتَحَ آلَ عِمْرَانَ فَقَرَأَهَا، يَقْرَأُ مُتَرَسِّلاً، إذا مَرَّ بِآيَةٍ فيها تَسْبِيحٌ سَبَّحَ، وإذا مَرَّ بِسُؤَالٍ سَأَلَ، وإذا مَرَّ بِتَعَوُّذٍ تَعَوَّذَ، ثُمَّ رَكَعَ، فَجَعَلَ يقول: سُبْحَانَ رَبِّيَ العَظِيمِ، فَكَانَ رُكُوعُهُ نَحْوًا من قِيَامِهِ، ثُمَّ قال: سمع الله لِمَنْ حَمِدَهُ، ثُمَّ قام طَوِيلاً قَرِيبًا مِمَّا رَكَعَ، ثُمَّ سَجَدَ فقال: سُبْحَانَ رَبِّيَ الأعلى، فَكَانَ سُجُودُهُ قَرِيبًا من قِيَامِهِ"؛ رواه مسلم.

دا درې سورتونه: البقره، النساء او آل العمران تقريباً څلورنيم مخه باندې پنځه سپارې دي او ٦٦٢ آيتونه دي، په حديث کې د مترسلاً لفظ راغلی دی يانې تلاوت يې په

غـور، تدبـر او ارام سـره و، د هـر آیـت یـا څـو آیتونـو لـه مفهـوم سـره سـم بـه مناسـب شـی ویلـې، کـه د عـذاب او جهنـم خبـره بـه پـه آیتونـو کـې وه یـا بـه د شـیطان د مکـر او فریـب خبـره وه، هلتـه بـه یـې تعـوذ او لـه الله پنـا غوښـتله او داسـي نـور... پـه حدیـث کـې دا هـم راغلـي چـې رکـوع، قومـه او سـجدې یـې هـم تقریبـا د قیـام پـه څیـر اوږدې وې او دا یـې د یـو رکعـت تفصیـل دی، نـو کـه تخمینـي حسـاب وکـړو، دا دوه رکعتـه څـو ساعته وخت نیسي.

دا د هغـه رسـول الله صلـی الله علیـه وسـلم لمونـځ دی چـې الله جـل جلالـه ورتـه ویلـي دي: قَـدْ غَفَـرَ اللّـهُ لَـكَ مَـا تَقَـدَّمَ مِـنْ ذَنْبِـكَ وَمَـا تَأَخَّـرَ، یانـې الله مخکـې او وروسـته ټـول ګناهونـه درتـه ښـلي دي، پـه روایـت کـې راغلـي چـې پـه لمانځـه بانـدې د اوږده قیـام لاملـه بـه د رسـول الله صلـی الله علیـه وسـلم پښـې وپړسـېدلې، یـو چـا دا لـوړ آیـت ورتـه وویلـې، چـې تـا تـه الله ټـول ګناهونـه ښـلي دي، بیـا ولـې دومـره تکلیـف کـوې؟! نبـي ص ورتـه وویـل: افلا اکـون عبـدا شـکورا؟ یانـې چـې الله دومـره مهربانـي رابانـدې کـړې ده، نو زه یې ډېر شکر ایستونکی بنده نشم؟!.
کـه ریښـتیا ووایـو، د رسـول الله د تهجـد او عبـادت دا حالـت چـې سـړی ووینـي، نـو پـه خپلـه لټـې او سسـتي د شـرم او خجالـت احسـاس وکـړي، الله مـو دې اصلاح او د هغـه د عبـادت توفیق راکړي

اللهـم اجعلنـا مـن الذيـن يحرصـون على إقامـة الصلاة كما أقامهـا نبيـك محمـد صلى اللـه عليـه وسـلم، واجعلنـا مـن أهـل الخشـوع والخضـوع في صلاتنـا، وارزقنـا توفيقهـا في جميـع أوقاتنـا، واجعـل قلوبنـا مملـوءة بحبـك، وطاعتـك، وعبادتـك، ووفقنـا لتحقيـق مـا يرضيـك في صلاتنـا كما رضي قلـب نبيـك صلى اللـه عليـه وسـلم. اللهـم اجعلهـا لنـا نـوراً، وزيـادةً في قربـك، وسـبباً في رحمتـك وغفرانـك، واجعلنـا مـن الذيـن يعمـرون بيوتنـا بذكرك، ويسيرون على درب نبيك الكريم. آمين يا أرحم الراحمين.

# څلورم فصل

## سياسي او ټولنيزې ليکنې

## د ايراني ملېشو او داعشيانو ترمنځ د پټ تړون معلومات

ليکنه: المرصاد اداره

د سوريې د بشر حقونو د څار اداري په يوه ځانګړي راپور کې د داعشي خوارجو، د بشار الاسد رژيم او په سوريه کې د ايراني ملېشو ترمنځ د پټ تړون په هکله معلومات خپاره کړي دي.

د راپور له مخې، د داعشي خوارجو او په سوريه کې د ايراني ملېشو ترمنځ يوه هوکړه شوې وه چې له مخې به يې داعشيانو د ايراني ملېشو پر پوستو او کاروانونو بريد نه کاوه او په بدل کې به يې د ايران له ملاتړه برخمنو ډلو داعش ته وسلې، نورو سيمو ته د تګ لار او استخباراتي معلومات ورکول.

په راپور کې ويل شوي، چې د ۲۰۲۲ز کال په جنوري مياشت کې د سوريې پر غويران زندان باندې د بريد لپاره د زندان کوردينات او نور پټ معلومات هم ايراني استخباراتو داعشيانو ته ورکړي وو.

### د يارانې پيل:

د ۲۰۲۱ز کال په اپرېل مياشت کې د ايران د سپاه پاسداران انقلاب ځواکونو مشرتابه په سوريه کې خپلې يوې ملاتړې ډلې ته په فارسي ژبه يو پيغام لېږلی و، چې په هغه کې يې غوښتنه ترې کړې وه، چې د قومي مشرانو له لارې دې له داعشي خوارجو سره د مشترکو کټو په تړاو ووينې.

د امر پرځای کولو لپاره، د ديرالزور د پوځي استخباراتو قومندان جنرال احمد ابراهيم الخليل د شيخ علي احمد العموري په نوم په حماة ولايت کې له يوه قومي مشره وغوښتل چې ديرالزور ته ورشي او له خپل نفوذه په استفادې سره د ايران د سپاه پاسداران انقلاب او داعش ترمنځ ليدنې ته زمينه برابره کړي. شيخ علي احمد العموري تر دې وړاندې هم د داعشيانو او ايراني ملېشو ترمنځ ناستې تنظيم کړې وې.

لس ورځې وروسته، د ۲۰۲۱ز د مې مياشتې په درېمه، العموري خپل پوځي ملګري ته وويل چې داعشيانو د مې په ۲۰مه د کباجب او سخنة سيمې ترمنځ ليدنې سره موافقه کړې ده.

لـه هوكـړې سـره سـم، پـه يـاده نېټـه مجلس ترسـره شـو، چـې مشـري يـې د ديرالـزور د پوځـي اسـتخباراتو قومنـدان كولـه؛ د ايـران د انـقلاب سـاتونكو ځواكونـو پـه استازيتوب د الحـاج دهقـان پـه نـوم كـس او د داعشـيانو پـه نماينـدګـي د ابـو البـراء پـه نـوم كـس ګـډون پكـې كـړى و. پـه مجلـس كـې الحـاج دهقـان لـه داعشـي خوارجـو وغوښـتل چـې پـه ديرالـزور او ورڅېرمـه سـيمو كـې دې پـر ايرانـي ملېشـو بريـد نـه كـوي، پـه بـدل كـې بـه يـې دوى داعشـيانو تـه وسـلې، مرمـۍ او د سـوريې د ډموكراتيكو ځواكونو سيمې ته د ورتګ مصؤنه لار ورکړي.

درې اوونـۍ وروسـته، د ۲۰۲۱ز كال د جـون پـه نهمـه، يـو ځـل بيـا د ايرانـي ځواكونـو او داعشـيانو ترمنـځ پـه مخكينـي ځـاى كـې غونـډه وشـوه. پـه غونـډه كـې ابـو البـراء د داعشـيانو پـه استازيتوب يـو اساسـي شـرط وړانـدې كـړ، هغـه دا چـې داعشـيانو تـه بـه د حسـكه ښـار د غويـران زنـدان پـه اړه تفصيلـي معلومـات وركـول كېـږي. ابـو البـراء د دې ترڅنـګ لـه ايرانيانـو ضمانـت وغوښـت چـې غويـران زنـدان تـه پـه تللـو لاړو كـې د ايرانيانو لخوا له ستونزې سره مخ نشي. د ايران استازي يې هره غوښتنه ومنله.

د يادونـې وړ ده، غويـران زنـدان د سـوريې د ډموكراتيكـو ځواكونـو تـر واك لانـدې دى او هغه وخت نږدې ۳۵۰۰ داعشيان پكې ساتل كېدل.

لږ مـوده وروسـته ايرانيانـو د غويـران زنـدان، ورڅېرمـه سـيمو، د زنـدان شـاوخوا پوسـتو او ګـزمو پـه اړه ټـول معلومـات داعشـيانو تـه وسـپارل. څـه وخـت وروسـته، داعشـي خـوارج د نهـر خابـور سـيمې لـه لارې غويـران زنـدان تـه ورسـېدل او پـه لاره كـې د كـردي ځواكونـو لـه پوسـتو تېـر شـول. تـر عملياتـو يـوه شـپه مخكـې داعشـيان پـه هغـه سـيمه كـې راټـول شـوي وو چـې د ايرانـي ملېشـو تـر تسـلط لانـدې وه او پـه عملياتـو كـې استعمال شوى موټربم هم له همدې ځايه وتلى و.

د ايرانـي ملېشـو لـه لارې د ترلاسـه كـړو معلوماتـو پـه رڼـا كـې داعشـيانو د غويـران پـر زنـدان د ۲۰۲۲ز د جنـوري پـه شـلمه بريـد پيـل كـړ او پـه دېرشـمه پـاى تـه ورسـېد. د سـوريې د بشـرحقونو د څـار بنسـټ وايـي، چـې لـه زندانـه زيـات شـمېر داعشـيان هـم د ايرانـي ملېشو په همكارۍ تښتېدلي دي.

## پر ايراني ملېشو د بريدونو كمېدل:

د سـوريې د بشـر حقونـو د څـار اداره وايـي، چـې د ۲۰۲۱ز كال لـه نيمايـي راهيسـې (يانـې لـه كلـه چـې ايرانـي ملېشـې او داعشـيان توافق تـه سـره ورسـېدل) پـه سـوريه كـې پـر

ایرانـي ملېشـو د خوارجـو بریدونـه تـر پـام وړ انـدازې کـم شـوي دي. د داعشـیانو د رسـمي مجلې النبا ارقام، چې مبالغه هم پکې ده، پخپله د پام وړ کموالي ته اشاره کوي.
د راپـور لـه مخـې، پـه ۲۰۲۲ز کال کـې داعشـیانو د کـردي ځواکونـو پـه سـیمو کـې تـر ۲۰۰ زیـات عملیـات ترسـره کـړي وو. حـال دا چـې د سـوریې پـه صحـرا کـې یـې نـږدې ۱۰۰ بریدونـه کـړي وو، خـو یـوازې پـه شـپږو بریدونـو کـې ایرانـي ملېشـې د بریدونـو مسـتقیم هـدف وې. دا شپږ بریدونـه هـم ښـایي د داعشـیانو خپلسـرو وسـله والـو کـړي وي او یـا هـم د دې لپـاره ترسـره شـوي وي چـې عـام داعشـیان بدګومانـي او سرکشـي ونکړي.
داعشـي خـوارج خپـل هغـه ټـول مخالفیـن تکفیـروي چـې لـه دښـمن سـره یـې د مصلحـت او ارتیـا پـر بنـاء یـو نـه یـو ډول مذاکـرات کـړي وي، خـو پخپلـه نـه یوازې لـه هغـو کسـانو سـره مذاکـرات کـوي چـې د دوی پـه انـد مرتدیـن دي، بلکـې مرسـتې هـم تـرې قبلـوي او د جګـړې نـه کولـو تعاهـد ورسـره کـوي. تـر دې وړانـدې هـم داعشـي خوارجـو د سـوریې لـه رژیـم سـره موافقـې کـړې دي، چـې پـه تـړاو بـه یـې المرصـاد پـه نـږدې راتلونکـې کـې ځانګـړي راپورونه خپاره کړي.

## داعش او ایران پټ تړون او دوه مخي توب

داعش، چې په خپلو مطبوعاتو کې د شیعه روافضو سخت تکفیر کوي او پر هغوی بریدونه ترسره کوي، په حقیقت کې د ایران سره پټې معاملې او تړونونه لري. سره له دې چې دوی د شیعه ګانو پر وړاندې جګړه اعلانوي، ایران سره د خپلو ستراتیژیکو ګټو لپاره همکاري کوي. دا پټ تړونونه نه یوازې د مسلمانانو وحدت ته ګواښ دی، بلکې د اسلام اصلي اهدافو ته هم زیان رسوي.
داعش او ایران په خپلو کړو فعالیتونو کې د امت د تفرقه او فتنې پراختیا کوي، او د خپلو سیاسي موخو لپاره د مسلمانانو وینه تویوي، چې د دوی دوه‌مخي توب او منافقت څرګندوي.

## په واخان ولکه، له هند سره ځمکنۍ اړیکې؛
## د جان اڅکزي او خواجه آصف ماشومانه څرګندونې !

لیکنه: قاري عبدالرشید مومند

له تېرو څو ورځو راهیسې، په داسې حال کې چې پاکستان په خپل هېواد کې د بریدونو په مخنیوي کې پاتې راغلی، پوځ یې په ټولنیزو رسنیو کې خپل پلویان، تبلیغاتي دستګاوې او رسنیز مبلغین بیاځلي فعال کړي دي.

له هر قسم اسلامي او قانوني اصولو څخه په سرغړونې، د پکتیکا او خوست په بمباریو کې د معصومو کوچنیو ماشومانو شهیدانول او بیا پدې اړه له جعلي ویډیوګانې څخه واخله د جان اڅکزي تر ټویټونو پورې، هغه څه دي چې موږ یې په اړه ویلای شو، چې د پاکستاني رژیم لاسپوڅو واکمنانو تل په خپلو داسې کړنو سره یواځې او یواځې نړیوال او د سیمې اوسېدونکي په ځان پورې خندولي دي.

داسې ښکاري چې ګواکې د بلوچستان د اطلاعاتو وزیر جان اڅکزي خپل هوش او حواس له لاسه ورکړی نو یې د افغانستان شاه نیولې ده، کله په وزیرستان او نورو سیمو کې د بریدونو پړه په افغانستان اچوي، کله د پکتیکا او خوست په بمباریو کې د تحریك طالبان پاکستان د قومندانانو د په نښه کېدو دروغجنې دعوې کوي او کله بیا په ډېرې سپین سترګۍ سره د واخان د نیولو اړوند احمقانه او ماشومانه څرګندونې کوي. پدې اړه ترهرڅه لومړی دی باید پدې پوه شي چې ترڅو پورې چې په شمار یواځې لس افغانان هم ژوندي وي، واخان څه چې د افغانستان یوه لوېشت ځمکه هم نشئ نیولای، او دا کومې هوائي خبرې هم ندي، بلکې د دې تریخ او سپین ریښتیني حقیقت معلومات او تائید تاسې له هغو خلکو څخه ښه کولای شئ کومو ته چې تاسې تل مدام د قرض او خیرات غوښتلو لپاره ور روان یاست.

له بلې خوا، د پاکستان د دفاع وزیر خواجه آصف چې د هېواد دفاع یې اساسي او قانوني دنده ده او باید پام ورته وکړي، د سوداګریزې کرښې په اړه خبرې پېل کړې چې دا ډېر د تمسخر وړ او خندا کار دی چې باید د یو هېواد یا دولت وزیر

ورځخه ډډه وکړي. خو دوی باید په دې هم پوه شي چې افغانستان اوس په پاکستان دومره تکیه نه لري لکه څنګه چې يې په اړه تاسې فکر کوئ. که تاسې له موږ سره د هند د مرستو یا سوداګرۍ د بندولو په اړه فکر کوئ، نو دا به زموږ په ګټه وي ځکه چې موږ به د چابهار بندر له لارې خپل تجارت او راکړه ورکړه نوره هم زیاته کړو. إن شاء الله تعالی

دوهمه خبره، که تاسو دومره پیاوړي او ځواکمن یاست، نو ولې یواځې د هند لاره بندول غواړئ؟

په خلاص زړه همت وکړئ او ووایئ چې پاکستان له افغانستان سره ټولې هراړخیزې سوداګریزې اړیکې پرې کوي، خو ټول پوهېږي چې تاسې دا کار هیڅکله نه کوئ، ځکه چې تاسې هم پدې پوه یاست چې پدې کې له موږ څخه ستاسې زیات تاوان دی.

ستاسې په یاد به وي، چې حافظ انس حقاني د کابل له فتحې څخه څو ورځې وړاندې د یوې مشاعرې په ترڅ کې د افغانستان پخوانۍ ادارې ته په خطاب کې وویل چې داسې خبرې هیڅکله مه کوئ چې بیا وروسته پرې پښېمانه شئ.

نو زه هم په همدې لنډو ټکو کې درته وایم، چې که موږ کمزوري یو، نو تاسې هم دومره ځواکمن او پیاوړي نه یاست لکه څنګه چې مو په مطالعهِ پاکستان کې لیکلي دي، نو باید له هرڅه مخکې لومړی فکر وکړئ، بیا يې وزن وکړئ او بیا يې په اړه خبرې وکړئ.

په پای کې د پاکستان ټولو هغو خلکو ته چې له افغان ملت سره مینه لري او د مسلمان په توګه زموږ اسلامي حکومت ته احترام او درناوی لري، دا پیغام لرم چې د اسلامي وروروکلوی له مخې دې ښه او نیک ګاونډیان اووسي او خپل رژیم ته دې هم پدې اړه قناعت ورکړي.

د دولت واکمنان او چارواکي يې هم باید لومړی خپلې تېروتنې او غلطې پالیسیانې سمې کړي، د امن او آمان په اړه جدیت وښيي، له ماشومانه او غیر مسئولانه څرګندونو ډډه وکړي او له افغانستان سره خپل تعلقات او اړیکې مثبتې وساتي، په دې کې د دواړو هېوادونو خیر دی.

# د امت په ننګه

لیکنه : عزیزالدین مصنف

د دفاع وزیر چې د ټول هېواد د تصفیوي او امنیتي کمېسیون د ریاست چارې هم ور لغاړې دي، د ولس په وړاندې راڅرګندېږي، د رسنیو په مرکز کې راټول شوي ژورنالستان کوم نوي زیري ته په تمه دي، ټول هغه څه کوي چې د ځوان رهبر لومړنۍ ملغرې زه انعکاس کړم.

سپه سالار د ملت په نمایندګي د امت په وړاندې خبرې کوي، دا یوه سرنوشت سازه مرحله ده، هغه څه چې سترګې ور اوړي اوس باید په ژبه ولوستل شي، د غازي پوځونو له پرمختګونو یادونه وشي، د کمنامه اتلانو لاسته راوړنې څه دي، د شهیدانو په وینو کښل شوی راپاتې امانت څنګه وساتو، د دې نظام د پایښت رموز څه دي، څنګه له خپل اړخه د امت حق ادا کولای شو او څه وخت به د امارت لوړ اهداف تعبیر مومي.

ځوان سپه سالار د الله ﷻ تر حمد او ثنا وروسته له امریکایي اشغاله د هېواد د بشپړې آزادۍ په مرحلو لنډ بحث کوي، د راتلونکي اهدافو په اړه وایي:

مور له هغو هېوادونو څخه چې بهرني شریر عناصر د دوی له لارې افغانستان ته را داخلېږي، په کلکه غواړو چې خپل زمیني او هوايي سرحدات په جدي توګه کنټرول کړي او پرې نږدي چې افغانستان ته د دوی له لارې شریر عناصر را داخل شي.

تاجکستان او پاکستان یې خاص مخاطبین وو، دا دواړه هېوادونه که په خپلو کړنو له سره کتنه ونکړي، لېرې نه ده چې د خپلو بادارانو په برخلیك به اخته شي.

د اسلامي نظام تر قیام وروسته هر ډول فتنه او فتنه کر له خاورو سره خاورې شوي، اختطاف او پکې مشمول عناصر له منځه تللي، د فاسد او فساد جرئت مردود شوی، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړي فرمان له مخې د مخدره توکو کرکېله صفر ته راښکته شوې، کاروونکي یې د یوه خاص سیستم له لارې په مختلفو مرحلو کې تداوي کېږي، د عفوې تر اعلان وروسته چا ته لا ستوغه

خبر نده شوې او نه یې څوك جرئت لري، د اعداد مدرسې وخت په وخت د اسلامي نظام څخه د قربانۍ په فکر روزلي ځوانان ټولنې ته وړاندې کوي، د راعي او رعیت تر منځ توپیر یوازې په تقوا کې دی، د مهاجرینو لپاره د ټول نظام څرخ په حرکت راغی داسې چې نا اتکل شوي حالت سره مخ کېدل او بیا دا درونډ بار ته اوږه ورکول یوازې الهی نصرت غواړي،

نظام دننه په ملکي او نظامي ادارو کډو کمیسیون کار کوي، هر هغه څوك چې د اسلامي شریعت خلاف په کړنو تورن پېژندل شوی وي سمدلاسه له صفوفو ویستل کېږي او د وروستیو اجرااتو لپاره عالي محاکمو ته له رسمي دوسیې سره سپارل کېږي.

د ډادمن امنیت تر اعلان وروسته ځوان سپه سالار خپلې عمري سترګې په پوره جلال پورته کوي ته به وایې چې د کوم نوي دریځ ښکارندویي کوي:

د ملت په نمایندګي د امت درد ته ملهم غواړي، غزه د فلسطین حق دی او د دې حق د بیا اعادې لپاره د ټولو اسلامي امیرانو مسئولیت جوړېږي چې دفاع ته یې متې را ونغاړي.

په یوه محدوده جغرافیه کې د سرسپارلیو مجاهدینو د بریا د مبارکۍ مراتب د حماس ګمنامه سپاهیانو ته وړاندې کوي.

په لوړ سر اعلان کوي چې اسرائیل د فلسطین د مبارکې خاورې غاصبین دي، د ټولو مؤمنانو شرعي وجیبه ده چې له فلسطینینانو سره د آزادۍ په دې معرکه کې برخه واخلي.

❁❁❁

# د داعشي تنظيم واک د عراقيانو له لاسه په وتلو دی !

**ليکنه: المرصاد اداره**

د داعشـي خوارجـو لـه داخلـي وضعيتـه باخبـره سـرچينې وايـي، چـې د داعشـيانو د ولايتونـو د عمومـي ادارې د مخکنـي مشـر تـر وژل کېـدو وروسـته دا بدنامـه ډلـه د رهبرۍ او ادارې په برخه کې له سختو ستونزو سره مخ ده.

د بغـدادي او هاشـمي د بندګانـو رسـوا کوونکـي چېنـل پـه نـوم منبـع وايـي، د روان ميـلادي کال د فبـرورۍ پـه ٢٤تمـه پـه سـوريه کـې د ابـو سـارة العراقـي (کفـوش) وژل کېـدل داعشـيانو تـه لويـه ضربـه وه، ځکـه چـې نومـوړی د مزعـوم خلافـت تـر اعلان وروسته په مهمو منصبونو پاتې شوی و او د ټول تنظيم اداره او واك يې په لاس کې و.

د معلوماتـو لـه مخـې، د ابـو بکـر بغـدادي، عبـد الله قـرداش او سيف بغـداد (عبد الرحمـن العراقـي) تـر وژل کېـدو او د ځينـو نـورو داعشـي مشـرانو تـر نيـول کېـدو وروسـته ابـو سـارة العراقـي يوازينـی عراقـی و چـې د داعشـيانو اداره يـې پـه لاس کـې وه او د تنظيـم د نـوي مشـر، چـې داعشـيان يـې "د مسـلمانانو خليفـه" بولـي، پـه ټاکلـو کـې يـې رايـې ډېر ارزښت درلود.

د نـوي "خليفـه" پـه ټاکلـو کـې د زيـات رول درلـودو لـه املـه، د داعـش څارونکـو ابـو سارة العراقي د امراوو او "خليفه ګانو" جوړوونکی باله.

د بغـدادي او هاشـمي د بندګانـو رسـوا کوونکـي چېنـل يـوه مهمـه پوښـتنه راپورتـه کـړې: "آيـا د ابـو سـارة العراقـي پـه وژل کېـدو سـره عراقـي داعشـيانو پـه تنظيـم کـې خپـل واك لـه لاسـه ورکـړی دی؟ د عـراق داعشـيانو ډېـر عقيـدوي، منهجـي او تنظيمـي مشـکلات درلـودل، داعـش يـې د خپلـو خواهشـاتو مطابـق پـه طبقـو وېشـلی و او د خپـل عقلـي، نفسـي او علمـي مـرض پـر بنسـټ يـې د ديـن يـوه داسـې نسـخه جـوړه کـړې وه چـې د ډېرې معصومـې وينـې او د مسـلمانانو مالونـه يـې ځان تـه حلال پـکـې بلـل او خپـل هر مخالف يې کافر باله".

هېـره دې نـه وي چـې د داعشـيانو د مجهـول الهويتـه خليفـه ابـو الحسـين الحسـيني القريشـي د مـرګ لـه اعلانـه نـږدې درې مياشـتې تيريـږي خـو تراوسـه پـورې د داعشـيانو رسـمي ادرسـونو پـه دې تـړاو هيـڅ نـه دي ويلـي او بشـپړه چوپتيـا يـې غـوره کـړې ده. د

سـرچينې د خبـر لـه مخـې، دا هـم د هغـې خلا ښـكارندويي كـوي چـې د ابـو سـارة العراقي وژل كېدو تر شا پرېښودله.

تـر ټولـو مهمـه خبـره دا ده، چـې د ابـو سـارة العراقـي پـه وژل كېـدو سـره د عراقيانـو لـه لاسـه د داعشـيانو رهبـري وتلـې ده. د نـوي خليفـه د نـه اعلان يـو لامـل ممكـن دا هـم وي عراقيـان هڅـه كـوي چـې د واك انحصـار بيـا هـم پـه خپـل لاس كـې واخلـي خـو سـتونزه دا ده چې اوس په شام كې كوم داسې عراقي پاتې نه دی.

د بغـدادي او هاشـمي د بندګانـو رسـوا كوونكـی چېنـل د خپـل تحليـل پـه پـای كـې ليكلـي، "پـه عـراق كـې د عراقـي قيـادت لـه كاره لوېدلـی حالـت نشـي كـولای چـې بيرتـه د واك واګـي ترلاسـه كـړي او عامـه رهبـري او خلافـت عـراق تـه بيرتـه راوګرځـوي، نـو پـه همـدې اسـاس داعـش لـه يـوې لويـې ننګونـې او نـوي واقعيـت سـره مخ دی چې د لومړي ځل لپاره به عراقيان د قيادت له ميدانه پكې خارج وي".

**شيخ عطية الله الليبيّ (رحمه الله) وايي:**

"داعش د اسلام په نوم راغی، خو د اسلام روح يې له منځه يووړ. دوی د جهاد تر ټولو ستر دښمن و، ځکه چې د امت دښمنان يې پرې خوشحاله کړل او مجاهدين يې د مسلمانانو په سترګو کې بدنام کړل.

خو الحمدلله، مخلصو مجاهدينو د دوی پر ضد قيام وکړ، خپل ويني يې قربان کړې، او دا تکفيري فتنه يې شنډه کړه. که نن د جهاد صفونه پاک دي، دا د هغو مجاهدينو د قربانيو برکت دی، چې د حق پر لاره يې ځانونه نذرانه کړل."

# د سیمې امنیتي وضعیت او د پاکستان دوه مخې سیاست

لیکنه: عاطف مشعل

په پاکستان کې د وروستیو بریدونو د اصلي سرچینو او عواملو په هکله د لوړ رتبه پاکستاني مقاماتو څرګندونې د تعجب او حیرانتیا وړ خبرې دي، په خاصه توګه له افغانستان سره د دغو بریدونو د تړاو او ارتباط ورکولو په هکله د پاکستان د دفاع وزیر خواجه محمد اصف اظهارات، کاملا یو بې ځایه اتهام او بې بنیاده ادعا ده.

د معتبرو خبري اژانسونو لکه رویټرز خبري أژانس او المرصاد خبري اژانس په حواله تایید شوي راپورونه ښايي، چې د داعش د خراسان ډلې مشر شهاب المهاجر اوسمهال د پاکستان په بلوچستان سیمه کې مېشت شوی دی او هلته فعالیت کوي، د دغو خبری اژانسونو د راپورونو په استناد، شهاب المهاجر په افغانستان کې د ټپي کېدو او سختو ټپونو له متحمل کیدو وروسته د پاکستان بلوچستان سیمې ته تښتېدلی او له هماغه ځایه خپل تروریستي فعالیتونه پر مخ بیايي.

همدارنګه د بلوڅ ملي غورځنګ مشر ډاکټر نسیم بلوچ په جنیوا کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال ویلي، چې، په بلوچستان کې د نړیوال ترهګریز سازمان داعش د کیمپونو شتون د اندېښنې وړ دی.

ډاکټر نسیم بلوچ په یاده غونډه کې په واضح ډول ویلي دي، چې په بلوچستان کې د داعش کېمپونه د پاکستان د پوځ له خوا حمایه کېږي او د پاکستان د پوځ تر مستقیمې څارنې او ملاتړ لاندې فعالیت کوي.

د بین المللی رسنیو او د سیمې د سیاستوالو دا معلومات او موثق خبرونه، هغه پوچې او بې بنیاده ادعاوې باطلوي، چې د پاکستاني چارواکو له خوا افغانستان ته د تروریستي فعالیتونو د منسوبولو په اړه کله نا کله وړاندې کېږي.

د دارنګه بې بنیاده تهمتونو او کاذبو اتهاماتو په لګولو سره پاکستاني مقامات هڅه کوي، د خپل هېواد د ترینګلي داخلي امنیت له ضعف او نیمګړتیاوو څخه د ولس د پام اړولو کوښښ وکړي او یا د خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره د ګاونډیو هېوادونو او نړېوالې ټولنې په اذهانو کې د افغانستان د موجوده حکومت په

هکله بدګماني او د منفي ذهنيت د ايجادولو هڅه وکړي.
برسېره پر دې، داسې نښې نښانې شته چې د پاکستان په پوځ او سياسي مقاماتو کې ځينې ډلې، چې په احتمالي توګه د لويديځ د ګټو تر اغيز لاندې دي، د چينايي شرکتونو پر ضد په وسله والو بريدونو کې ښکېل دي.
دا کړنې ممکن د يوې پراخې اجنډا برخه وي چې پاکستان د نړۍ د لويو ځواکونو ترمنځ د رقابتونو او سياليو په مرکز مبدل کړي.
د پاکستاني پوځ او سياستوالو دغه غرب - پلوه ډله د غرب په مخفي اشارو هڅه کوي، تر څو په ځانګړې توګه د چين پاکستان اقتصادي دهليز (CPEC) په څېر د لويو سيمه ايزو اقتصادي پروژو د تطبيق لپاره مشکلات ايجاد کړي.
په داسې حال کې چې پاکستان د امنيتي ستونزو تر څنګ، له شديدو اقتصادي ستونزو سره هم مخامخ دی، داسې انګېرنې وجود لري چې ګواکې د داعش د پروژې د تمويل يو علت هم د پاکستان د شديدو اقتصادي ستونزو مجبوريت وي، ترڅو په سيمه کې د داعش د پروژې په تطبيق کولو سره پاکستاني جنرالان وکولای شي، د نړېوال وجهي صندوق (آئي ايم ايف) او نورو غربي مالي او اقتصادي مرستو څخه مستفيد شي.
دا په داسې حال کې ده، چې د داعش د پروژې تطبيقول او داعش ته په سيمه کې يو مصون کاري دهليز مهيا کول يوازې د افغانستان او (سی پيك) پر ضد عمل او اقدام نه دی، بلکې د منځني آسيا، روسيې او ايران لپاره هم يو لوی ګواښ دی.
د پاکستاني جنرالانو او سياسيونو دغه اقدام تنها افغانستان سره په ټکر کې نه ده، بلکې د افغانستان په ګاونډ کې د ټولې سيمې لکه روسيه، چين او ايران لپاره يو جدي تهديد او بالقوه ګواښ دی، ځکه غرب دا ځل د داعش ډله تنها د يو ملك پر ضد نه، بلکې د سيمې د ټو هېوادونو لپاره تمويلوي او تقويه کوي.
د پاکستاني جنرالانو او سياسيونو د دغې ډلې فعاليتونو او د غرب له اجنډا سره سم د غربي پروژو تطبيق، نه د پاکستاني ولس منافع په نظر کې ونيولې او نه د منطقې د هېوادونو منافع په نظر کې ونيول شوې، د دوی نا انډوله چلند له خپل ولس سره د دې سبب شو چې يو غبرګون او ويښتابه په پاکستاني ولس کې را پيدا شي. دا ډېر ژور او جدي تهديد دی، چې په نتيجه کې به يې پاکستان نه تنها د خپل ولس له جدي عکس العمل سره مخامخ شي، بلکې د سيمې د هېوادونو له

دښمنۍ او مخالفت سره به هم مخامخ شي. همدارنګه دغه ډله کوشش کوي تر څو د تحريک طالبان پاکستان (ټي ټي پي) له نوم نه په استفادې، د شمالي پاکستان (ګلګت بلتستان او چترال) او شمال ختيځ افغانستان (کونړ، نورستان، بدخشان، تخار او لغمان) په ګډون د CPEC د پروژې او د واخان د پروژې د پلي کېدو د بستر سيمې بې ثباته کړي، ترڅو د مرکزي آسيا هېوادونه او چين ناامنه کړي او د دغو لويو سيمه ايزو اقتصادي پروژو د تطبيق مخه ونيسي.

تاجکستان خپلو اقتصادي منافعو ته په کتو د CPEC د پروژې حمايت او استقبال کوي، خو د پاکستاني جنرالانو او سياسيونو د دغې غرب پلوه حلقې لخوا د منځنۍ آسيا او ازبکو وسله والو ډلو ته د جنوبي ازبکستان او شرقي ترکستان د جوړېدو خيالي وعدې ورکول شوې، ترڅو د دغو ډلو د فعاليت په نتيجه کې د چين او منځنۍ آسيا هېوادونو ته امنيتي ګواښونه را پيدا کړي او په منطقه کې د غرب پلان شوې طرحې عملي کړي.

د منځني اسيا تروريستي ډلې، چې د ځمکنۍ خپلواکۍ په خيالي ژمنو کې ښکېل شوې، د چين کتو او د CPEC پروژې پلي کولو لپاره بالقوه ګواښ ګڼل کېږي.

د "جنوبي ازبکستان" او "ختيځ ترکستان" تاسيس کولای شي، د دې ډلو د فعاليت لپاره د پټنځايونو په توګه کار ورکړي او د سيميېز امنيت تحرکات نور هم پېچلي کړي.

د تروريستي فعاليتونو په اړه د پاکستان لخوا د تورونو او اتهام لګولو د لوبې دوام، نه يوازې په سيمه کې د اصلي امنيتي ننګونو په حل کولو کې مرسته نه کوي، بلکې د ګاونډيو هېوادونو ترمنځ د باور او همکارۍ فضا هم له خطر سره مخامخ کوي.

د سيميېز ثبات او امنيت لپاره د عملي کوښښونو پرځای، د تورونو لګولو په لوبه کې ښکېلتيا، د تاوتريخوالي د لازياتولو سبب کېږي او د ګډو خبرو اترو او همکارۍ مخه نيسي.

سربېره پر دې، د بې بنياده تورونو په لوبه کې ښکېلتيا، د ګاونډيو هيوادونو ترمنځ باور او همکارۍ ته زيان رسوي، دا د باور نشتوالی نه يوازې د ترهګرۍ سره د مبارزې هڅې خنډوي، بلکې د پراخو سيميېزو نوښتونو او پرمختيايي پروژو لګه

د چيـن پاکســتان اقتصــادي دهليـز (CPEC) ، تاپـي، کاسـا يـك هـزار او داسـې نـورو سيمييزو پروژو په برخه کې د پرمختك مخه هم نيسي.

پاکـستان بايد د سيمې پـه ورانـدې د امنيتـي ننګونـو پـه مؤثـره توګـه د حـل کولـو لپـاره پـر نـورو هېوادونـو د ملامتيـا اچولـو څخـه ډډه وکـړي او يـو ډېـر فعـال او همـکار چلنـد غـوره کـړي، چـې (د داخلـي امنيتـي نيمګړتيـاوو اعتـراف او د خپلـو امنيتـي ستونزو حـل کـول، د ګاونډيـو هېوادونـو ترمېنـځ د بـاور او همـکارۍ فضـا ايجـادول او د سيمييز ثبات لپاره د ريښتينو او عملي ژمنو څرګندول ) پکې شامل دي.
نـوی نړېـوال نظـم اکثـرو هېوادونـو تـه د انتخـاب لپـاره مختلـف اختيارونـه ايښـي دي، د نـړۍ اکثـر هېوادونـه چـې د خپلـې بقـا فکـر کـوي، د منطقـې لـه ثبـات سـره د کاملې هماهنګۍ او همکارۍ په مسير کې خپله لاره پر مخ بيايي.
داسـې ښـکاري چـې د نـوي نړېـوال نظـم تاثيـرات بـه زمونـږ پـه منطقـه کـې ځکـه زيات وي، چې دوه درې ستر هېوادونه دلته د نوي جهاني نظم اصلي لوبغاړي دي.
پاکـستان تـه پـه کار ده، چـې داسـې سياسـت او پاليسـي غـوره کـړي، چـې کـه لـه منطقـې سـره پـه يـوه لاره نـه ځـي، حـد اقـل بايـد لـه منطقـې سـره پـه ټکـر او تضـاد کې لاړ نه شي.

د پاکـستان پـه پـوځ کـې چې بعضـي جنرالانـو او ځينـې سياسـتمدارانو کومـه د غـرب پـه ګټـه او لمسـون پاليسـي د کار لانـدې نيولـې، دا پـه ښـکاره توګـه لـه منطقـې سره په تضاد او ټکر کې پر مخ تلل دي.

# مغلـوبه فتنـه

**ليکنه: عزيزالدين مصنف**

د سيمې په سياسي وضعه د اسلامي نظام تأثرات د سوداګرۍ له نرخه در قياس کړئ، د بهرنيو اسعارو په مقابل کې د افغانيو ثبات د دې خپلواك اسلامي شرعي نظام د استقلاليت يو روڼ دليل دی، د عربي نړۍ د انحطاط له مرحلې را نيولې تر دې وخته د ختيځ او لويديځ کفار هڅه کوي ترڅو مسلمانان په خپلمنځي شخړو کې راښکېل کړي او يا هم داسې سر خوږی ورته رامنځته کړي چې يوائې وينه توېدل يې پرهر وي.

دوی د خپل دې شوم هدف لپاره له نن څخه يوه نيمه لسيزه وړاندې د داعشي خوارجو په تشکيلاتي ميکانيزم کډ کار وکړ، ختيځ او لويديځ په ظاهري توګه سره بيل دي مګر که تاسو د فلسطين اوسنی قضيې ته په ژورو سترګو وګورئ حتماً به پکې ومومئ چې فلسطين ته په لومړي ځل ٤٠٠٠٠ يهودان د روسيې لخوا د يرغل په نيت داخل شوي، يوائې دا نه بلکې د فلسطين له اشغاله تر دا مهاله يې د مسلمانانو ترمېنځ د شر جوړونې پلانونه په ګډو کميټو کې طرحه کړي.

که بحث حاشيو ته يوسو، وبه وينو چې په عربي نړۍ کې له داعشي خوارجو مخکې جهادي فعاليتونه د يوې واحدې رهبرۍ لاندې ترسره کېدل، د القاعدې مجاهدينو د يو واحد قيادت لاندې ټوله عربي نړۍ د کفارو لپاره سره تبی کړځولې وه، له دې سره هم مهاله د روسيې په لويديځه څنډه قفقاز کې د مجاهدينو تحرکات د پرمختك په حال کې وو، خو کله چې د امريکا د ځانګړې حربي بوديجې په مرسته داعشي خوارجو د دې جهادي تحرکاتو کړۍ وشولوله، مسلمه امت له يوه کونك حالت سره مخ شو، ظاهراً د اسلام په ننګ نعرې وهونکي (خوراج) دومره بې رحمه وو چې د خپل پليت جنګ په ټولو مرحلو کې يې د کفارو په خلاف عادي يو مزاحمت هم ونکړ، بلکې هميش به يې د بې ګناه او بې دفاع مؤمنانو په وينو لاسونه لړلي وو.

کله چې د انګلستان او امريکې په ګډو هڅو د جنوبي آسيا تر پولو داعشي خوارج په منظمو فوځي سکوټ کې راوستل شول، هماغه وخت د اسلامي امارت د

بصیـرت سـترګو د دې سـترې فتنـې را پورتـه کیدونکـي اضـرار حـس کـړل، همـاغـه وچـې د وخـت امیرالمؤمنیـن شـهید منصـور صیـب تقبلـه اللّه د اسلامـي امـت پـه تنـدي د دې تـور داغ محـوه کولـو تـه متـې را ونغاړلـې، پـه لومړیـو کـې د اسلامـي امـارت پـراخ او مدبرانـه لیدلـوری د مصلحـت پـه اسـاس ولاړو، ګومـان داسـې و چـې ګونـدې دا خبیـث فتنـه اچوونکـي بـه پـه نیمـه وپوهېږي خپلـه لمـن بـه ورټولـه کـړي، مګـر کلـه چـې د دوی نظامـي تحـرکات بربنـډ شـول سمدلاسـه د ټـول هېـواد لـه مجاهدینـو نظامـي قطعـات ترتیـب او د یـوه پیاوړي امیـر پـه قیـادت کـې یـې د خوارجـو خلاف د جهـاد اعلان وکـړ.

پـه دې مبارکـه معرکـه کـې د اسلامـي امـارت د رهبـري مشـران بـه پـه لومړنیـو لیکـو کـې جنګېدل، د دې پلیتـې فتنـې پـه محـوه کولـو کـې د امـارت نابغـه مجاهدیـن هـم شـهیدان شـول، مګـر د همـدې شـهادتونو او د مجاهدینـو د پـوره اخلاص ثمـره وه چـې د خوارجو تخم یې د دې مبارکې ځمکې له سره ورك کړ.

پـه افغانسـتان کـې د داعشـي خوارجـو د ماتـې پـه اړه د اسلامـي امـارت لوړپوړي چارواکـي او مرکـزي ویانـد، محتـرم مولـوي ذبیـح‌اللّه مجاهـد، پـه یـوه مرکـه کـې ویلي:

"داعـش پـه افغانسـتان کـې د ولـس پـه منـځ کـې ریښـه نـه لـري او زمـوږ امنیتـي ځواکونـه یـې د فعالیتونـو مخنیـوي تـه ژمـن دي. الحمـدللّه، زمـوږ پـه هڅـو سـره، داعـش پـه افغانسـتان کـې ماتـې خوړلې او د پام وړ کـواښ نـه‌دی پاتې. "

# آیا افغانستان د پاکستان د احسان پوروړی دی؟

لیکنه: محمد نعمان

پاکستان له افغانستان سره د خپلو ټولو کړو جنایتونو باوجود لا هم داسې چلند او فکر کوي لکه افغانستان یې چې ډېر زیات احسانمند او پوروړی وي، خصوصاً پر افغانستان د پخواني شوروي یرغل وروسته د افغان کډوالو پالنه دوی خپل لوی احسان بولي، مګر حقیقت بل ډول دی.

په حقیقت کې باید پاکستان د افغانستان او افغانانو احسانمند وي او دا احسان ومني، ځکه که افغانان د شورویانو پر وړاندې نه وای درېدلي، نو اوس به پاکستان د نړۍ له نقشې او جغرافیې ورکه وای، ځکه پاکستان په هیڅ ډول هم د شوروي پر وړاندې د ودرېدو تاب نه درلود.

بله موضوع دا ده، چې پاکستان د افغان کډوالو په سر په کراتو له نړۍ څخه امتیاز اخیستی، دوی چې د افغان کډوالو په نومونو کومې بسپنې او مرستې ترلاسه کړي، د هغو لس سلنه یې هم افغانانو او کډوالو ته نه دي ورکړي، بلکې خپله یې لګولې دي.

د دې ترڅنګ، د شورویانو پر ضد د افغان جهاد پرمهال هم چې د مجاهدینو سره کومې مرستې کېدې، نو د پاکستان له لارې به کېدلې، چې پاکستان به خپلې زړې او له کاره لوېدلې وسلې افغان مجاهدینو ته ورکولې او د افغان مجاهدینو په نوم راغلې وسلې یې یا خپلو عسکرو ته ورکولې او یا یې هم زېرمه کولې.

لنډه دا چې پاکستان په خپل ټول اویا کلن تاریخ کې داسې کومه کارنامه او احسان نه دی کړی چې د افغانانو په خیر دې وي. پاکستان باید دا ومني چې دوی له لومړي سره تراوسه پورې د افغانستان پر ضد دسیسې جوړې کړې. هره لحظه یې د افغانستان د نابودۍ توطیې کړې. دوی هیڅ وخت د افغانستان خیر نه دی غوښتی او نه یې هم غواړي.

افغانستان له نړۍ او پاکستان څخه کوم شهکار نه غواړي. افغانستان دا ورته وایي چې پاکستان په سیمه کې بې امني پالي او دا نه یوازې د افغانستان،

بلکې د سیمې او د نړۍ د امنیت او ثبات پر وړاندې لوی تهدیدونه او خطرونه دي. افغانستان وایي چې یا دې پاکستان په خپله خوښه له دغه ناوړه کاره لاس واخلي او یا دې هم نړۍ ورباندې فشار راوړي چې پاکستان خپل چلند بدل کړي.

د افغانستان د ورورولۍ
په بدل کې د پاکستان خیانت

شهید قومندان مولوي نصرالله منصور (رحمه الله) وایي:

"پاکستان د افغانستان په سختو ورځو کې د دې ملت له
قربانیو ګټه واخیسته، خو کله چې زموږ د عزت،
خپلواکۍ، او اسلامي نظام خبره راځي، دوی د دښمنانو له
صفونو سر راپورته کوي.
موږ د اسلامي ورورولۍ او اتحاد لپاره قرباني ورکړې، خو
دوی خپل استخباراتي سیاست ته وفادار پاتې دي، نه اسلام
ته او نه ورورولۍ ته.
تاریخ به دا هر څه ثبتوي، او افغان ملت به هېڅکله د
دوکې ښکار نه شي. "

تاریخ شاهد دی، او ملت بیدار دی!

# پر تاجکستاني وجود اېښودل شوی داعشي تور پردی نبه ولي ! !

لیکنه: یوسف جمال

ورمه ورځ د ۲۰۲۴م کال د مارچ میاشتې په ۲۵مه نېټه، د روسیې په پلازمینه کې د موسیقي پر یوه کنسرټ د لیږد برید نړۍ ته ټکان ورکړ. شپږ تنو بریدګرو تر سلو زیات کسان ووژل او سلګونه نور يې ټپيان کړل.

بریدګر د پېښې له ځایه تر تېښتې وروسته د اوکراین او روسیې پولې ته نږدې د روسیې د امنیتي عسکرو له لوري ونیول شول. بریدکوونکي ټول د تاجکستان اتباع و، چې له اوکراین څخه مسکو ته داخل شوي وو.

په مسکو غونډې حساس موقعیت کې د تاجکي داعشیانو برید سیمې ته د امنیتي پایلو له پلوه د ډېر غور او فکر وړ دی. تاجکستان په تېرو دوه نیمو کلونو کې (په ځانګړي ډول له افغانستان څخه د ناټو تر وتلو وروسته) د داعشي فکر د تولید په تر ټولو سترې سرچینې باندې بدل شوی دی او اتباعو يې د نړۍ په کوټ - کوټ کې لسګونه بریدونه ترسره کړي دي.

په افغانستان کې ۱۲ لوی انتحاري بریدونه چې هر یو يې درانه تلفات له ځان سره درلودل، د تاجکي داعشیانو په توسط ترسره شوي او زموږ د معلوماتو له مخې لسګونه تاجکي داعشیان له امنیتي ځواکونو سره په جګړه کې وژل شوي او یا هم نیول شوي دي.

د داعشیانو په لیکو کې د تاجکي اتباعو دومره په لوړه کچه جذب طبیعي نه ښکاري، بلکې داسې څرګندېږي، چې دې کار ته زمینه سازي کېږي، او د یوه هماهنګ پلان له مخې سیمې ته په تاجکستاني پاکټونو کې د داعش ترورېزم صادرېږي.

د تاجکستان استخبارات، چې اوس د پیسو په بدل کې د یوه غربي هیواد د استخباراتي واحد په حیث کار کوي، ددې لوبې یو اړخ او یو بل کاونډی ددې درې کوني مثلث بل اړخ دی.

موږ ددې شیطاني مثلث کړنو ته ځکه ترورېزم وایو چې واقعا هم د انسانیت د ویرولو لپاره کېږي، د داعش د نیابتي ډلې لخوا دا کړنې نه د انسان لپاره دي او نه

د مسـلمان لپـاره؛ بلکـې دا ډېره واضـح ده چـې داعشـيانو د مسـلمانانو د عظمـت د بيرته د احيا د هيلو د هر څرك پر ضد كار وكړ.

د تاجکـي تروريـزم ددې صادراتـو لـه املـه روسـيه ځکـه هـم ډېـره اندېښـمنه ده، چـې همـدا اوس سـلګونه زره تاجـکان پـه روسـيه کـې کار کـوي، چـې اوس بـه يـې روسيه هر يوه ته د شك په سترګه ګوري.

همدارنګـه تاجکسـتان د شـوري اتحـاد برخـه پاتـې شـوی، لـه روسـيې سـره کلتـوري او ژبنـي مشـترکات لـري او اتبـاع يـې کـولای شـې پرتـه لـه ويـزې او امنيتـي چـك څخـه پـه ازادانه ډول روسيې ته سفر وکړي.

خو دا لوبه دلته نه خلاصېږي او تر هغه څه ډېره لويه ده، چې درك كېږي.

پـه افغانسـتان کـې د تاجکـي داعشـيانو پـه تروريسـتي فعاليتونـو تـه کـه يـو نظـر وکـړل شـي، دا واضـح کېـږي، چـې ددوی اهـداف ټـول سـتراتيژيك او پـه داسـې موقعيتونو باندې دي، چې زيان يې شرقي بلاك ته رسېږي.

د روسـيې پـه سـفارت بريـد، پـه کابـل کـې پـر چينايـي اتباعـو بريـد، پـر ازبکسـتان بانـدې توغنديـز بريـد او ورتـه نـور بريدونـه داشـيي، چـې پـر تاجکسـتاني وجـود ابښـودل شوی داعشي ټوپك پردی‌نښه ولي.

تاجکـي اسـتخبارات نـه يـوازې سـيمې تـه د داعشـي تروريـزم پـه صادراتـو کـې ونـډه لـري، بلکـې د افغانسـتان د امنيتـي او سياسـي حيثيـت د کمرنګـه کولـو لپاره لـه افغانستان څخه په مختلفو نومونو د خلکو د ويستلو پروژه يې هم په غاړه ده.

زمـوږ د معلوماتـو لـه مخـې امنيتـي ادارو يـو شـمېر هغـه افغانـان نيولـي دي، چـې د تاجکسـتان د استخباراتو پـه توسط لـه افغانستانه ددې لپاره ايستل كېدل تـر څـو پـه سيمه کې په کوم بل هدف کې استعمال کړل شي.

لـه افغانسـتان څخـه ګاونډ تـه د داعش-خراسـان څانګـې انتقـال او لـه تاجکسـتان څخـه ددې څانګـې اکمـال د سـيمې لپـاره د خطـر يـو بـل زنـګ دی، چـې بايـد عـادي ونـه بلل شي او حساب پرې وشي.

بايـد پرېنښـودل شـي چـې پـه سـرطان ککـړ هيوادونـه د سـيمې پـر امنيتـي وجـود بانـدې د سـرطان نـوې دانـې را شـنې کـړي او ټولـه سـيمه لـه امنيتـي او اقتصـادي پلـوه فلج کړي.

دغـه شـيطاني مثلـث بايـد تشـخيص شـي او د سـيمې د امنيـت او ثبـات د بيـړۍ د غرقولـو اجازه ورنکړل شي.

## د غرب او نورو دښمنو کړیو ا.ا.ا ضد ABC پلانونه !

لیکنه : احمد منصور

د ا.ا.ا لـه قیام روسته ځینـي جهتونـه مخصوصاً غـرب پـه دې هڅـو کـې دی، چـې فعلـي نظام ړنګ کړي او پرضد یې له هیڅ ډول عمل دریغ نه دی کړی.

د دې اړونـد یـې ناسـمې پېشـنګویانې وکـړې، فشـارونه یـې وارد او بندیزونـه یـې زیـات کـړل. د افغانسـتان حـق یـې غصـب کـړ، کلـه چـې دغـه A پلان نـاکام شـو، نـو پـه B پلان یې پیل وکړ.

د ا.ا.ا تـه د سـتونزو پـه پیـدا کولـو بوخـت شـول، څـه مـوده دمخـه لـه پاکسـتان او ایـران د مهاجـرو د را شـړلو پرېکـړه د یـادو هېـواد نـه وه، بلکـې د غـرب او امریـکا امـر تـه یـې عملـي جامـه ور واغوسـته، دښـمنان پـه دې آنـد ول چـې ا.ا.ا تـازه واك تـه رسـېدلی، شـاید د مهاجرینـو د سمبالښـت تـوان ونـه لـري، چـې لـه املـه بـه یـې حکومتـي چرخـش، د بیـا رغونـو، د قوشـتېپې کانـال، کابـل – کنـدهـار سـړك، سـالنګونو او نـوو کابـل پـه څېـر پـروژو کار بـه پـه ټپـه ودریـږي، خـو د طمعـې خلاف هېـڅ هـم ونـه شـول، د قوشـتېپې لومړی فـاز تکمیـل پـه دوهـم یـې پـه چټکـی کـار روان دی. د سـالنګونو او کابـل - کنـدهـار لویـو لارو یـو شـمېر برخـې ورغـول شـوې او پاتـې د ژمـي لـه املـه معطلـې وې، چـې لـه ژمـي خلاصېـدو سـره سـم بـه کـار پـرې پیـل شـي، کلـه چـې لـه دې زاویـې هـم نااميده شول، نو د یاد پلان په دوهمې برخې تم شول.

رټـل شـویو او فراریانـو تـه یـې فرانسـې، تاجکسـتان او روسـیه کـې د غونـډو تابیـاوې ونیولـې، پـه دې امیـد چـې ا.ا.ا پـرې ودار کـړي، خـو داچـې ا.ا.ا هغـه هـر څـه پـه خپـل سیاسـي ځیرکتیـا نظـر انـداز کـړل، دښـمن هـك حیـران شـو، ټـکان ورکوونکـی خـو هغـه وخـت وه چـې ا.ا.ا سـیمییزه اجمـا ع رامېنځتـه او د یوشـمېر هېوادونـو سـفیرانو اسـتازو تـه یـې بلنـه ورکـړه، پـه کابـل کـې تاریخـي غونـډه وشـوه، پـه غونـډه کـې ګـډو هېوادونـو د افغانسـتان فعلـي باامنـه وضیعـت څخـه رضایـت او د ا.ا.ا لـه مثبـت تعامـل خوښـي څرګـنده کـړه، امریـکا عمومـاً غـرب تـه دغـه هرڅـه لـه زغـم واوښـتل، غوښـتل یـې هغـه ناکامـه نسـخه چـې د ملګـرو ملتونـو لـه لـوري افغانسـتان لپـاره د خـاص اسـتازي ټـاکل و، پلـي کـړي، غونـډه یـې راوبللـه او ا.ا.ا تـه یـې د جهـت نـه بلکـې

د فرد پـه حيث بلنـه ورکـړه خـو ا.ا.ا پکـې لـه ګـډون انـکار وکـړ، دوه ورځـې غونـډې دوام درلـود ، روسيـې چيـن او ايـران اسـتازي ټاکنـه کـې د ا.ا.ا رضايـت شـرط وبالـه، ملګـرو ملتـو او امريـکا اصلاً دا فکـر نـه وو کـړی چـې ا.ا.ا بـه پـه داسـې انداز لـه ګـډون انـکار کـوي چـې غونـډه يـې کاملـه پـه نفعـه تمامـه شـي، ملګـرو ملتونـو د يـادې موضـوع اړونـد دوهمـه غونـډه هـم وکـړه خـو پايلـې يـې د لومـړۍ پـه څېـر منفـي وې.

د پورتنيـو پلانـو پـر وړانـدې د ا.ا.ا ثابـت قدمي ياد جهتونـه سخت پـه قهر کړل،

تازه يې C پلان تر کار لاندې نيولی چې په مټ به يې:

- ✓ افغانسـتان لـه ګاونډيـو سـره پـه شـخړو اړوي، هـدف يـې لـه دې څخـه د سـيمې او نـړۍ نور هېوادونه له ا.ا.ا ډارول دي.
- ✓ اولس کـې د ا.ا.ا محبوبيت کمول دي.
- ✓ شـل کلـن فسـاديان، غلـه او د غـرب کرايـي پـروژه داعـش منسـجم کـول دي. د ټـي ټـي پـي پخوانـي ويانـد احسـان الله احسـان يـې هـم پخلـی کـړی او پـه وينـا يـې چـې د غـرب لـه لوري دې پلان تطبيـق تـه پاکسـتان او تاجکسـتان انتخـاب شـوي، پيـل يـې د دوشـنبې ورځ پـه افغـان خـاوره د پاکسـتان يرغـل وو، کـه څـه هـم د ا.ا.ا ځوابـي کاروايـي بسـنه وکـړه خـو غـرب د يـادو هېـوادو لـه فعلـي مجبوريتونـو د اسـتفادې پـه حال کـې ده، ضـرور د ا.ا.ا تـه د سـرخوږي پـه لټـه کـې دي چـې دا پلان بـه يـې د خدای پـه فضل سره کامياب نشي. ان شاءالله

## د اسلامي امارت په ضد د غرب شومې دسيسې

غرب تل د اسلامي امارت د ناکامولو لپاره بېلابېلې دسيسې جوړوي؛ لکه اقتصادي بنديزونه، د داخلي اختلافاتو هڅول او د جعلي پروپاګندونو خپرول. د دوی هدف دا دی چې د اسلامي حاکميت پر وړاندې بې‌باوري رامنځته کړي. خو اسلامي امارت د الله تعالی په مرسته، د خپل ملت د عزت، استقلال او اسلامي ارزښتونو ساتلو ته ژمن دی، او په دې لاره کې د هر ډول هڅو او دسيسو پر وړاندې قوي مقاومت کوي.

# القاعده، فارن پالیسي او افغانستان

لیکنه: احسان الله احسان

د ۲۰۲٤ کال د مارچ په ۲۲مه، فارن پالیسي د (القاعده بېرته راګرځېدلې او په افغانستان کې وده کوي) تر سرلیك لاندې یو راپور خپور کړ، چې په افغانستان کې یې د القاعده د شتون او ملاتړ په اړه څو بې اساسه ادعاوې کړې دي.

د پالیسي د راپور پر محتوا تر بحث مخکې د یاد راپور د لیکوال لین او ډونل (Lynne O, Donnell) د متنازع شخصیت او رول په اړه بحث کوو.

Lynne O Donnell لین او ډونل څوك دی؟

لین او ډونل یوه استرالیایي ښځینه خبریاله ده چې په ښکاره یې په افغانستان کې له شاوخوا دوو لسیزو راهیسې خپل ژورنالیستیکي فعالیتونو ته دوام ورکړی، خو د هغې کار ته په کتلو سره، د مجاهدینو او اسلام سره یې کرکه څرګنده ده، د هغې زیاتره راپورونه پر فرضي شیانو او خیالي کیسو بنا وي.

یاده ښځینه خبریاله د ژورنالیستانو له خوا هم جدي نه اخیستل کېږي او د افغانستان په اړه د هغې تېرو او منفي نظرونو ته په کتو د هغې هېڅ ادعا د اعتبار وړ نه ګڼل کېږي.

په ۲۰۲۲ کال کې اسلامي امارت د هغې د ناسم چلند او درواغجنو راپورونو له امله افغانستان ته له ننوتلو وروسته د لنډ وخت لپاره توقیف کړه، پوښتنې یې ور څخه وکړې او د ژورنالیستیکي ارزښتونو د مراعاتولو سپارښتنه یې ورته وکړه، کله چې هغه له افغانستانه ووتله نو په اسلامي امت یې درواغجن تورونه ولګول چې اسلامي امارت دا ګواښلې او ډارولې ده او له دې څخه یې غوښتي چې د خپلو راپورونو او اصولو خلاف ټویټ وکړي، خو د اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزارت ویاند د دې دا خبرې رد کړې او ویې ویل «د اوسني نظام پر وړاندې د وسله وال مقاومت د ښکاره ملاتړ او د ډېرو زیاتو خلاف ورزیو او درواغجنو راپورونو له امله د هغې څخه پوښتنې شوې دي، او ویې ویل: ډونل په لویه کچه په افغانستان کې د خپل حضور په اړه دروغ ویلي دي»

خو چارواکو هغې ته وړاندیز وکړ چې د خپلو ادعاوو په تړاو که هغه شواهد

وړاندې کولای شي، وړاندې دې کړي.
پـه فـارن پالیسـي کـې د دې ښـځینه خبریالـې دغـه تـازه راپـور د دې ښـځینه خبریالـې د کرکـې او نفـرت ښـکارندويي کـوي، داسـې بریښـي چـې دا پـه درواغـو ويلـو او لـه ټولـو ژورنالیسـتیکي اصولـو څخـه پـه سـرغړونې سـره د غـچ اخیسـتلو هڅـه کـوي، امـارت اسلامـي چـې د هغـې څخـه پـه افغانسـتان کـې د دې د شـتون پـه تـړاو د ناسـمو درواغو راپورونو په اړه وضاحت غوښتی و، د هغه د اثر څخه دا تر اوسه نه ده وتلې.
د فارن پالیسی راپور سرچینې کومې دي؟
د هـرې ادعـا د رښتیا ثابتولـو لپاره قوي دلیلونـه اړیـن دي او دا د عدالـت غوښـتنه هـم ده چـې کـه تاسـو یـو څـوك تورنـوئ، بایـد نـو ستاسـو دلیـل قـوي او رښـتینی وي او هغـه سـرچینې چې تاسو یې حواله کوئ، باید معتبرې او مستندې وي.
دې راپـور تـه پـه کتلـو سـره دا پـه اسـانۍ مالومیږي چـې دا راپـور یـوازې د تعصب پـر بنسـټ یـوه افسـانوي کیسـه ده ځکـه چـې پـه دې راپـور کـې د سـرچینو نومونـه نـه دي اخیسـتل شـوي او نـه هـم د دوی د اعتبـار لپـاره کـوم شـواهد وړانـدې شـوي، فقـط دومـره ویل شوي چې هغوی د نوم نه اخستلو په شرط داسې وويل.
تاسـو د شـخص پـه ټولـو سـره پـر یـو دولـت بانـدې تورونـه لګـوئ خـو د نـوم اخسـتلو اخلاقي جرئت هم نه لرئ.
تاسـو خپـل راپـور د یـو داسـې راپـور پـر بنسـټ جـوړوئ، چـې ستاسـو پـه وینـا تـر اوسـه نـه دی خپـور شـوی، او یـوه کاپـي یـې تاسـو تـه درلېږل شـوې ده، نـو سـتا ماضـي او جنجالـي شخصیت ته په کتلو څنګه ستا پر ادعاوو باور کیدلای شي؟
دا فضـول چلنـد ښـيي چـې دا راپـور د یـو متعصـب شـخصیت د نـاوړه خیالونـو پرتـه بـل څـه نه دی.
د فارن پالیسی په راپور کې څه دي؟
دغـه راپـور چـې د لیـن او ډونـل لخـوا ترتیـب شـوی، ادعـا کـوي چـې القاعـده پـه افغانسـتان کـې بیـا راپورتـه کیـږي، طالبـان یـې مالـي او سیاسـي ملاتـړ کـوي. او القاعـده تـه اجـازه ورکـړل شـوې چـې د افغانسـتان طبیعـي زیرمـو تـه لاس رسـی ولـري او دوی خپلې اړتیاوې ور څخه پوره کوي.
خو په دې راپـور کـې شـوې ادعـاوې څـو ځلـې پخپلـه امریکایـي چارواکـو رد کـړې او ویلـي یـې دي چـې القاعـده نـور پـه افغانسـتان کـې د لـوی ګـواښ پـه توګـه شـتون نـه

لري.

څو ورځې وړاندې د امريکا د استخباراتو په کلنۍ راپور کې ويل شوي وو چې القاعده په افغانستان کې د عملياتو د ترسره کولو توان نه لري، دغه راز د امريکا ځانګړي استازي تام ويسټ هم په دې وروستيو کې ويلي وو چې القاعده په افغانستان کې ګواښ نه ده.

د دې سربېره د ۲۰۲۳ کال د سپتمبر په ۱۱ مه د امريکا د «تروريزم ضد ملي مرکز مشرې کريستين ابی زيد» په افغانستان کې د القاعدې د شتون په اړه وويل چې القاعده په تاريخي لحاظ په افغانستان کې کمزورې شوې ده. دا ممکنه نه ده چې دوی بيرته را پورته شي.

د امريکا د چارواکو له دې وروستيو اعترافونو سره سره، د القاعدې په وړاندې د فارن پاليسۍ او د هغه د جنجالي ژورناليست ادعاوې د هغه تحقيقاتي او ژورناليستيکي اعتبار تر پوښتنې لاندې راولي.

دا يو حقيقت دی چې القاعده د اسلامي امارت په قيام خپله خوښي څرګنده کړې وه، خو په عين حال کې يې پر خپله ژمنه بيا ټينګار کړی و چې له نړۍ سره د افغانستان د اسلامي امارت ژمنې ته به پوره پاملرنه کوي، تر څو اسلامي امارت له سياسي مشکلاتو څخه وژغورل شي.

بله مهمه خبره دا ده چې په افغانستان کې اسلامي امارت رامنځ ته شوی، نور په افغانستان کې د القاعدې د پاتې کيدو لپاره هيڅ توجيه نشته او معلومات هم دا دي چې د القاعدې فعاليتونه او پاملرنه اوس په بشپړه توګه د جزيرة العرب په لور متمرکزه ده.

د افغانستان حکومت په ډېر مشکل سره خپل اقتصاد اداره کوي، هغوی به ولې د خپلو سرو زرو کانونه او ميليونونه ډالر چا ته ورکوي؟ دوهم دا چې القاعده اوس مهال په جهادي تنظيمونو کې تر ټولو مالي ثبات لري او د بل چا مرستې ته اړتيا نه لري.

د عربي هېوادونو مجاهدين بېرته خپلو هېوادونو ته ستانه شوي او هلته خپلو جهادي فعاليتونو ته دوام ورکوي، او د القاعدې برصغير مجاهدين د پاکستان په ښارونو او غرونو کې په خپلو پټنځايونو کې شتون لري، خو په دې وروستيو کې يې د فعاليت کوم راپور نه دی تر لاسه شوی.

# پنځم فصل

# بېلابېلې ليکنې

# د مسکو يو داعشي بريدګر
# د جنسي څورونې په جرم شپږ کاله بند تېر کړی !

لیکنه : المرصاد اداره

د مارچ د ۲۲تمې په ماښام د روسيې په پلازمېنه مسکو ښار کې د کروکوس هال په نوم تالار کې د موسيقي کنسرت ته پر راټولو شويو خلکو څلورو تاجکستاني اتباعو بريد وکړ او سلګونو کسانو ته يې مرګ ژوبله واړوله. څو ساعته وروسته د داعشي خوارجو رسمي مطبوعاتي اژانس د بريد پړه پر غاړه واخيسته.

مطبوعاتي داعشيان په دې ډېره خوښي ښکاره کوي چې بريد د عياشۍ او فحاشۍ پر يوه مرکز شوی دی. خو د حيرانتيا خبره دا ده چې د بريدګرو له جملې پخپله يوه کس د فحاشۍ په جرم شپږ کاله زندان تېر کړی دی.

فريدون شمس الدين:

د کروکوس هال بريد څلورو تاجکستانيانو وکړ، چې يو هم پکې فريدون شمس الدين دی. فريدون د تاجکستان د حصار ښار د لويوبه کلي اوسېدونکی دی، ديني تعليم نه لري، واده يې کړی او اته مياشتنی ماشوم لري.

د فريدون د تره ښځې تاجکستاني رسنيو ته ويلي چې نوموړی شپږ مياشتې وړاندې روسيې ته تللی و. روسيې ته تر تګ مخکې يې د حصار ښار په يوه نانوايي کې کار کاوه.

د ازادي راډيو د تاجکستان څانګې د فريدون د کليوالو او خپلوانو له قوله ليکلي چې نوموړی په ۲۰۱٤ز کال کې د مکتب په اووم صنف کې و، خو په همدې کال د يوه شپږ کلن ماشوم د جنسي څورونې په جرم ونيول شو او د شپږ کاله بند حکم وربانديې وشو. د بند د مودې تر پوره کولو وروسته په ۲۰۲۰ز کال کې راخوشی شو او په ۲۰۲۲ز کال کې يې واده وکړ.

(https://www.ozodi.org/a/32884168.html)

د اسيا پلس په نوم يوې بلې تاجکستاني رسنۍ د نوموړي د يوه خپلوان له قوله ليکلي چې فريدون ډېر مذهبي نه و، نه يې روژه نيوله او نه يې هم لمونځ کاوه.

https://asiaplustj.info/news/tajikistan/laworder/20240327/chto-izvestno-)
(ob-arestovannih-po-delu-o-napadenii-na-krokus-siti-holl

حاصل او لنډیز:

داعشي خوارج خپل ټول جنګیالي د تقدس تر کچې رسوي او خلکو ته دا تاثر ورکوي چې د ځمکې پر مخ تر ټولو پاك او متقیان خلك همدوی دي، حال دا چې د زیاترو ماضي یې د فریدون په څېر له جرمونو او له دینه له لیریوالي ډکه وي. د داسې تاریکې سابقې درلودونکي کسان د دیني پوهې د نشتوالي له امله ډېر ژر د داعشیانو په دام کې راګرځي او د خوارجو له همېشني عادت سره سم، همدا کس چې دوه درې کاله وړاندې د خپل اوسني دریځ له مخې پخپله کافر و له ځان پرته په نړۍ کې بل مسلمان نه ویني.

## داعشي خوارج د ظلم او فحشا مروّجان

"داعشیان هغه خوارج دي چې د جهاد او خلافت په نوم یې د امت عزتونه لوټلي، مسلمان امت یې بدنام کړی، او دښمن ته یې د اسلام دښمنۍ ته پلمه ورکړې. دوی نه یوازې د بې‌ګناه خلکو وینې توی کړې، بلکې د ښځو او نجونو پر وړاندې یې د کفارو څخه بدتر جنسي ظلمونه ترسره کړي. دا هغه جنایتونه دي چې اسلام یې سخت منع کوي. رسول اللهﷺ فرمایلي: «من لم یرحم الناس لا یرحمه الله» (څوك چې پر خلکو رحم نه کوي، الله به پرې رحم و نه کړي). دا خوارج نه د اسلام استازي دي، نه د خلافت وارثان، بلکې د امت دښمنان دي ! "

## د مسکو برید خراساني خوارج د یو بل تکفیر ته اړ کړي ! ! !

لیکنه : المرصاد اداره

ابـو محمـد مدنـي يـو تاجکسـتانی وګـړی دی او ادعـا کـوي چـې پـه مدينـه منـوره کـې يـې زده کـړې کـړې دي. د نومـوړي اصليـت نـور معلـوم نـه دی، خـو دا چـې د تکفيـر او پـر مسـلمانانو د ارتـداد ټاپـو لګولـو کـې ډېـر جراتمنـد و، نـو د دري ژبـو خراسـاني خوارجـو لپـاره يـې د شـيخ حيثيـت غـوره کـړی و، د ده پـه نـوم يـې ټلګـرام چېنلونه جوړ کړي وو او شپه ورځ به یې د نوموړي بيانونه کښته پورته کول.
خـو مدنـي هغـه وخـت "لندنـي" شـو کلـه چـې يـې د مسـکو پـر يـوه هـال بانـدې د داعشـيانو وروسـتی بريـد فتنـه او د تاجيکانـو پـر ضـد منظمـه دسيسـه وبللـه او پـه رد کـې يـې څـه بانـدې دري څلوېښـت دقيقـې غږيـزه وينـا خپـره کـړه. مدنـي پـه خپلـه غږيـزه وينـا کـې د مسـکو بريـد پـه دې دليـل د اسلام د مبيـن ديـن د اصولـو خلاف بللـی چې غيرحربيان ښځې، ماشومان او سپين ږيري پکې وژل شوي دي.
ابـو محمـد مدنـي پـه خپلـه وينـا کـې ډېـر تمرکـز پـر دې کـړی چـې تاجيـکان بـې اتفاقـه دي او څـوک چـې يـې څنګـه وغـواړي هماغسـې يـې اسـتعمالولای شي. نومـوړی تکـرارا وايـي چـې تاجيکسـتاني وګـړي د قـوي حکومـت او يووالـي د نـه شـتون لـه امله هرڅوك استفاده کوي او د سترو قوتونو د لوبې وسائل ګرځېدلي دي.
د دې غږيـزې وينـا تـر خپرېـدو وروسـته زياتـرو داعشـي خوارجـو ابـو محمـد مدنـي تکفيـر کـړ او د روسيـې ملاتـړی يـې وبالـه، يـو شـمېر نـورو يـې بيـا پـه دې ځـان ډاډه کـاوه چـې ممکـن دا خبـرې نومـوړي د اکـراه پـه حالـت کـې کـړې وي او امـکان لـري چـې بېرتـه لـه خپلـو خبـرو رجـوع وکـړي (لکـه يـو شـمېر نـورو د داعشـي فکـر مبلغينـو چـې کړې ده).
د مدنـي د خبـرو دوې ورځـې لا نـه وې تيـرې شـوې چـې د خراسـاني خوارجـو رسـمي خپرندويـې ادارې العزائـم د "موتـوا بغيظکـم: رد بـر سـخنان جاهلانـه ابـو محمـد لندنـی" تـر عنوان لاندې پـه دري ژبـه ٤١ پاڼـې رسـاله او ورپسـې غږيـزه وينـا خپـره کـړه. پـه رسـاله کـې خوارجـو د غيرحربـي ښـځو، ماشـومانو او سـپين ږيـرو د وژلـو د جـواز ثابتولـو لپـاره تـر

وروستي حده کوښښ کړی او ابو محمد مدني يې پکې د روسيې د زرخريد غلام، جاهل، د ملحدينو د اقوالو د مفسر، جاسوس او نورو لقبونو په ټاپو نازولی دی. د رسالې ليکوال يو ځای پر دې ټينګار کړی چې د غيرحربي شخو وژل روا دي. خو وروسته بيا وايي داسې هيڅ ثبوت نشته چې د مسکو بريدګرو دې شخې وژلې وي.

دا لومړی ځل نه دی چې د خراساني خوارجو د ملاترو او جنګياليو ترمنځ د ځينو مسائلو پر سر د يو بل د تکفيرولو تر حده اختلافات راپورته کيږي. څه موده وړاندې العزائم د "زموږ عقيده او منهج" تر عنوان لاندې يوه رساله تر هغه وروسته خپره کړه چې يو شمېر پلويانو يې په ښکاره امام ابو حنيفه رحمه الله تعالی تکفير کړ. همداراز د تېر ۲۰۲۳ز کال په جون مياشت کې يو شمېر داعشيانو وويل چې د خراساني خوارجو د قضاء څانګې په امر د دوی ځينې ملګري د عقيدوي مسائلو پر سر د اختلاف له امله لومړی بنديان او وروسته وژل شوي دي.

## داعشيان د خپل تکفير ښکار

داعشي خوارج، چې د ناحقه تکفير فتنه يې پيل کړې وه، اوس يې خپله لمن سوځي، د دوی بېلابېلې ډلې يو بل مرتد ګڼي، خپل پخواني مشران کافران بولي، او د خپلو غړو وينې تويوي. دا د هغو خوارجو پای دی، چې د امت پر ضد يې توره پورته کړې وه.

رسول الله ﷺ فرمايي:

"مَنْ قَالَ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ، فَقَدْ بَاءَ بِهَا أَحَدُهُمَا." (صحيح البخاري: 6104)

ژباړه: "که څوك خپل مسلمان ورور ته کافر ووايي، دا خبره به خامخا پر يوه لګېږي. "

داعشيانو چې په نورو مسلمانانو يې د کفر فتواوې لګولې، نن خپله د همدې فتنې ښکار شوي دي. دا د ناحقه تکفير پايله ده، څوك چې د امت د ناحقه تکفير دروازه پرانېزي، بځرکي به يې پخپله لمن کې ورلوېږي.

## له فلسطين سره د داعش همدردي؟!

ليکنه: انجينر عمير

د داعشيانو د تاريخ له مطالعې څخه دا څرګندېږي چې دوی تر کومه حده د اسلامي خلافت د داعيې او له مسلمانانو سره د همدردۍ مخينه لري.

يقيناً د دوی په هکله معلومات او څېړنه به دا په ډاګه کړي چې دوی مسلمانانو ته کوم زيان او ضربه په دې کم وخت کې ورسوله، کفارو خصوصاً يهودو او غربيانو په ډېرو صديو او پېړيو کې نه وه رسولې.

داعش چې کله خپل مسير د القاعدې له مجاهدينو څخه جدا کړ، پر ځای د دې چې د اسلام د دښمنه ډله ټپلو پر خلاف خپله جګړه پيل کړي، لومړی يې د خپلو بريدونو هدف د القاعدې مجاهدين وګرځول، مجاهدينو ته يې دومره زيان او توان واړاوو، چې غربيانو په ځانګړې توګه امريکايانو په کلونو کلونو کې مجاهدينو ته نه وو اړولی، د القاعده هغه مشران چې امريکايانو ته ډېر مطلوب وو، دوی يې هويتونه په ډاګه کړل، ځيني يې پخپله په شهادت ورسول او ځيني يې د امريکايي استخبارتو په مټ شهيدان او زنداني کړل.

له هغې وروسته يې ټولې جهادي ډلې او احزاب چې د دوی له فکر سره يې رابطه او موافقه نه درلوده، په يو نوم او بل نوم بدنام کړل، د ارتداد او کفر ټاپې يې پرې ووهلې او د هغوی خلاف يې جګړه پيل کړه، چې دې سره يې اکثره جهادي تنظيمونو کې درز پيدا، ځيني کمزوري او د ځينو عملياتو کچه يې صفر ته راښکته کړه، هغه څه چې امريکايانو د زرګونه عسکرو په وژلو ترلاسه نکړل، مګر د داعشيانو په مټ يې په ډېرې اسانۍ ترلاسه کړه او لا هم د دې په هڅه کې دي.

د دې جهادي تنظيمونو په قطار کې يو هم حماس و، کله چې فلسطينيان په ځانګړې ډول حماس د يهودو په مقابل کې رامنځته شو، نو د نړۍ ټول مسلمانان يې چېلنج کړل ځکه چې دا د ټول امت د ايمان او غيرت مسئله وه، داعشيانو د دې پر ځای چې د فلسطينيانو سره همدردي وښايي، حماس يې يوه تکفري ډله وبلله

او د حماس پر ضد يې راپورونه او ځرګندونې خپرې کړې، دا چې دا ځرګندونې د مسلمانانو لخوا د تونـد غبرګـون سره مخ شوې او د داعشيانو څېره يې نوره هم روښانه کړه، داعشيانو د خپل شرم د پټولو لپاره ډېرې جالبې وکړې چې پدې لړ کې يې څو ورځې وړاندې يو راپور نشر کړ، چې ګواکې مونږ د فلسطين د مسلمانانو ورورنو د غـچ اخيستنې په موخه د مالي هېواد په پوځونو توغندي وتوغول، نو ماته يوه کيسه را ياده شوه، هغه دا چې "يو ماشوم بازار کې چا وهلى و، په ژړا او فرياد کور ته راغى او خپل پلار ته يې د خپلې ناچارۍ کيسه وکړه، پلار يې سخت غصه شو او د بازار لاره يې ونيوله، بازار ته په رسېدو سره يې خپل زوى ته وويل چا وهلى وې؟ ته يې را په ګوته کړه چې چاره يې وکړم، ځوى يې د قصاب په لور اشاره وکړه، سړي چې د قصاب لاس کې غټه چاړه وليده نو خپل ځوى ته په مسکا شو او زياته يې کړه اې کمعقله دا خو دې ماما دى، که خوښه دې وي دا کچالو ولا به درته چپه کړم".

نو داعش هم خپل ماما سره لاس نه اچوي کچالو (مالي هيواد ) والا باندې توغندي توغوي.

جوماتونه او خانقاوې الوزوي، او دا ډول ځرګندونې کوي چې ګواکې له يهودو يې د فلسطينيانو غچ واخيست.

کله چې عقل کډه وکړي، نو انسان دا فکر کوي چې ممکن ټول خلك به زمونږ په شان وي، حال دا چې اوس اکثره مسلمانان دا درك کولای شي چې داعش څه شی دی او د څه شي لپاره فعاليت کوي؟

❖❖❖

## د تورتم فتنه

خوارج د علماوو مخالفت کوي، او هغوی د حق له لارې څخه منحرف کړي.
دلیل: ابن عباس رضي الله عنهما خوارجو ته وفرمایل:

"أتيتكم من عند أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم وليس فيكم منهم أحد."

(نسائي: 4102)

(زه ستاسو خواته د نبيﷺ د اصحابو له منځه راغلی یم، او ستاسو په منځ کې له هغوی هېڅوك نشته.)

داعشي خوارج هم د امت د نامتو علماوو او مجاهدینو تکفیر کوي، هغوی مردود کڼي، او د خپلو ناپوهو او کم‌علمو مشرانو خبرې د شریعت معیار بولي.